# شحال ختک څه وائي؟



یکوونکی

ؤوف "بېنوا"

دافغان په ننګه مې وتړله توره

ننګيالی د زمانې خوشحال ختک یم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوشحال خټک څه وايي؟

ليکونکی

عبدالرؤف «بېنوا»

۱۳۲۹

د کابل عمومي مطبعه

# یادونه

دوه کاله دمخه مادا کتاب د یوه حساس ملګري په شخصي پیسو په هندوستان کې چاپ کړی و، هغه وخت چه دا کتاب د پاکستان له لارې افغانستان ته راتی، پاکستاني حکومت صرف په دې جرم چه په دې کتاب کې د خوشحال خان له خولې پښتنو ته د پښتونولۍ درس ور کړه شوی دی د بین الاقوامي ترانزیت د اصولو پر خلاف ئې ددې کتاب دوه نیم زره جلدونه ضبط کړل او لکه د پښتونولۍ زړو دښمنانو چه خوشحال خان یې ژوندی بندی کړی و، دې د پښتونولۍ نویو غلیمانو دده افکار په زندان کې واچول، مګر پښتو او پښتونولي حق دی او حق څوک بندی کولای نشي، نو ځکه پښتو ټولنه غواړي چه د خوشحال خان دا د پښتونولۍ درس بیا چاپ او نشر کړي. دا کتاب به هم په کابل مجله کې پرله پسې چاپیږي او هم به ځانته نشر شي. (بینوا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# پښتنو ته وایم

زه دا کتاب د پښتنو د پښتونوالۍ د پاره لیکم، او غواړم هغه ارمانونه چه د دوی د سعادت د پاره د پښتنو لوی پیاوړی شاعر او د پښتنو ملي قائد خوشحال خان خټک ګور ته له ځانه سره وړي دي، پښتنو ته وا وروم لکه د ننه چه پخپله وائي:

پښتانه چه بې ننګي کا ځوک ئې څه کا
ګورستان لره به درومو له ارمانه

ګونده وي چه پښتنو کښې ښه غوږونه او حساس ماغزه پیدا شي او د دې درد ناکو چیغو په اثر ټول پښتانه له درانه خوبه را ویښ شي.

زه پښتنو ورونو ته کومه افسانه نه وایم، او نه د دوی د نیکونو پخوانۍ کارنامې او زاړه افتخارات ور ته شمېرم، بلکه زه دوی د پښتنې ژوند هغو نواقصو ته ملتفت کوم چه خوشحال خان خټک د پښتنو د ملي مشر په حیث څو سوه کاله د مخه درک کړي وو، او پښتنو ته ئې د هغو د اصلاح چیغې کړي وې او دې نواقصو تر اوسه هم د دوی پښتونواله نیمګړې ساتلې ده او له بده مرغه ئې د دوی د قومي وحدت رسۍ شلولې ده.

پښتانه به ما و بښي که زه له دوی سره د خوشحال خان له خولې سپینې او ریښتیا خبرې وکړم، ځکه چه د پښتونوالۍ یو مهم رکن چه متاسفانه اوس ئې ډېر لږ مراعات کېږي ریښتیا ریښتیا ویل دي، پخپله خوشحال خان وائي:

ځوان وم دایم زوړ شوم په ریښتیا ریښتیا خبرو
عالم د ځان دښمن کړم که دا عیب دی هم دی وي

بله دا چه زمونږ غرور پښتانه لا تر اوسه دپیل په غوږ کښې ویده وساتلی شي بوسترهٔ ئي د افتخاراتو او بې ځایه غرور (ملهمه) دوبله شي. پښتانه باید پوه شي چه د ډیرو دنیا د ټولو قومونو مرومنه پاته قومونې او د دنیا په هیڅ اولس کښې دومره بدبختي نشته لکه تر چه د پښتنو په اولس کښې لیدلي کیږي .

ځکه چه پښتانه غواړي چه په دې اوسني عصر کښې خپل ژوندون ژوندي وساتي او پاڅاونه د دنیا د ژوند پوهو قومونو په صف کښې ودروي د دی نه خورا مهم مهم کارونه کوري او هغه ژوندون وظیفي پوره دي. د دی خدای دی نه کوی که اوس هم را ویښ نشی او هم داسی د غفلت په خوب ویده وی شک نشته چه ژر به د هستۍ له کته د نیستۍ کندې ته پرېوزي او نور به ئې پیا نوم هم خوک وانه وري .

( عبدالرؤف بېنوا )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهدأ

د پښتانه نوی نسل ته

چه

د خوشحال بابا نیمګړی

ارمانونه به دوی پوره کوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالی دزمانې خوشحال خټك يم

خوشحال خان وائی :

# پښتنی ننګه څه چیز دی؟!

غیرتی څه لوی دعوی لرم په زړه کښې
ولی څه کړم چه پښتون واړه بې ننګ دی

پښتنو چه پخوانی پښتانه څوداسی نه وه، هغوی پښتنی ننګه ترسره کول، د پښتنوالی مهم رکن بالله. د پښتنی ننګه ئې ځان واړه، هر څه چه به کېدل، خو کېدل به، مګر تېرو پښتنو به ضرور خپله ننګه پر ځای کوله، ادم و څت چه به د ننګ څېره معنی ئې نه را تلله نور نو پښتون نا پښتون سربند ؤ، نه په مال او نه نور څه ...

څوك چه به بې ننګه شو هغه د نور ګټلی او ګټو د نه پېژندو، بې ننګه سړی پښتون نه باله کېده، په بې ننګه زوی پلار او مور شرمېدل، پښتنو پېغلو بې ننګه مېړه نه غوښت، د ننګیالی پښتون به هر ځای ستاینه کېدل، او هر چا به ئې ملګرتیا او آشنائی غوښته، هر پښتون به ... که ژوند، دا زیار پوست چه بو ننګیالی پښتون شی او ... ستاینه چه دی ننګیالی سره شامل ځان متصف کړی - ننګ څه شی ؤ ؟

په پښتو او پښتنوالی کې ډېر شیان، د خپل ناموس ساتل، د خپل وطن افتخار شرف خوندی کول، او د همت لرل، بل چا ته سر نه ټیټول، خپلې خاورې ته درناوی څوك ته پر نه ښودل، د جنګ له میدانه نه تښتېدل، دچا ته سر نه کېدل، د بل احتیاج ته نه ګوتل، بل ته لاس نه غځول، خپل ګساوندی له ... مشکلاتو ساتل او کومك ور سره کول، غیرت درلودل، دخپل قوم د ژوند خیال ساتل، او نور ... د پښتنی ننګه او پښتنو ګټه قبلاو ... ننګی لرونی ئې پر ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وو، خوشحال خان خټک چه يو هوښيار مشر او يا قومي حماسي شاعر دی د پښتنو الي دا مهم ګڼ تر هر څه د پښتنو د پاره لازم او ضرور ګڼي، له پښتون په ننګ بندله وي د هغه ژوند، ژوند نه بولي، وايي:

ننګيالي د ننګ د پاره — په هر څه لګوي اور
چه په نام و ننګ اړه وي — که تل ژوي مخ ئې تور
سر په دار لګ شوي ښه دی — نه لکه شوی په پيغور

خوشحال خان يوازې د پښتنو د نيا د پاره ننګ ضروري نه ګڼي، بلکه د ټول جهان بنسټ او اساس په ننګه او شرم ټينګ بولي، که دا نه وي له پښتنی او بې ننګي شخه به د ژوندون شيرازې پسته او دنيا به د ننګه شي، دی وايي:

جهان شرم قام و ننګ دی
که دا نه وي جهان د ننګ دی

بلکه خوشحال خان هغه څوک چه ننګ نه لري له سره نر نه بولي، او وايي چه بې ننګه سړی په معنا کې دوه بې ننګه ارتيمه ده:

چه د ننګ په چار و نر نه دي خوشحاله!
که ئې نر وينې په سترګو هم ماده دی

هر پښتون ته وصيت کوي، چه په هيڅ وخت بايد پښتني ننګ ته شا نه کړي او يو ننګيالی پښتون شي نو وايي:

خوږ دی توان توفيق د سپيږی پيرو ن هغه
په هر دم د پښتانه له ننګه ونا مه

دا خو د خوشحال خان وصيت ټولو پښتنو ته و، مګر پخپله خوشحال خان څه کول؟ خوشحال خان څه عادي پښتون نه ؤ، چه عادي فکرونه ئې لرل او يا ئې پښتني ننګه يوازې د ننګه کوه بدمه کړه! د مفهوم باله، د هغه سره د پښتنو د ملي ژوند غم و، ځکه چه ده کتله چه ده ند د ملو لويه امپراطورۍ په خپرا

جوش او خروش پیدا کېږي ، او هر کله ئې د پښتونخوا غرونه او د پښتنو ملي ژوند تهدیداوه ، او پښتانه ئې وژل ، ورو ورو دې ته راکاږل چه د اتکیا او ار پنجاب بیا تر سره کړي او په هغو کښې محرومي او خپل ملي شته و الي بایلي ، تو خوشحال خان تر هر څه پښتني ننګ د مغه خپل خان نه ددې پښتني ننګې تر سره کول تا کلي او لازم ګڼلي وه چه پښتانه ویښ کړي او د دوی خپل تیت او پاشان ژوند ته ملتفت او په دې خبره ئې پوه کړي چه پښتنو ته یو قومي تشکیل لازم دی ، د پښتنو خاوره باید د بل هیواد ضمیمه نشي او د پښتنا نه د الوی قوم د بل چا تر حکم لاندې نه دي ، رښتیا هم داده چه په هغه وخت کښې دا مفکوره خورا لویه پښتني ننګه بلله کېده . تو ځکه خوشحال خان دې لوړو افکارو نا قراره کړی و ، او د دې افکارو د عملي کولو د پار سرګردانه ګرځېده او غوښته ئې چه پښتون قوم بیدار او په خپلو افکارو پوه کړي ، دې وائي :

چه نه لري ننګونه		وئې مه وینې رنګونه
دا د ننګ د پاره ګرځم		په دا هسې ګړ ننګونه
سد رحمت را باندې شي		په دا هسې آهنګونه

مګر خوشحال خان بې تجربې او ناتمسرې نه و ، بلکه پوخ سیاسي و ، په کار کښې ئې تلوار نه کاوه ، د خپلې مفکورې ، د عملي کولو د پاره ئې ډېر وخت ته ضرورت و ، تو ځکه ئې د بلا ډېر ګه وروسته چه دی د قوم مشر شو د هند د مغولي پاچا شاه جهان له اطاعت سر و نه غړاوه ، خو سره ددې هم پښتنو په خپل منځ کښې پوره استقلال درلود او خوشحال خان د پښتنو د پاره هیڅ وخت د بل چا مرئي توب نه خو بناوه او نه ئې مانه .

شاهجهان هم د پښتنو خاموشي غنیمت ګڼله د پښتنو په داخلي آزادۍ ئې غرض نه درلود ، مګر په (۱۰۶۹) هجري کال چه اورنګ زیب عالمګیر د شاه جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قبایله زوی ، چه خیل پلار ئې د خپل ذاتي غرض د پاره بندي کړ ، او پخپله په تخت کښېناست او د پښتنو داخلي آزادي ئې هم په دې شرط چه نه لیدله ، او هر کله به ئې غیر حق مداخله کوله ، دې مداخلې پر خوشحال خان او نورو ډېرو پښتنو ډېر بد تاثیر وکړ او خوشحال خان ئې مجبور کړ چه اورنګ زیب ته ویاخېږي او خپله هغه پښتني ننګه چه تر اوسه ئې پټه ساتلې وه په ښکاره پر ځای کړي ، ځکه چه خوشحال خان د هغه په نیت پوهېده چه دی غواړي پښتانه د ځان مړئي کړي ، او ددې له پاره ئې نو سره کله او په هغوی کښې ئې ورک کړي ، او د هغه سره ئې په ښکاره بر خلافي شروع کړه او په هیڅ رنګ ئې هغه ته سر نه ټیټاوه ، هو! یو پښتون ته دا زغمل ګران دي او په بې ننګۍ نښته چه خپله پښتنواله او قومیت پرېږدي او د پردیو دښمنانو تر لاس او تابع شي ، خوشحال خان خپله قطعي فیصله داسې اعلان کړه :

بله هیڅ لیدله نشي په دا منځ کښې
یا مغل د منځه ورک یا پښتون خوار

اورنګ زیب چه د خوشحال خان په نیت خبر شو ، او پوهېدی چه دغو ښته په لاښو او شاړو خوشحال خان د بیره وي ، مګر خوشحال خان خود و ریږي سړی نه و ، بلکه د پښتني ننګې پر ځای کولو د پاره ئې خیل سر او ژوند تېر شوی و ، د دا اورنګ زیب خبره په څه تاثیر پرې کړي شي ؟ خوشحال خان ته دا خبره د او مغو چه د پښتنو دښمنان هېڅکله په دې نه راضي کېږي چه پښتانه دې د یوې ملي حلقه ملي آزادۍ خاوندان شي او خپله خاوره دې له هرې خاوندې شخصه خلاص وساتي ، [illegible] پښتنوالي قانون [illegible] چه پښتانه [illegible] لاندې شي او غیر له پښتون [illegible] [illegible] پښتون و [illegible] پښتنوالي [illegible]

وایي چه بله لار نشته، یا به د پښتنوالي دښمن ور کوي، او یا به تاسي ور کېږي، او دا فیصله به هم د توري په زور عملي کېږي لکه چه وایي :

پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي

بې د توري خلاصي نشته په بل کار

خوشحال خان د پښتنو توره ستایي مګر توري ئې د ځینو پښتنو ناپوهي سترګو ته دربېږي او په دې خبره خپل افسوس ښکاره کوي چه دوی خو هوښیار نه دي، زړغو لیږي مبادا چه دښمنان ئې د خپلو ناوړو غرضو د پاره استعمال کړي او له او دوی به هغې اوچتي مفکوري څخه چه خوشحال خان ئې عملي کول غواړي وګرځوي نو وایي :

تر مغلو پښتانه په توره ښه دي

که په پوهه پښتانه وي څه هوښیار

هو ! ځینې پښتانه خواران د خپلې ناپوهي له لاسه همېشه د بل د پاره استعمال شوي دي او استعمالېږي، پښتانه قوي او پهلوانان دي مګر د دوی قوت او پهلواني د هر وخت د نورو د فائدې د پاره صرف شوي دي، پښتانه له جنګه تېښته نه کوي مګر جنګ ئې د هر ځل د نورو د ګټې د پاره وي، پښتانه د مرګ سره په خورا خوښۍ مخامخ کېږي خو د هر ځله ئې مرګ د بل چا په خاطر وي حتی کله کله ځني پښتانه د مره ناپوه کېږي چه د بل په غولولو د خپل ملیت او د خپلو ګرانو پښتنو ورونو د مفاد پر خلاف استعمالېږي، دا له دې جهته نه دي چه دوی قصداً دا کار کوي بلکه پښتانه د پر په زړه او صاف خلک دي، هر وخت چه پردي شیطانان د دوی په رګونو ننه وزي نو دوی غرو لوی او د دوی د ضمیر د صفائي څخه بده استفاده کوي. د پښتنو دښمنانو غوښته پر پښتنو حکومت وکړي مګر پښتنوالي دا نه منله، نو خوشحال خان مجبور و

د پښتنوالي د قانون تابع اوسي ځکه چه پښتون و او پښتون باید خپل ځانته قومي آزادي درلود: لاس اورنګزیب چه د پښتنو دا حق نه مانه خوشحال خان ملي مخالفت درلود چه مقابله شروع کړی او دې ملي مقابلې ته پښتانه راوبولي او ور ته ووائي :

په دا هسې وخت چه وخت د ناموننګ دی — دا بې ننګه پښتانه کاڅه قرار ؟
مرګ ځما په پوهه ښه تر دا ژوندون دی — د عزت سره چه نه وي زیست روزګار
آفریدي، مومند، شینواري ګوره څه کا — د مغلو لښکر پروت په ننګرهار

پښتنو زلمیانو چه د خپل ملي مشر دا نارې د اورېدلې او پوه شول چه رښتیا پښتنو ته یو مستقل آزاد ژوندون او قومي حکومت لازم دی او پښتانه باید د بل تر حکم لاندې نه وي او نه باید د دوی ګرانه پښتونخوا د پردې د حکمې ضمیمه شي، لولول په یوه سلا په خوشحال پسې رڼان شول او د خپل ملي مقصد او پښتني ننګې د پاره ئې ډېرې ډېرې قربانۍ ورکړې او د اورنګزیب په زرو لښکرو سره ئې سختې جګړې وکړې چه خوشحال خان هم د خپلو ځوانانو قرباني ستائي:

ما په ننګه د پښتون ځوانان قربان کړه
بیا مې غوره جمع ښه ځوانان کړه
چه په شپه راسره تول دو . به زر ګونه
په سبا ئې له ما واده ځان په ځان کړه
د سرې د لاسه سره وي څه به ښه ؤ
لیونی ګوته سری مره ګوره شهران کړه
چه شاهان ځوانان مې و مړل ها له مرد یم
که دهر یوه مې سادی سل ډمان کړه
سیز خودا په خوشحال و شوه بیا تر کاله
ګوره څرنګه ښکاره شي د سبحان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څه مودې وروسته اورنګ زیب ته دا ثابته شوه ترڅو چه خوشحال خان آزادوی پښتانه په زور او په قوت ماتولی نشي ، نو له دې جهته د فریب او دروغو او تیتال دلارې ورته راوړاندې شو ، په خوږه ژبه او احترام ئې دربار ته دعوا کړي دپاره د غوښتنې قسم او قرآن ئې ورسره وکړ ، که څه هم خوشحال خان تجربه کار سړی و ، مګر اورنګ زیب د دغینو خپلوانو ته په رشـوتونه ونښتل چـه خوشحال خان راضي کړي ، هغوی چه هم بنامه پښتانه خو په خوی اینګیان وو ، دپیسو په عوض کښې ئې خپله پښتنی ننګه ترشا کړې وه خوشحال خان ته ئې د پراسرار وکړ چه ضرور دعوا کړي د پاره د ډهلي ته لاړ شي ، خان د اورنګ زیب په قول او قرآن او دخپلو بې ننګو خپلوانو په مشوره باور وکړ او پوازې پښتور ته ولاړ ، هلته د پښتور حاکم د ډهلي د دربار په اشاره داد پښتنو ننګیالي مشر بندي کړ ، او تحت الحفظ ئې ډهلي ته واستاوه ، خوشحال خان د خپل دغه بند قصه په (۲۲۰) بیتو کې د بلې د څنګه چه دا قصه په نظم او اوږده ده نو د لته د هغې خلاصه په نثر لیکـم !

د "جمعې شپه ده" خوشحال خان دسهار خواته بدخوب وینی ، له خوبه راپاڅیږي ترغسل وروسته سنت ادا کوی ، خلک په آرام خوب ویده دي ، خوشحال خان پوازې اشرف خان ویښوی او څه نصیحتونه پرې د..غه لیـکـلی ور کوی ، فرض لمونځ په مسجد کښې ادا کوی پر خپل آس چه "سیلی" نو میږی سپور یږی او د پښور خواته دهغه ځای د حاکم د غوښتنې په اثر پوازې روانیږی «جمدرو» ئې را اخیستی دی په «نوښار» کښې نمړ باندې را خیژي.

څاښت "پېښور" ته رسیږی دهغه ځای حـا کم ته سړی استوی چه زه راغلم څه وخت حاضر شم او څه کـار دی ؟ ځواب ورته راځی "ښه شوه چه راغلې ، سبا دیوان ته راشه ! ، خو دا ګیډی خرحا کم دري ورځې در بـار نکـوی او خوشحال خان هم په ځان خبر نه دی چه کیفیت څه دی ؟ د ګجرات شیخ

چه د حاکم په لاس ؤ ، او ډېر کړېده حفظ ئې دراود . خوشحال خان ته وايي ! ! ترمار اشه چه مشوره سره و کړه بيا به ثواب نه لحو ! ! خوشحال خان به پاك زړه په ټوري ورځي ، فوری ننه خوا سپاهيان پ....ندي را کړو خسی او خوشحال خان ئې مفت په لاس کښېوزي :

لوی په اورمغل ترما چاپېر شـو په هـنر

مفت ئې په لاس ڪښېو ئم په حکم د قدر

کوزئې کړم له کوته چه ئې کښېوتم په جا .

زرئې نا په ښو کړی په ښخ ..... کوتوال

د پښتنو ننګيالي مشر بندي کيږي ، دا خبر په پښتنو کښې خپرېږي او هر څوك حيرا نېږي ، دې ورځې وروسته د ننګيالي خوشحال خان ځيني بې ننګه ترونه چه پښتني ننګه ئې ترشا کړې وه دښمنانو ته ورځي آسونه او نور خلعتونه اخلي ، مګر نور ننګيالي او وښې پښتانه دغليمانو مرګ ته تيارېږي او غواړي چه دمغلو په مقابل کښې د پاڅېږي ، خو په دې له خوشحال خان ئې منع کړي او ور ته وايي :

«په شرا وشور کښې فايده نشته ، او لس تباه کيږي بايد له صبره کار واخيستشي !» د وي مياشتې په ښور کښې بر تېرېږي ، وېدار له خوشحال خان څخه ښځوس زره روپۍ غواړي مګر د خوشحال خان غيرت دا چېر نه منـله چه پيسې ور کړي ، او خان آزاد کړي . لوا يي :

د غوښتې ښځوس زره روپۍ به صو بـه دار

ماوې در به نکړم يو پوچك نسه يو دينار

وروسته صوبدار د خوشحال خان دېي ننګو ترونو په مشوره د پښتنو قومي سردارهند ته ليږي د بار (پيښور) څخه ئې باسي امرتي . شپه دشاپيگ خان په رباط کښې [illegible]

«خیر آباد» ته څی له هغه ځایه د اټك ز سیند پوري وزی بیا «پیره» او «باباحسن ابدال» باندي ورځی او له هغه ځایه ز «پنډی» ته او له پنډی نه «ګګر تال» ته بیائی او په سبائی «لاهور» ته رسیږی په بای ګښې د دروزي دمیاشتی منځ ته په ۱۰۷٤ هجری ګال د دهلی دربار ته ورځی! نو دیر سوال وځواب وروسته په ضمانت خلاصیږی مګر د وطن اجازه نه ور ګول کیږی د کوتوال د کور تر څنګه یو کور ورکوی چه هلته اوسی د شوال په میاشت کښی د سید میرزا کم خط ور پیر ته راځی چه :

مه پیر پیږدیء خوشحال دده پر ښیو ول دی اختلال
بیا به منځ کښی پروورت د خلاصی به د پیر جنجال

د خوشحال خان ځای تدبیر ګوری او بندنی سختیږی، تر پنځو میاشتو بند وروسته اورنګ زیب وایی چه «خوشحال خان به خلاص کړم خو چه خپله کله له پښتونخوا څخه دهلی ته راولی!» امیر خان دی، کوم غوادی په دي وخت کښی اشرف خان د خان زوی د مغلو حاکم په کابل کښی بندی کړی دی، تر څه مودي وروسته خوشحال خان «رنتبور» ته لیږی، هلته وا یی :

څو میاشتی په بند وم په دهلی کښی به عنا
اوس په رنتبور کښی بندی پروت یم پسکتنها

خوشحال خان د پښتنی ننګی دپاره څلور کاله بندی کیږی او خپلی سهوي چه دده د بند سبب شولي داسي ګڼی :

خدای و کړي دا چاري په ماوادهء و کړي زده
څو چاري غلط شوم چه می لوی کړ، احمق تره
بل چه دده لور مېي امر ا تــه ګړه وا ده
بل چه می په کور کښي څه کښي ته نبول سپین سره

بل مې چه یو کوټ محکم بنا ئـه کړ په غـرهٔ

بل چه مې په تـوره په خدمت غرور کـا وه

بل مې چه مغل په ور کړمـر کړلـه غـولاوه

بل مې چه په وخت دنیـوو ملـك نـه ولاړه

بل مې چه قـوت دیـو سفـر بـو ور کـا ده

بل مې چه پـه اصل غوز یا خپل پښتون کـانه

دغلو زو کلو ورو ستـه ایله کېږي، مګر هره ورځ به په دربار کښې حاضري ورکوي او دخوشحال خان آزاد روح په دې قید سخت ترفشار لاندې راځي، په ۱۰۷۷ هجري کـال درجب د میاشتې په ٤ داسې شکایت کوي:

هره ورځ ورته دربار تـه  ګـرځ ره دا څـه مشـقت دی

دبل حکم بري زندان شي  چه پـه خپل حـکم عبـادت دی

نه شیرین خوازه یاران شته  نـه د چـا سـره صحـبت دی

نه خپل ور کړل رانیول شته  نـه خپل حـکم حـکومت دی

په پای کښې په «آګره» کښې د خپلو نورو ننګیالیو خپلوانو په ملګرتیا فرصت مومي چه وطن ته ولاړ شي او بیرته د پښتنې ننګې ترسر کولو موقع پیدا کړي!»

داد خوشحال خان د بند هغه قصه ده چه ده پخپله نظم کړې ده، مګر ده د بند په وخت کښې هم پښتنې ننګه هېره کړې نه وه، او په جېل کښې ئې هم دلخینو بې ننګو پښتنو د ښوولو دپاره د پښتنولۍ له درده ډك اشعار ویلي دي، مثلا په (۱۰۷٤) هجري کـال د برات په میاشت چه ئې خوشحال خان بندی د لاهور په سینه تېراوه، ده د پښتنو د انتقام حس په دې الفاظو وېښاوه:

زماني له ښو یارانو نـه مهجور کړم  څه بلا ئې مبتلا په تو بر ضرور کړم

زره واده پښتونخوا په ځای میشته ده  خو یوزه دې زماني په کښې منصور کړم

مرګ که هومره مهلت را کړه په جهان کښې      چه اجمدره دمدعی په وینو سور کړم

که ئې درست د مېږو زور را ته ښکاره کړ      بیا فلک سره کښتی په خپل دستور کړم

نه به بیا په غاړه کېږدم د ننګ توره      نه به بیا په قوم کښې کښېنم اه به هور کړم

عجب مار مې چارو تلی نردوه پېرودی      مګر لوی باد و بیداشی چه ئې دور کړم

مست ماتیان خونی مزری په ځنځیر کېږی؟      بو یه د اچه ځان فلک وته نر بور کړم

په خپل آه مې باورشنه اثر به وکا      رقیبان به اور لرو لی دننور کړم

تر بر کال بند وروسته ځینو نا پوهو پښتنو نه لـه بندی خـانی څخه

دا پیغورونه را استوی :

همه خدای چه بندی کړی دی خوشحال      هم همه به ئې خلاصی کا په هر حال

ناموننګ ناموس که داد افغانی وی      چه ښکاره ئې شو په داد ور احوال

مخ د درست غوری دی نورشی په تیږه      بیا د وا ړو پښتو ژبی پـه دنبـا ل

که د سمې که دغره دی یوسف زیه      همګی مزری دی مه ئې وه ز و ل

د خپل ځان صفت به نه کړم چه زه څه یم      لرو بر واده رو بـاه دی پـا شغا ل

که خوشحال خان ختک وار بیامو ند په جهان کښې      خو د بهو و ینې ددې چا ری مآل

ما په خپله په ځان کړی دی دا چاري      چه مې ور کړه ورنا اهلو دا منـال

که په نحس طالع بند شوم عیب نشته      کله کله تـند ر هـم لیسی هـلا ل

چه همېش په یوه حال وی همه خدای دی      په سر بو باند ی تل نه وی یو حال

څلوېښت کاله مې خوزه کامرانی و کړه      څه شو چرخ که مخالف شو یو نیم کـال

نه پر کېږی نه فریاد کا نه چیچل کا      هر هو ښیار مرغه چه لاندی شی نرجال

پښتا لـه لره منصب نـه دی غضب دی      چه تـلا ئې دا ځا فو کـا لا ئې دال

که هزار کاله دی پښتون مغل به اشی      بویه داچه له زړه و باسی دا خیال

شماتي دمزري روغه که څوك غواړي — هيڅ د دې خبرې اشته احتمال
پښتانه لره شرې له انډ پرې نه شه دي — نه انو ستي دمغل دهجرې شغال

کوم وخت چه اشرف خان هجري دخوشحال خان زوی جيلخانې ته خپل بلار ته خط ليږلی، خوشحال خان په څه مثنوي هغه ته ځواب ور کوی، او له کلامه ئې څرگنديږي چه دهند دمغلو ديرو مظالمو هم د خوشحال خان څخه پښتني ننگه هيره نه کړې نده او د پښتنولۍ هغه غرور ئې په سر کښې دی چه بايد دهر صحيح پښتون په سر کې وي : هغه ځواب دادی :

په مړدن پروا دا ژنه يم — په زندان پروا دار څه يم
اشرف خان دی رانه کښلی — څه خو خوني په خط ده يم
پنځه مياشتي يم په بند کښې — بيا با ترې دا ده په ژړه يم
ژو به ما خو غم د تا کړ — چه نه شه ئې زه خو شه يم
چه فلك سره سر يا سي — په همت کښې هغه زه يم

په هر صورت خوشحال خان چه له بنده خلاص شو او بيرته وطن ته راغی، نو بيا ئې د پښتنو د خپلواکۍ تحريك شروع کړ او خپل هغه ويني ژلميان ئې په هر لوري ته تيت شوي وه، دوباره پر ځان راغونډ کړل او په ټينګ عزم د دښمنانو مقابلې ته پاځيد، داځکه چه خوشحال خان خولا لمړی هغه وخت چه بندي نه و، دمغلو وزيرانو په نيت پوهيده چه هغوی دپښتنو د بربادۍ خيال در لود، د پښتانه ئې نه پرېښود چه ځانته خپل قومي حکومت او تشکيل بجوړ کړي او يا مستقله آزادي ولري نو پښتنو ته وائی :

پښتنو سره ژړه ته پر د بې د مغلو — خبر دار ئې به ليتونو بلك په يك يم
له سره له ناسره پرا نه معلوم دي — په نا کار کښې په معنی لکه مخاك يم
په ناحق ئې په زندان کړم چو څو کاله — خدای ئې خبر دی له بخپله گناه پاك يم
هغه ژ ... چه د ... لامخي نه وي — چه ئې ښا په هغه ژبست پوري مالك يم

په خپل نام و ننګ چه راشم لېونی شم
خبردار کله په سودو زیان دلک یم

چه په طمعه داوږدوز غلی وشت نه
ګمان مکړه چه هغه نادان سپک یم

و بېناو ته سور مهر یم د زرو
په دلیل د نابینا لکه بوچک یم

هیڅ له قدره می و ګړي ې خبر نه دی
که رښتیا وایم د سترګو سرد ملک یم

لکه باز په لوی لوی ښکار زما نظر دی
نه چه ګرزی ګونګټ نیسی باد خورک یم

چه په غوښو ئی روزګار هغه مزری یم
نه چه ولی دوښو خوری هما مبرک یم

په دا سپینه زیره شرم عزت ښه دی
څه به نوری جاری کړم مګر خوردک یم

چه منصب می د مغلو خود یو ملک وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملک یم

د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
شکر دا چه پخپل حکم پخپل وک یم

له تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر دستمد نه دد ستک یم

هر کیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه دسر یا توره یا کوتک یم

پښتنا نه لره شري انډ بريد بس دی
نه په فکر د مسند نه د توشک یم

آزادی ده په ساده سپینه جامه کښې
خلاص له غمه د زربفت او د میلک یم

د وښو جو نګری هسې راته ښې شوې
وابې ناست په محلو نو د آهک یم

که او کره د ډېو شنه په شلو نبو سپینه
د مغلو پلاو پانه د ډېر چړي ډک یم

چه نیولی مې د اهو د ننګ و نام دی
که له خپله هوډه وا اوړم کنیز ک یم

په بل غشی په توپک ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل توپک یم

ن خو قام راسره د ډېره جفا و کړه
کاندۀ بیاد خدای د حکم و ته څک یم

که خټکو را ته شا کړه مخ ئې تور شه
زه بوازی په تکیه د خدای شهرک یم

مهمندی زما د کښي لاس د ښني دی
راضی من د اپریدیو په ککو ملک یم

کرلانی ، خر بنی خو چه پښتنا نه دی
زه د ننګیالیو کاراله وادو مشترک یم

د ډېری چیني چه ترواش و کا دریاب شي
چه لیده شم ادس خو دایم بو ډلک یم

کډمی عمر په شمار ه نر شپیته تېر دی
لا په کار دسوارۍ لکه او ځوان یم

دافغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زماني خوشحال خټک یم

خوشحال خان دمتجاوزینو سره دپښتني ننګ دپاره مقابله شروع کړه ، ډېر سخت سخت جنګونه ئي ورسره وکړه ، ددې پراوزه دپښتنو ننګیالی زلمیان هم ولاړوه ، چه دپښتني ننګي او د پښتنو د آزادۍ دپاره ئي په خپلو سرو لوبي کولي ، ځکه چه پښتني ننګه دداود ننګي په کار کېږی خوله قندهاره تر اټکه ټول پښتانه یو شي . نو پر متجاوزینو ئي تاتار جوړ کړ او په لومړي جنګ کښي ئي خپلو پښت زره تاریه تار کړل ، دا ځکه چه خوشحال خان پښتنا نه پوهولی وه چه دښمنان غواړي پښتانه تباه او دخان غلامان کړي او بائي ئي دتورو دبرازو نه ودروي نو پښتنو چه هیڅ وخت دچاغلامي منلي نه ده دغیرت اوننګ وینې ئي په جوش راغلي او دخپل استقلال دپاره چه ددوي طبیعي حق و ، توري له تېکیو راوېستلي او دپښتني ننګ دپر ځای کولو په غرض دزورور دښمن مقابلې ته وړاندې شول . پنځه کاله ئي ډېر سخت جنګونه له دښمنه سره وکړل، او دخیبر دره ئي ددښمنانو په وینو سره کړه . څو په پای کښي اورنګ زیب په خپله مجبور شو د پښتنو جنګ ته راووت ، او یو کال دا ټک په غاړه پروت ؤ . خوشحال خان داورنګ زیب دغښتلو لښکرو سره هم اوزه ور کړه په خپله دی وائي :

( اورنګ زیب راغه یو کال وشو چه پروت دی
به صورت حیران پریشان په زړه افکار

د پښتنو د ننګیالیو ځوانانو توره او ځینې مشهور جنګونه داسې بیانوي

پښتنو ځلمیو بیا لاسونه سره کړه

لکه باز منګلې سرې کا پخپل ښکار

سپینې تورې ئې ګلګونې کړې په وینو

په اهاړ کښې شګفته شو لاله زار

د خیبر دره ئې سره کړله په وینو

په «کړپه» ئې هم روان کړ دند و کار

تر «کړپه» تر «باجوړه» سمې غرؤنه

په لرزه په زلزله شول په بار بار

په هغه لوری چه کیږی پنځم کال دی

هره ورځ د سپینو تورو روخر پرهار

درست پښتون تر «قندهاره» تر «اټکه»

سره یو د ننګ په کاریږي و آشکار

اول جنګ د اورنګ شاد «تهتر» و

چه ځلو ښت زره مغل شول تار په تار

خو بندي لونی ئې په بند د پښتنو شوي

آس، اوښان، هاتیان اولچه قطار قطار

دوهم جنګ د «میرحسین» په «دوآبه» کښې

چه ئې وتښتېده سرلښکه د مار

بیا له پسه د «نوښهره» د کوټ جنګ و

چه مې و کینې تېر مغلو خپل خمار

بیا له پسه «جسونت سنګه» «شجاعت خان» و

چه «ایمل» ئې په «ګنداب» ویوست دمار

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپیژم جنګک «مکرم خان» و «شمشیر خان» ؤ
چه «ایمل» کړل په «خایبر» کښې تار په تار

چه زما په یاد دي لوی جنګونه دا دي
د هلکو په هر لوری نشته شمار

همیشه فتح و نصرت ده لاتر او سه
پس له دا ده بیا تکیه په کرد ګار

اورنګزیب راته پوکال وشو چه پرت دي
په صورت حیران پریشان په زړه افګار

کال په کال ئي امراګان دي چه پر یوزي
لو فانی چه شوي لښکري کوم ئي شمار

خزاني د هندوستان دي را خپري شوي
سره مهران دی نغوزی په کو هسار

دا د هیچا په اتلس فکره نه وه
چه به دا کار رونه شي په داد یار

د باد شاه دبد نیتي نه څه کمي نشته
په بدنیت ئي آزار واخیست د خپل پلار

بله هیڅ لیدله نشي په دا مڼځ کښې
یا مغل د منځه ورك یا پښتون خوار

که ګردش د اسمان دا دی چه لیده شي
که دخدای رضا په دا وی را غي وار

نر مغلو پښتانه په نوره ښه دي
که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار

بل وخت چه شینوارو او اپریدیو او مومندو پښتنو د خوشحال خان تر مشرتوب لاندې د دښمن لښکر ته ماتې ور کړه او طوفان ئې پرې جوړ کړ، د هرې اولجې او اسبابونه ئې ځنې ونیول نو خوشحال خان پښتنو ته وایی :

څه شینواری څه مومند څه اپریدی وه
چه ئې مات کړ د صوبې وا ده لښکر
دا طوفان چه په مغلو باندې ساز شو
په کښتن به او لجو هیڅ مکړه نظر
که آسونه که فیلان که اسبابونه
په انبار انبار سپین زر وه یا سره زر
دا کینه به بویه سله زرې و باسی
که ئې لاس شی په جمله پښتانه بر
پښتنو څخه که شته څه عقل پوهه
ایل یاغی دی ځینې ګړا ندی اوس حذر.

متجاوزینو چه د پښتنو زور ولید، پوه شول چه پښتانه په توره ماتولی شی او نه په زور ور باندی حکمرانی کولای شی نو د بلې چارې په فکر کښې ولوېدل، هغه چاره داوه چه پښتانه په روپو د خان کړی او لکه د خوشحال خان په بند کښې چه ئې له پیسو کار اخیستی و، اوس هم له دې لارې د خوشحال خان ملی منګوره سسته او بې اساسه کړی نو پښتنو ته ئې رشوتونه شروع کړل داوخت و، چه ځینو نا پوهو پښتنو پښتنی ننګه هېره کړه او پښتنوالی ته ئې شا کړه، خپل پښتنی ننګ ئې په پیسو خرڅ کړ او بې ننګی ئې وا خیستله او په خپله د خپل کور ورانی ته چمتو شول، پښتو ئې و شرموله او دېپت ور باندی پاته شو، د خپل ملی مشر خوشحال خان ملګری ئې پرېښو وله د دښمن ملاتړ شول؛ تېښته دې وی خدای ته له داسی نا پوهو پښتنو څخه !

هو ! پښتون هیڅکله په جنګ کښې له مغلو بیږی نو څو چه په خپله ځانه نه بلا نشی، او هیڅ دښمن پرده بری نه دی موندلی مګر په چل او فریب په پښتنو کښې چه هر خت داسی ناپوه پښتانه پیدا شوی دی چه خپل ځان ئې په پیسو پر بل خرڅ کړی دی په هغو د پښتنو کور وران شوی دی ؛ د هند مغلو هم د پښتنو د بربادۍ د پاره دا ښه لاره وموندله او ځینې پښتانه ئې په رشوتونو او منصبونو وغولول او په خپله ئې په منځ کښې سره واچول ، خوشحال خان چه له یوې خوا د متجاوزینو کمزوری لیدله او له بلې خوائې د هغو دا چلونه کتله، نو داسی پښتنو ته ئې ویل :

مغلو ته چه ګورم هغه هسې مغل نشته
د تورو وار ئې تېر شو اوس د ریا ته یو قلم دی
پښتون په زرو نیسی په فریب په تیټا لو نه
په مانې اثر نشی لا په ما د خدای کرم دی
له هیچ یم، له کار که چه به په ګوډو مړ د ګرزم
باز یم باشاهین یم په خپل ښکار می زړه خرم دی،
که ماغوندی نور هم وی په دا کار به د پر خوشحال وم
چه ماغوندی نور نشته ځکه پروت را باندی غم دی

مګر د ځینو پښتنو سترګی د دښمنانو رشوتونو داسی بندی کړی وې چه نه ئې خوشحال خان په سترګو لیده او نه ئې خپله ناپوهی او بې ننګی؛ فقط سترګی ئې دښمنانو په دسترخوان کښې وې او نور ئې هر څه ترشا کړی وه، هغه زندۍ چه دښمنانو د پښتنو د مرګ د پاره تیاره کړې وه دې بې ننګو پښتنو به خورا فخر خپلې غاړې ته په خپله اچوله ، خوشحال خان به ویل :

دا منصبونه دا انعامونه — واړه زندۍ دی واړه دامونه
پښتون مغل به سره دوست نشی — خوشحال ئې مه وینه دا انعامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان حیران و، چه څه چاره وکړی ، ځینې ناپوه پښتانه خود دښمن په منصبونو پېښي لیونی شوی وو، څه سدا ونقل ئې په سر کښې پانه نه‌و ، نه ئې پښتني ننګ په یاد و، او نه ئې د پښتنو الې نوم ، رشوتونو ئې توره له لاسه غورځولې وه نو ځکه خوشحال خان مجبور و، دې پښتنو ته طعنه ور کړی :

لېونی شول پښتانه په منصبونه
خدایه ! ماژغوري له هسې غضبونو

پښتانه لره لوی عیب دی که ئې ګوري
چه نازیږی د مغل په لقبونو

شرم ، ننګ ، نام و ناموس ئې په باد لاړی
خوویل کا د منصب د هېبونو

پښتانه که جنګ مغل سره په تیغ کا
هر خټک تیوی د مغل تر چلبونو

د خټک د ننګ بچی که نشته خوشحال اه !
لاو تلي دی له کومو نسبونو ؟

هر څومره په چه د خوشحال خان طعنې زیاتېدلې هغومره به د پښتنو د دښمنانو رشوتونه او لقبونه ناپوه پښتنو ته د ېرول ! په دې وخت کښې خوشحال خان په ډېرو سختو الفاظو پښتانه ترټل او ورته ویل ئې :

د خپله قومي آزادی او د پښتنوالی دنیا او د پښتو نخوا ځکه مو د دښمنانو په زور بایلله ، څومره ناپوه یاست چه اوس له باره سره کور ته درغلي او تاسې د اوس دغاډې ګنډکړی او ز غیږه او لجه کوی ! ځکه چه دوی د څو پیسو په مقابل کښې د خپلو قولو ملي مقاصدو او افتخاراتو تېرېدل او خپل ځان ته ئې مستقل قومي حکومت چه ترلو. پښتنو یکښې د سر لوړی ژوند کولای نه‌جوړاوه نو ځکه خوشحال خان افسوس کوی چه د ومره ډېر پښتانه چه بوسر ئې په قند هار بل ورد مغار دی څنګه عبث پراته دی وایی :

بادشاهي ئې د مغل په زرو بايله / د مغل د منصبونو په هوس دی

ادنې له باره په خپل کور کښې ورغلی / په او اچه داوني د غاړې د جرس دی

بې ننګان د بې ننګۍ په کار و بار کښې / ننګيالي د ننګ په کار کښې هر نفس دی

سر ئې هوری «قندهار» بل ئې «دمغار» دی / تر دا منځ همه ميشته واړه عبث دی

دلته چه له ځينو نا پوهو پښتنو څخه هرې خوا ته بې ننګي ويښ او د پښتنو هره طايفه

ځانته ځانته ترقي او په ډېرو سختو الفاظو ئې تنبيه کوی وايي :

«تيرا» مې وليده راغلم تر «سواته» / پښتون مې وليده دالوی لوی ذاته

عقل همت مې د چا ونه ليده / په بيا ر ته راغلم فاست يم ملا ما ته

دا ځکه چه ځينو ساده د پښتنو د ښمنانو سره په زيست روز ګار ګډ شوی او خپل پښتني

ژوندئې شاته کړی و ، خيله بادارئ ئې بايللې وه او ډېر ديو تو ګران شوی وو ،

او بائې خپنې ورسره کړې وه . رښتيا چه پښتنو ته ډېر شرم ځای دی ، چه هغه

چا ته لاس به نامه به سلام ولاړ وی کوم چه غواړی پښتانه د ځان غلامان او ځمکه

ئې د ځان مستعمره کړی .

د پښتون د قوم هره خطا او ګناه به وربښله شي مګر يوه ګناه ، هغه دا ده

چه دوی خپله آزادي پرېږدی او د بل چا تر لاس لاندې ژوند منی .

خوشحال خان ترهر څه ځينو نا پوهو پښتنو ته پردې خبره ډېر په قهر دی

چه دوی د خورا پست او کښته مطالب دپاره خپل لوی ملی مقصد پرېښې دی ،

د دوی ملی مقصد خورا جګ او مقدس دی ، ځکه چه خوشحال خان غوښته

د پښتنو يو مستقل قومي حکومت جوړ کړی چه ټول پښتانه پکښې په آزادۍ ژوند

وکړی ، او دا په هغه وخت کې د پښتنو دپاره د ژوند او مرګ مسئله وه او اوس هم ده ،

هو ! پښتنو ته چه (حقيقي پښتانه وی) د ډېر ديو تر لاس لاندې ژوند کول مرګ دی ، کوم

پښتانه چه په زښتیا پښتانه دي هغوی هیڅ وخت غیر له پښتون مشره د پردیو مشرانو تر حکم لاندي ژوند نه تېروي بلکه داسي خبره دخان مرګ ګڼي خو افسوس ځیني ناپوه پښتانه دومره تېږي چه دخورا کښته مادي غرض دپاره خپل ملي او مقدس مقصد پرېږدي او دخو تنګو او پیسو دپاره دپردیو نوکران او غلامان کېږي او دنورو دمطلب دپاره خپل غښتلي زلمیان وژني او قربانوي ئې، دځینو ناپوهو پښتنو داحال ډېر افسوس وړدي او پښتنوا له پر داسي ناپوهانو بېخي او نفرین وايي، چه هغوی ولي دخپل ژوند او آزادۍ دپاره خپل زلمیان نه قربانوي چه دنورو دګټي دپاره ئې وژني. خوشحال خان چه ځیني داسي ناپوه پښتانه ویني چه دپیسو دپاره تر خپل ملي حکومت او آزادۍ تېرېږي او دنورو مستعمره کېږي نو په خورا قهر وايي :

که کعبه که ئې قبله دخو تنګه ده — په پیسه پسې به درومي تر فرسنګ
که پیسه دملنګي په لباس مرومي — مصلې به د ګیدړ ګا پسې لنګ

بل ځای داسي په هور ورکوي :

څه یوازي ننګ په ما راغلی نه دی — پښتانه ډېر دي په غرونه په سمونه
یا به واړه دمغلو درم پرېږدي — یا به زه هم په لاس واخلم درمونه
چه بورا خوري دمغلو اوړه سپي دي — دسګانو په خوله څه اخلم نومونه

خوشحال خان وائي چه دښمنانو ځینو ساده ګانو پښتنو ته دحلوا تال ایښي دی، که دوی پښتانه وي باید مچان نشي او خپل اصلي مقصد پرې نېږدي نو وائي :

پښتانه له که مګس وربانديې ګرزي — ورته ایښي دمغل د حلوا تال

او ځیني ساده پښتانه بد بختان هم هیڅ دي پردی لاس ته ملتفت شوی نه دی که نه وی خوشحال خان څه ګناه کړي وه؟ یوازې ئې داغوښته چه پښتانه په یوه مرکز سره داغونډ شي ځانته خپل ملي آزاد حکومت ولري، خو په دنیا کښې دپښتنو نوم محو نشي او ددوی پښتني مځکه دپردي مځکي ضمیمه

نشي اوددوی ژوند دنورو په ژوند کښې ورك نشي، خو ځکه چه ځینې پښتانه دخپلې ساده ګۍ له کبله همیشه دنورو دلاس آله شوی دی او پردیو خلکو دوی دخپلې ګټې دپاره استعمال کړی دی او دهند مغلو هم دځینو پښتنو له دې ساده ګۍ څخه استفاده وکړه او ځینې پښتانه ئې دپیسو په زور په خپل منځ کښې سره واچول، خوشحال خان چه دغه درد حس کړی دی داسې افسوس کوی:

په بل غشي تو پك هيڅ ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل توپك یم

هغه وخت چه ځینو پښتنو دبې ننګۍ توره ترملا کړه او دخپل ملي مشر سره ئې جنګونه دپردیو دفائدې دپاره ونښلول، لمړی خو بنګښو جګړه ورسره شروع کړه خوشحال خان دخپلو خونګیالیو زلمیانو سره چه وریانه وه د پښتنې ننګ پر ځای کولو په غرض دخپل قوم بدی همه ومنله او دوی ته ئې وویل:

په دا خه که د بنګښ درانه رنګ رنګ دی
زه هم نه یم دما هم بر غو تر څنګ دی

عقل زور د «غوریه خیل» تر بنګښ زیات دی
غوریه خیل راسره هم ولاړ په ننګ دی

د بنګښ نه هو نیره زور وینم له توره
په دا کوم توکی له ما سره په جنګ دی

غوریه خیل او بنګښ دواړه مغلی دی
همیشه ورته مغل وهلی لنګ دی

هر ملخی د سر بیاز به هنر څه زده
چه په دا هنر کښې سر بندی پتنګ دی

(لا تر اوسه ئې ماغزه په قرار نه دی
چا چه ما سره وهلی سر په سنګ دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(لا به خوب کښې په لړزه پرېوزي نه کېږه
چه دڅپا ترغوږ د ماډنو ږي شرنگ دی ؛

(که په دا دور مې گوري هغه زه يم
چه مې داغ په خاطر ايښې داورنگ دی ؛

(درست جهان مې و مغل وته خبر کړ
ځای په ځای ئې پښتانه و ته قلنگ دی )

(ځينې څه اوښی دعوي لرم په زړه کښې
ولې څه کړم چه پښتون واره بې ننگ دی ؛

ښه ښځږن خوشحال خان چه تر هغه وخته داورنگ زيب په زړ گوتو لښکر مات کړی او ښتونولی و و ، او هغه ځکه ئې ماتی نه وه کړي ، او په هر ميدان کې بريالی و ، او س دخپلو ځينو نابوهو پښتنو دلاسه مجبور شو غروته و خېژي ، د « گنبت » پو جنگ چه په ۱۰۸۶ هجري کال واقع شو ، داسي تصوير وي :

دبنگښ په توره مات نه يم باور کړه
د « گنبت » په جنگ مې ماته آسماني وه

چه مې بنه سواره دخان دو داندی نکړل
هم په دا سبب را پېښه پښېماني وه

چه مې تول دو ړاندی نه تلل په جلب کښې
هم سکی د « حسن خپلو » اسماني وه

سل رحمت د « مهمند يو » په تښه شه
چه ددېو چار له ماسره جاني وه

(چه په توره ئې « شېر خان » پر پوست له آسه
په ميدان د « عابد خان » (۱) پهلواني وه

(۱) عابد خان دخوشحال خان زوی دی

چه سردار د بنګښ پر بووت ختک مات شه

په دا هسې رنګې چارې حیرانې وه

«عابدخان» چه په مردۍ راغی ء له جنګه

وخپل پلار ته ئې ښه ار مغانې وه

پرو کې پرو کی ئې د سر شا اونه ولاړل

په سرو وینو ئې څېره ارغوانې وه

لاس په لاس ئې انتقام د بابا وا خیست

په دا کار باندې سزا ثنا خوانې وه

چه ئې جنګ په میدان کړ بوخو سپاره وه

نورد وادو بخره نېښت تن آسانې وه

د ختکو په سپرو باندې لعنت شه

په بوه جلوه ئې تښه خان خانې وه

چه او له ما نې ګنډه په سپرو کړه

په سپرو کښې چار د جټ د عثمانې وه

ښه ځوانان چه د ګنبت په میدان ومړل

د هر ځوان په زړه کښې ننګه افغانې وه.

همګې ځوانان د ما د زړه ارمان دی

په کښې پیاله د عبدل (۱) تانده ځوانې وه

د غلیم سره په آس غاړه غړې یې شو

د عبدل د مړ تښو ب بخره کافې وه

ما دا هسې جنګ هرګز لیدلې نه ؤ

څو مې عمر، څو ختک، څو مې خانې وه

---

(۱) عبدل هم د خان زوی دی.

ځوانان جنګ ته ماهورلځ کاندها تېږي
په یوه لحظه لمحه ماتې آني وه

یا لښکر د نام وننګ دی بیا دز و
زما د قوله د ننګ نه وه تا ني وه

همګی په یوه سیر را سره تول وه
په یوه ساعت ئې ځکه پرېشاني وه

چه نه د بن وی نه دنیا جنګونه خوك کا؟
مګر سهله جنبازي جا نشتا نی وه ؟

چه په خواست او په ضرور سره تولېږي
د هغو لښکر و کله و داني وه

چه می داخله غلیم له د کي خلاص شو
پري یکبار ه دفلك مهرباني وه

لکه شادي چه وبازو ته ځان لحیر کا
هغه هسې دغلیم پر افشاني وه

که زه روغ په ځای ولاړ وی غلیم څه و؟
دیر هار په کار مي درسته ویراني وه

داڅه مړه زما ځوانان نه دي په جنګ کښې
دا زما د ننګ په کار کښې مهماني وه

که می خپل که می دښمن مری په دا کار کښې
په هر تو کی می حاصله کامراني وه

سل ، څلوېښت ځوانان می قتل په میدان شول
دا ختر په عرفه کښې قرباني وه

چه بې زخمه له میدانه خي نامرد دی
زه زخمي لاړم د ځان نګهباني وه

یوه نښته تا مړ دی بله مړ دی وی
ودانا وته دا د واده عیاني وه

انتقام وته مې نښت وه له میدانه
نه مې یاده د دنیا ژوند ګماني وه

تل خوني مزري هم جنګ کا هم ځان ژغوري
د مزري د نښتي څه بدګماني وه

پیغمبر چه له کافرو نه فرار کړ
و کافرو ته ئې په زړه کښې تیغ راني وه

که ظفر که هزیمت پیامي میدان دی
چه د پلار نیکه مې بخره میداني وه

که ژوندی په دنیا پایم خود به ګورې
چه په تیغ مې څه وراني څه وداني وه

د خوشحال اختیار تر واړه بنګښ تېر دی
که څه ننګه د خټک د کرلاني وه

مګر د پښتون خوشحال خان داماتي لکه پخپله چه ده وویل د انتقام اخیستلو دپاره وه چه له دښمنه خپل انتقام واخلي ، او بله دا چه د خوشحال خان څه داسې مقصد نه ؤ ، چه هغه به په یوه ماتې دده له مغزو څخه وتلای ، دده مقصد د پښتنو وېښوالي او د پښتني ننګې پر ځای کول ؤ ، نو ددې مقصد په لاره کښې چه هر راز مشکلات او زحمات دده مخې ته راتلل ، ده به خپل ټینګ عزم او لوړ همت هغه اوارول ، او له مخې ئې پورته کول ، نو وروسته تر هغه

چه د خپلو بې ننګو پښتنو له بې ننګۍ څخه ئې لوئې بې ښوولئ او کمه ئې ویولئ :

د بې ننګو پښتنو له غمه ما          او ئې پر ښوه و نیوه له کمه ما

هغه ملاوی چه په هودسره لوی غروه          په نا کام کړه ومغل ته خمه ما

دغو د خولې کېږي خبری اورم          چه خبره ور نه نه کړه سمه ما

دا هم ښه که په دا کار کښې هودره کاروی          چه که واخیست انتقام له کرمه ما

بیا دانتقام اخیستلو دپاره پاڅید او په (۱۰۹۱) هجری کال درجب په میاشت ئې پر دوه ، نومی ځای داسی انتقام له دښمنه واخیست چه له دښمن څخه ئې د ګټنې کامیابی هېره کړه او په دې انتقام اخیستلو د خوشحال خان او دده د ننګیالیو ملګرو له زړو څخه هم د ګټنې دماني غمه ووتله ، دلته ددې جنګ له قصې څخه چه خوشحال خان نظم کړې ده یو څو بیتونه راتقلوو ، دی وایی :

۱ څو وانه خلی له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا ، نه خواړه کا ، نه آرام

چه د ننګ او د ناموس اند ته ئې نشته
دغه سری بنده نه وی احترام

که همت او حمیت ، غیرت یکښې وی
قسر ښځنه نه بهتر ګڼه غلام

(په ورو ورو به قدم زدی وربا ندې خیږی
په یوه ځله څوک نه خیږی بنه بام

پدلاب کښې که سنتی ته وی باور کړه
دروغ دون او به ، به بیا مومې په کام

واده ورځې سره نه دی برابری
که دره ، که دارو کاندی ایام

دمر دېر دنا مردېر نر منځ مېل نه دی
تفاوت ئې په ذره دی یا په ګام

چه دبل تر لاسه ور غيء دبل شو
مرد په خپل اری دخپل فکر زمام

چه په ذات ئې پلار نیکه توری وهلي
بري جو دېږی کار دتوری د صمصام

د «ګنبت» غصه مې و ونه له دله
خدای چهرا کړ په «ډوډه» دېری کام

چه په مخ ئې بری دروې «عابدخان» دی
پر هرځای دخپل بابا کا تازه نام

خدای ئې عمر دخپل پلار کړه کام و نام هم
په غلیم دی ئې لاس بر او سی مدام

غلیمان دې تري حذر خوری که پوهیږی
تېره تیغ ئې اژدها دی خون آشام

چه داهسې تورزن ورور ئې خدای پیدا کړ
بري دی فخر کا همه ورو نه ما دام

دلښکرو کار څه هسې آسان نه دی
چه پري هر سړی به مو مې انتظام

چه ربنتینې ترسر تېر بخښل، خوږل کا
دهغه دو پاندی سر کېږ دی انام

دمز رې بخره ور مېږ د نېاله کا ودی
ګیدډ تر ودی ئې مرېږی په لحام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمیدان هوسېر به یو یو تازی نیسی
دو دی غپ په کلی د ېر گرزی انعام

د«دودي»حصارئې درست په‌وینو سور کړ
په «دوده» باندې چه وشو قتل عام

پاس په غره باندی محکم ؤ چا وهلی
د «کوهاټ» تر کوټ ئې ښه ؤ استحکام

دخا وند په حکم هسی فتح و شوه
چه ئې کار شو په‌دوه ورځو سر انجام

داوو کوټو کار دخدای په حکم
وار په وار شو په هفته کښې انصرام

دتو پکو د ویشتلو په لو گیو
بل آسمان اتم پیدا شو کبود فام

دختکو نېزې هسې تلې په ز غره
لکه ستن په خیمه درومې دخیام

دپر ځوانان غاده غږی شول په دا جنگ کښې
که تقصیر نه ؤ د تورو دسهام

د «صفدر خان» لاچېرې جنگ ایدلی نه ؤ
په دا جنگ ئې سر نېزه کړه په خصام

د «گنبت» ارمان می درست له دله ووت
که شکست و که پر هار و که دشنام

د «بنگښ» بخره دیالی دخو کېږه ده
تور دی نمسه باسی توره په نیام

ځوك چه خپل کسب پرېږدی بل کسب نیسی
تر هغه نه به بل نه وی عقل خام

که ګاوز په جنګ باتوردي جنګ ئې هېر دی
چه په سرو خوري ځېېړه د ضیغام

که «بنګښ» څخه څه ننګ وای پرې به نکړای
ما ده له دکه باغه یو بادام

چه بې ننګي چاري کا به وار و ورشه
لکه راغی په بنګښو دا هنګام

د بنګښو شامت خپل سزا ئې دا ده
چه په غوښو ئې مړ پېژي ددو دام

هر کهتر چه د مهتر سره ستېز کا
د عمل سزا به مومي په انجام

هسي غم مانه الم ور بانده راغیء
رنا ورځ شوه د« کوهاټ» په عالم شام

د« کوهاټ» په عالم واده عالم ډک شو
د بنګښو کېږه ولاړه تر « بګرام »

که مي ښه په « ګنبت» ونه هېده څه شو
په همت مې ئنا بشي وه د اقدام

د «دوده» په جنګ کې پیاله مېوړک شو
په « ګنبت» کې چه خالي وهغه جام

ښه چه مخ د هغې سو بې را ښکاره شو
چه لېدنه مي په خوب او په الهام

شېږ اوه زره «ختک» وه په دا جنګ کې
په اولجه سره خوښنو دشو هر کدام

د« ګنبت » جنګ مې په ننګ د ښه نانه و
بل غرض مې په منځ نه و ، نه مرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې جنګ ناري به دروهی په ملکونو

پرې خو شپېږی به همه پښتون ینام
چه ددې سو بی آ واز و شی په هند کی
بیا به زغ شی دیا چا په خا ص و عام

چه په نام پښتون غو ځېږ ی پر ې خو شپېږی
او رنګ زیب هسی باد شاه دی د اسلام

تاسی ګوری، سره له دې چه ځینو ساده پښتنو پښتنی ننګی نه شا کړې وه او د پښتنو دقومی مشرسره چه بې د پښتنو دلوی والی او ویښوالی ئې بله آرزو نه دراوده، جنګونه کول ــ خو بیاهم خوشحال خان د دوی په ماتې لــه زده خوښ نه دی ځکه چه اورنګ زیب دهر پښتون په مرګ خوښېږی، له همدې کبله خو شحال خان به ویل :

چه په نام پښتون غو ځېږی پرې خو شپېږی
او رنګ زیب هسی باد شاه دی د اسلام

اوخو شحال خان دا جنګ خاص د پښتنی ننګی پرځای کولو دپاره کړی دی ځکه چه دبنګښو ځینی ساده ګان دپښتنو ددښمنانو په پیسو اوچلول غولېدلیوو . او پښتنی ننګه ئې هیره کړی وه . نو خوشحال خان مجبوروُ د پښتنی ننګی په لاره کی دهر چا سره چه وی جنګ و کړی . لکه چه وې ویل :

د « ګنبټ » جنګ می په ننګ د پښتا نه و
بل غرض می په منځ نه و ، نه مرام

که دانه وای ده به دبنګښ له باغه یو بادام هم پرې کړی نه وای لکه چه وایی:

که « بنګښ » څخه څه ننګ وای پرې به نکړای
ما دده له د ګه باغه یو بادام

بل ځای پردې حال افسوس کوی چه دې پښتنو د ننګ دپاره جنګېږی خو ځینی ساده پښتانه پخپله دده په مرګ پسې دی ــ وائی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه غلیم داو رنګ زیب یم ‌ ‌ ‌ ‌ سر په غره په بیابان
زه په ننګ د پښتانه یم ‌ ‌ ‌ ‌ دوی نیو لی مغلان
د منصب په اشنا فو دی ‌ ‌ ‌ ‌ تل په ما پسی روان

خوشحال خان دا بې زه داسې ساده پښتانه وهلای شم، خو بیاهم هر پښتون زما ځان دی، خپل ځان نه وهل کیږی:

دما لاس ور بانـدی رسی ‌ ‌ ‌ ‌ راواخه نشی خپل ځان

د پښتنو دښمنانو چه بیا د توری په میدان کی څه ونکړل، نور شو نو نـواو منصوبونـو ته ئې دومره زور ورکړ چه په پای کې ئې د ننګیالی خوشحال خان خپل ځوی «بهرام خان» هم د پښتنوالی له دائرې څخه وبوست او د خپل پلار په مقابل کې ئې کار ځینی واخیست داد پښتنو هغه لویه بدبختی ده چه پښتانه ئې هر وخت تباه کړیدی. هو، زړه دې لویه بدبختی به چیرته پیدا شی چه دیوه ننګیالی پښتانه زوی پښتنی ننګه پریږدی او د پښتنو او پښتنوالی پر خلاف دځو پیسو دپاره د پلار مـخ ته ودریږی؟ پیسې په دنیا کـې دهر چا په کار دی او هر څوک زیار باسی چه پیسې پیدا کـړی، مګر هـوښیـار خلك ددې دپاره پیسې غواړی چه خپل شرف، نـاموس، پت، شـرم او عـزت په خوندی کړی، خپل رنګ او نوم په ښه کړی، خو ځینی ناپوهان د پیسو په حب او مینه کی دومره ډوب شی چه خپل وطن، خپل عزت او خپل ننګ په پیسو خر څوی او ځان ته ابدی شرم او بد نامی اخلی، دخوشحال خان زوی بهرام خان هم له دغو ناپو هانو څخه و چه خپله پښتنوا له او پښتنی ننګه ئې ددښمنانو په پیسو او منصب بایللې وه او ځان ئې د پیټ او شرم ره ګر زدلی و دده ننګیالی پلار د پښتنو دآزاد حکومت فکر به سر کی درلود، خودی دځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیسو غم لیونی کړی وّلیونی لا څه چه د پلار مرګ او دپښتنو تباهی نه ئې ملا ترلی وه خوشحال خان دده په حق کیوا یی :

هنګامه دملا پـه منځ کـی — د مـغـل او د افـغـا ن
زه پـه نـقش دخپـلـی چـار — که څه شی سرو سا ما ن
دی په وهم به وسـواس کـی — تل له ما دی هر ا سـا ن
زه به لویـو انـدیښنو کـی — دی په کور کی دی غرا ن
چه دمـا سره څوك تـول شی — دده زده شی نور لـرزا ن
چه د مـا دلښـکر غـبز شـی — او بـه کیږی دده لحا ن
پـه دادوه ښکاره خو ښیږی — دا احمق سفلـه نادا ن
چه ز مـاسره څـوك نه وی — بل چه سودمی وی دیګدا ن
چـه زمـا لـه غـمـه وار وی — بـی حسا به شی شادا ن
چه اساس دلوری کښیږ دم — دا نا مردئـی کاغلطا ن
و مغـلو تـه مجـرا کـا — چه خپل پلارمی کرداشا ن
چـــه زمـا سـره بـدی کـا — پری رحمت کا منلا ن
دی لاهـر څه ورتـه وا یـی — ورسره شی پادسی خوا ن
زه دده په کـار خندان یـم — دی زما په کار خندا ن
یا خو دی مه وی لـه مـا نه — یـازه مـه وی په جهـا ن
رسوا ئـی شـوه نر منځ پښتو — نه څه ورك نه ئی څه زیا ن
نظـام پور لـره اوس را غـلـم — د غـه کـړی دغه میدا ن
چه می وار وربا ندی ساز شـی — بیا به وبه اندی کا دوستا ن
وار د هری چـا ری تیر شـو — فکر اوی دی دا زمـا ن
هر چـه دی هغـه بـه وشـی — څـو لا حو له په شیطا ن
که کښیږم نـام او ناموس لحی — که با څم با څی طوفا ن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کښې مکش کې تېر شو ... په هسې عمر را پکښې ان
د ګټنې وخت تېر ښېږي ... وا ویلا افغانان افغانان
مفاجات دي ئې نصیب شي ... پا ئې تورمار جانستان
چه هیڅوك پرې به نام نشي ... هسې ګور نه شي روان

لکه عاق دی عاق دي درومي
دین دنیا دواړه خسران

کوم وخت چه بهرام خان خپل مشر ورور « اشرف خان » د هند د مغلو په بند ور کړ نو مغلو دی د سردارۍ به نامه سرلوړی کړ، خوشحال خان داسې پېغور ور کوي:

تا هغې د سر دارۍ تر ده بهرامه! ... سر داري دي پخپل ور کړه بد نامه
هم تمامې خیلخانې لره بلا شوې ... هم خپل خان لره بلا شوې بد فرجامه
مشر ورور دې په زندان کړ ته خانی کړې ... دا خانی دي شه به خان بوری حرامه
نور دي نوم دما دزویو په شمار مشه ... دخوشحال ځوك وینا په دا تمامه

دخوشحال خان له وینا ښخه ښکاره یږي چه دخان ځینې نور زامن هم بې ننګه شوي دي او ده پاکه او قومي نقشه ئې ور کړه وه کړې ده، لکه چه وایي:

زویو مې خوی دخټکو نور کړ ... زما په نقش ئې پوري سورا ور کړ
وخت د ګټنې د نام و ننګ و ... بدو زامنو را ښخه خپور کړ

خو هغه زامن چه دخوشحال خان سره به اوږه ولاړ وه، او دبښتني ننګې دپرځای کولو دپاره ئې ځانونه قربانول، ددېرې ستاینې وړ دي او خوشحال خان ئې هم هر کله ستایي ځکه چه په هغه وخت کښې دا کمه خبره نه وه چه دپښتنو ددښمنانو رشو تونه په لويه پیمانه دساده پښتنو په منځ کې خیاره شوي وه، او هري خوا ته سپین او سره ځلیده مګر هغو ننګیالو ځلمو چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتني ننګه ئې پر ځای کوله او د پښتو نخوا دځمکې او پښتنو والي دموجودیت دپاره جنګېدل، وچه څوڅه ئې هم په ماڼه لس نشوای مونډلای، که دوی هم ددښمنانو نوکري اختیار کړې وای دوی به هم دناز او نعمت خاوندان شوی وای، مګر دوی حقیقي پښتانه وو، او خپله پښتني ننګه او پښتني ځمکه ئې په پیسو نه خرڅوله او نه ئې خپله آزادي ددښمنانو په نوکرۍ بدلوله، خپل د کاڼي کاڼ ئې ددښمنانو تر پلاو خوښ و، چه پوله دې ننګیالیو ځلمیانو څخه عابدخان ؤ، خان ئې داسې ستایي :

داد کاڼي کاك دما دعابدخان دی
د مغل پلاو دنو رو فر زندانو
که داهو مرغانا خلف وا ده خلف وی
تن به ما نوبت واهه دخسر وانو

همدا رنګه خوشحال خان دپښتنو او روښې زلمیان چه پر ننګه ور سره ولاړ وه ستایي، مګر په دې خبره افسوس کوي چه لاس ئې نه رسېږي :

مغل پښتون سره په پېچ وتاب دی
چه پښتا نه ګورم خانه خراب دی
ښه ښه ځوانان شته په پښتانه کښې
چه لاس ئې نه رسي، خانه خراب دی

خوشحال خان دمغوساده پښتنو په زیره پورې خاندې چه له ډېرې ساده ګۍ څخه ددښمن په منصب زده تړی او له دې نا خبره دی، چه د پښتنو اسې دښمن هیڅکله دپښتون دوست کېدلای نشي او نه هیڅ وخت ئې دا زده دی چه پښتون دې ښه شي، ځکه چه که پښتون ښه شي نو د پر دیو نوکري به پرېږدي ځان به وپېژني او ځانته به د پښتنو آزاد حکومت جوړ کړي او دا فکر به و کړي چه نر دې چه د نورو نوکرشي ولې په خپله دخپلې ځمکې بادار نشي، نو ځکه خوشحال خان ورته وایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیره دې کله د پښتانه شي  چه د مغل په منصب ئې زړه شي
مغل کمزوری غلیم په رحم دی  کله ئې زړه وی چه پښتون ښه شي

په دې ترتیب سره د پښتنو دغه وخت د دښمنانو له خوا په ځینو ساده پښتنو کښې رشوتونه خپاره شول او لکه د پښتنو د هر دښمن چه عادت دی پښتانه ئې په خپل منځ کښې سره واچول، مګر بیا هم ځکه چه خوشحال خان یو ویښ او آزاد پښتون ؤ په هیڅ توګه ئې د یر دیو مری توب نه مانه او نه د مغلو په منصبونو غولیده، د ده خپل ځان سره ملي مقدسه مفکوره د ولو د له او دا ئې عزم کړی ؤ چه تر څو ژوندی وی د خپلې دې لوړې مفکورې له عملي کولو څخه به لاس وانه خلي، او په هره قربانۍ چه کیږي پښتانه آزاد او لوی پښتون جوړ کړی مګر ځینې بدبخت ساده پښتانه د کبر و تیږو و دیوالو نه وو، هر څه چه به خوشحال خان راسمول نه راسمېدل، دې په خپله وایي ·

که هر څو ئې سازوم رانه سازیږي
پښتانه دی د کبر و کانو دیوال

او ځکه په یوازې سر د دښمن مقابلې ته ودرید او د پښتنو توله ننګه د ده په سرختمه شوه په خپله وایي :

شرم دې، ننګ دې چارد سر دی  سمه مې پرېښوه ځای مې غر دی
پښتانه وار وار د مغل ښوروا خوری  ما ته ئې پاته دا شور و شر دی

خصوصاً چه دوه ننګیالي او جنګیالي زامن ئې په جنګ کښې بیایلل نو خوشحال خان بیخي بېوازې د دښمن په‌انه شو، یو جنګیالی میړه پښتون «ایمل خان» او بل «دریا خان» و، چه په غلیم ئې ښه ورو قه ساده کړی وه، مګر خوشحال خان به دې تنهائی کښې هم د خپل عالي مقصد څخه ستړی نشو، او ویل به ئې :

د مړز یو مړ نتوب په لیکو نه وی  مړ ئې هر کله یوازی په خپل ځان شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزادي تر بادشاهۍ لا تېرې کا — چه د بل تر حکم لاندې شي زندان شي
په جهان دننګيالي دي دا دوه کاره — يا به وخوري ککرې يا به کامران شي

مګر د هند مغلو چه د خوشحال خان پوازې وجود هم ځان ته لوی خطر بالـه زيار ئې پوست چه په هر ډول وي د پښتنو دالوی او وينې قـانه له پښو واچوي ځکه خوشحال خان خپل ځان هغه لوی بيمار ګڼي چه د دښمن تر دم لاندې نه را ځي روابي:

پښتانـه وارده لکه مـا رو نه دي — مغل دم کړي پخپل کار و تـه دي
چه په مارونو کښې لوی مار پيداشي — بيې ئې غوا ډې که په غارو نه دي

نو مغلو داچاره وسنجوله چه خوشحال خان په خپلو پښتنو له پښو واچـوي او د پښتنو په ټـوپك ئې مړ کړي، په پښتنو کښې خو هم داسې ساده پښتانه ډېر وه چه د پيسو د پاره ئې خوشحال خان لاخه خپل پلار هم وژه، نو د مغلو د پاره ئې په خوشحال خان پسې ملا وتړله او په خپله د خپل ملت او پښتنو الې د زرا نولو د پاره آماده شول، کوم جساس او د ډېر پښتون چه د ځينو ساده ګانو پښتنو په تـاريـخ کښې داسې لـکې وينې نو ډېر متا ثـر ېږي:

تـاسې ګوري، پښتانه تـل لـه خپله لاسه بـر بـاد شـوي دي همېشه د پښتنوا لـې او پښتنو دښمنانـو پښتـا نـه پـه خـپل منـځ کښې د خپلـو نـاوړو اغراضـو د پـا ره سره وژلي دي، خو په داسې حال کې هم خوشحال خان خپله د آزادۍ پاچاهي اعـلان کـو له:

ګـوره څنـګه پـاد شاهي لـکه خور شيد کړم
يـك تنهـا پـه جهـان ګـرزم لښکر نشتـه

په دې وخت کښې د ننګيالي خوشحال خان عمر (۷۷) کـالو ته رسيدلی ؤ خو بيا ئې هم د پښتنو د آزادۍ او د پښتنو د ملي حکومت جوړ ؤلو چيغې وهلې مګر څنګه چه الله پوې خوا دده عمر پای ته رسيدلی ؤ، او له بلې خوا ځينې ساده ګانو پښتنو .

دده علامانه کړي وه ، نو ځکه دا پرېدېبو غرونه وخوت او یو کال وروسته د یو جهان قومي آرزو ګانو سره د (۷۸) کالو په عمر د ربیع الاول په ۲۸ په ۱۱۰۰ هجري کال سم له ۱۶۹۰ عیسوي کال سره په دېري تا کامي وفات شو ( انا لله وانا الیه راجعون ) او دلوی پښتون دجوړولو ارمان ئې ګور ته له ځان سره یووړ لکه چه وایي

پښتانه چه بې ننګي کا څوك ئې څه کا    ګورستان اره به درومو له ارمانه

خوشحال خان که څه هم له ارمانه ډك زړه ګورستان ته ولاړ مګر بیا هم دده جنګونو او زیار چه کومه ګټه پښتنو ته ورسوله هغه دهېر ولو نه ده .

هو اخوشحال خان د پښتنو د آزاد حکومت په تشکیل کامیاب نشو او نه ئې تول پښتانه د دوی دساد ګي له سببه بریوه مرکز راغونډ کړی شول ، خو دومره ئې و کړه چه د پښتنو او پښتنوالی نوم ئې له محو کېدو څخه خوندي کړ او خپلی پښتانه ئې په دې وپوهول چه پښتون او پښتو نخوا باید د بل چا ضمیمه نشي او نه دېر د بو ترلاس لاندي ژوند و کړي .

خوشحال خان ځان بند ته ور کړ مګر دده بند بې تأثیره پاته نشو ، بلکه د پښتنو په مغز و کښې ئې په غیر مستقیم ډول دا فکر پیدا کړ چه د پښتنو دښمنان نه غواړي چه پښتانه آزاد ژوند ولري ، نو له دې کبله اکثرو پښتنو خپله لمنه د پښتنو له دښمنانو څخه راټوله او سا تله او نه ئې غوښته چه له دوی سره په معاشرت کښې داخل شي او په هر ځای کې پښتانه د پښتنو د دښمنانو مقابلې ته پاڅیدل او جنګونه ئې ورسره شروع کړل ، حتی د پښتو پر ادب ئې اغیزه و کړه مثلاً حمید بابا وائي :

بو به نشم مغلو اله در قیب سره    که زو کړی وم رښتیا له پښتنې زه

یادا :

په داتول جهان قراره قرار ی ده    بې رحمید دغم مغل را وخا ته

علیخان وا یي :

پري به نېژدمه رقیب داستاو کوی نه    ای ریدی شوم و مغل نه خبیر نیسم

خوشحال خان په پښتنو کښې ملي روح ژوندی وساته او پښتني ننګې ته
ئې ملتفت کړه او د پښتنوالۍ د دښمنانو د مقابلې د پاره ئې ډېر ځلاصي ور وزل.
دخوشحال خان او د نورو پښتنو مخالفت له مغلو سره ددې خبرې د پاره نه و، چه
«مغل» دي، بلکه دخوشحال خان یا د نورو پښتنو مخالفت دهغه له مغلو سره
پر دې خبره ؤ، چه هغوی د پښتنو پر حق تجاوز کاوه. ددوی طبعي حق
آزادي ئې نه منله، حتی، د پښتنو پر موجودیت قائل نه ؤ، بلکه
غوښته ئې چه پښتانه او د پښتنو مځکه په نورو پورې ونښلوي او پښتانه دخان
پاینجا بیانو مریان او نوکران کړي، ځکه چه ځینې ساده پښتانه ئې
هم په پیسو او منصبو غولولي وه، او پښتني ننګه ئې ددوی له یاده ایستلې ده
نو ځکه خوشحال خان او ځینې ویښ پښتانه دهغوی دبدنیت مقابلې ته پاڅېدل او فقط
پښتنو او پښتنوالۍ او پښتني نخوا ده موجودیت د پاره ئې دهمت ملا وتړله او خپل تنګیالي
ځلمیان ئې په دې لاره کښې قربان کړه، نو که دمغلو پر ځای بل څوك وای
چه د پښتنو پر حق ئې تجاوز کولای هم خوشحال خان او نورو ویښو پښتنو
دهغه مقابله کوله ځکه چه د پښتنوالۍ قانون دبل چا تجاوز نه مني هر څوك
چه وي. دهند تر مغلو وروسته د پښتنو مقابله د پرنګیانو دلویې امپراطورۍ
سره هم د دې قانون په حکم وه چه تر سلو کالو ډېر ئې دوام وکړ او
پرنګیانو ونه کولای شوه چه د پښتنو سرلځا تته نیټ کړي، که څه هم پرنګیانو
هم د هند د مغلو هغه لوی چال عملي کړ او ډېر ساده پښتانه ئې په پیسو او
رشوتو او منصبو دخان کړه او پښتني ننګه ئې ورې هېره کړه. مګر
هیڅ ئې و نه کولای شوه چه ټول پښتانه په زور یا په زر د پښتنوالۍ څخه
واړوي او د پرنګیانو ئې د غلامۍ یانو کړان کړي له هغه وخته چه
پرنګیانو پښتانه د «پورونډ» د منحوس او فرضي خط په واسطه سره ټوټې
ټوټې او جلا کړه نو خو را ډېر زیاتې د بوست چه هغه پښتانه چه پرنګیانو

په‌زور د خان خوانه کش کړی وه ، له پښتنی ننګي والدوی او د پسر لنګی دناو کسری یا مزدوری بست روح پاکښې پیدا کړی او بیاد پښتنو ملت که دیرد بو ملکو ضمیمه کړی او د پښتنو د پښتنوالی روح وژنی ، مګر وئی نه کولای شوه چه په دې مقصد پوره کامیاب شی ، نه دا او نکو په بموږ او نه درو پر په خاطو ، کرنیل رابینسن چه د پرنګیانو بومنصبدارو ، وایی چه په هند کښې د پرنګیانو فوجی لګښت ( خرڅ ) له کاله پنځه شپیته کروړه دی چه له هغه څخه یوه پښت کروړه خاص د سرحد دپاره لګیږی ( ۱ ) نو تاسی له دې خبری نه اټکل کولای شیءِ چه پرنګیانو د پښتنوالی او د پښتنو د بربادی د پاره د هندوستان دری یمه برخه خرڅ لګولی دی ، او دا ټول لګښت یوازې په عسکری مهمو کښې نه ، بلکه په دې کښې همه رشوتونه او تنخا ګانی چه د پښتنو پرسر اخیستل شوی هم شاملی دی .

مګر بیا هم په پښتنو کښې پښتنی روح چارنه وژلای شو ، او په دوی کی داسې وینې ځلمیان پیدا شوی دی چه د خوشحال خان د حریت خواهی روح ئی په قبر کښې خوشحاله کړی دی ، او له هغه وخته چه پرنګیان هند ته راغلی ، او د پښتنو د بربادی خیال ئی کړی دی بیا تر اوسه هیڅوخت په آرامه کښېنستلی نه دی ، بلکه تل ئی د خپلی آزادی او استقلال دپاره قربانی ورکړی دی د پښتونستان آزاد پښتنو خو هیڅکله تو پك له اوږو کوز کړی نه دی او هم هغو وینو پښتنو چه د پرنګیانو تر لاس لاندې وو ، تل د خولې او قلم ګوزارونه د خپلی آزادی دپاره پردښمن کړی دی - چه دلته د مثال په ډول د پښتونستان دیوه شاه ځلمی قربانی یادوو : په ۱۸۹۹ عیسوی کال مولوی میرا جان

---

(۱) سرحد برطانیه و افغانستان = د ملك عبدالخان شینواری اثر = ۱۰۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کا کا خېل چه دزوند دېره برخه ئي په آسټریلیا کښې د اوښانو په تجارت تېره شوې ده یوقومي تحریك شروع کړ ، ده لومړی د اسلام نشر او تبلیغ کاره چه دده په لاس څو آسټریلیان هم مسلمانان شول او نر اوسه دده دلاس مسجدونه په آسټریلیا کښې شته مګر یوڅه وخت وروسته ئي تاڅایه په فکر کښې یو انقلاب او تحول پیدا شو او مذهبی تحریك ئي په انقلابی اوملی تحریك بدل شو. د آسټریلیا په پښتنو کښې ئي د قومي تحریك شروع وکړه او یو جمعیت ئي د «مجلس وطن» په نامه جوړ کړ ، خو د آسټریلیا حکومت دانګریزانو په اشاره دا وېښ پښتون له آسټریلیا څخه خارج کړ؛ مولوی میراجان امریکا ته ولاړ او هلته د کیلیفورنیا په خوا وشا پښتنو کښې ئي خپل تحریك ته دوام ورکړ ، دېر پښتانه ئي د ځان هم خیال او همفکره کړه اود خپل وطن د آزادۍ فکرئي ددوی په مغزو کښې کښېناوه ، څو ورو ورو د امریکا ټول پښتانه چه د آزادۍ په خوند او مفهوم ښه پوهېدلی وو ، په دې حزب «مجلس وطن» کښې شامل شول او وروسته ئي ددې مجلس نوم «غدر پارټی» کېښود او د کیلیفورنیا په ښځم لمبر ووډسټریټ 5. Wood Street California کښې ئي مرکز وټاکه او وجدی اقدامات ئي شروع کړل .

په ۱۹۰۲ع کال ئي یو هیئت د محمد عزیز خان یوسفزی تر مشر توب لاندې دامریکا څخه پښتونستان ته را واېږه که څه هم دوی پټ اودیوې بېړۍ دعملو په دودرارسېدلي وه ، خو چه سنګاپور ته را ورسېدل هلته دانګریزانو له خوا ګرفتار شول؛ محمد عزیز خان دپښتنو دېښې زلمی په غرغره ووژل شو او نور ملګری ئي په حبس دوام محکوم شول ' دا ددې آزادۍ غوښتونکو پښتنو لومړۍ قربانی وه چه دوطن د آزادۍ په لار کښې ئي ور کړه ، اوهم دپرنګیانو د دېمو کراسۍ یوه نمونه ده ، چه دخپل امپراطوریت داستعماری

فکر د پاره ئې اجرا کړه ـ مګر څه موده وروسته په خپله مولوی میرا جان د خپلو څو نورو ملګرو سره په ۱۹۰۲ ع کال کښې د خپل وطن اراده وکړه ، د جاپان او روس له لارې افغانستان ته داخل شو ، بیرا ئې د خپل تحریك مرکز وګرزاوه او د انګریزانو د تجاوز پر خلاف ئې اقدامات شروع کړه . د تیرا اپریدیو دی په خپل مشرتوب وماته ، څو شپې ورځې ئې تېرې کړې چه پرنګیانو یوه حیله جوړه کړه او میرا جان ئې «چه په دې بهانه مونږ او اپریدي باید صلح او یوه معاهده سره وکړو ، مګر د معاهدې په شرطونو باید چه ستاسو مشر لاس لیك وکړي» جرګې ته ورغوښت ، خو چه میراجان ورغی ، انګریزي منصبدارانو ونیو او بندي ئې کړ ، دغه اپریدیو هر څه شر و شور ، پرغل او چپاو نه وکړه ! خو مولوی میرا جان د پښتنو آزادي خواه زلمی چه له هغه وخت څخه ورك شو ، نور ئې هیڅ پته معلومه نشوه ، او د انګریزانو د امپریالیستۍ او استعمار خواهۍ قرباني شو . که دقت وشي د پرنګیانو دا حیله هم عیناً هغې حیلې ته ورته ده چه د هغه مغلو د خوشحال خان بندته جوړه کړې وه . ددې وینې پښتون نور ملګري بندیان او څه چه پاته وه هغه بیرته روسیې او امریکا ته ولاړل (۱) د هغه وخت پښتانه که څه هم د هغو په قدر ونو پوهېدل مګر اوسني حساس پښتانه باید د مولوی میراجان او د هغه مجلس په نامه ځای جوړ کړي او د هغه په نامه هر کال مال ګره ونیسي .

دا د پښتنو د تحریك یوه نمونه وه ، په همدې ترتیب د میرا جان نه وروسته نور تحریکونه د پښتنو د آزادۍ د پاره په پښتونستان کښې شوي دي چه اکثر حساس پښتانه د پرنګیانو په بندونو غرغره ولاړل او کورونه ئې تالاشول چه وروستنی تحریك ئې د محکوم پښتونستان د ملي قائد خان عبدالغفار خان تحریك ؤ . دا تحریك اومړی د پښتنو د اجتماعي اصلاح په نوم شروع او یو مجلس د «انجمن اصلاح

---

(۱) د کابل مجله ۱۸ کال ۲۱۷ ـ ۲۱۸ ګڼې .

«الافاغنه» په نوم جوړ شو ، چه په دې جمعیت کښې دېر وېښ پښتانه راغونډ او دخپل قوم د آزادۍ د پاره ئې ملاوتړله دېرې اوبې جرګې ئې اوغوښتې فیصلې ئې وکړې ،

څو دپرنګیانو حکومت چه د پښتنو دا ښه والی او بیداری ولیده نو ددې تحریك دخپه کولو د پاره ئې مختلفې پلمې را پیدا کړې اودا الزام ئې په پښتنو ولګاوه چه «سرخ پوش» کمونیستان دی ، ددې نه پس په پښتنو دومره سخت مظالم شروع شول چه دهغو داوریدلو د پاره د دېر اوی زړه ضرورت دی . د پرنګی حکومت تولې وسلې دنوبونه واخله تر توپکو اوماشین ګنونو پورې په پښتنو وچلولې او د تحریك مشران د استعماري حکومت سره دغداری په جرم بندیان شول تردا کښې و باخبره خلقو یقین پیداشو چه دوی به په غرغره کیدې شي ! په دې وخت کښې د محکوم پښتو نستان د هغه وخت د حکومت یو دیر لوی رکن خان عبدالغفار خان ته نصیحت وکړ چه د هندوستان د کوم یو سیاسی جماعت سره خان ملګری کړه ! خان داخبره ومنله او دقید نه ئې یوه جرګه هندوستان ته ولیږله د هندوستان تولو سیاسی اسلامی جماعتونو داغیه زمه واری په سر وانه خیستې شوه او داجرګه بیرته نا کامه راغله . خان عبدالغفارخان داجرګه بیا ولیږله چه د کانګرس مشران وویني . هغه و چه هغوی یو دم د ملګر تیا او دوله منظوره کړه او دهغې ورځې نه پس د محکوم پښتو نستان خدائي خدمتګاری دولی د کانګرس سره اتفاق په او زه د آزادۍ په جنګ کښې ملګر تیا وکړه او د «لندن تایمز» په قول څو مره کار چه د هندوستان آزادۍ غوښتونکو په څلوېښت کاله کې کړی و ، سرخ پوشانو په پنځو کالو کی اجرا کړ ددې نه دا فائده سرخ پوشو ته ورسیده چه د هغوی مشران د مرګ او غرغرې نه خلاص شو ، او د کانګرس د ملګر تیا په وجه د محکوم پښتو نستان په هغه برخه کی اصلاحات نافذ کړی شول : خو بل طرف ته د پرنګی حکومت ته د بهانې او الزام یوه بله وسله په لاس ورغله اودا پروپا ګنډه ئې شروع کړ ، چه کانګرس د هندوانو جماعت دی او سرخ پوشو خان هندو کړ

ددې برو بیګنډې یاوچه ځینې ساده پښتانه په سر خپو شو شکمن شول او ددوی د تحریك ختمولو دپاره خودغرضه خلقو ته ښه بهانه په لاس ورغله چه د پښتنو دا جماعت (خدائي خدمتګار) کمزوری کړی.

دا کشمکش روان و، چه د انګریزانو حکومت مجبور شو، هندوستان ته آزادی ورکړی او ملك په دوو برخو ویشل شو، یو هندوستان او بل پاکستان په دې وخت کې د صوبه سرحد پښتنو دیو آزاد حکومت پښتونستان آواز د خان عبدالغفار خان په رهنما اوچت کړ او د دولي انصاف پسندې دنیا یقین و، چه پرنګې دا ځمکه خپل خپل حقدار ته پریږدی نو پښتنو ته به هم خپله ځمکه حواله کړی، مګر د پرنګی حکومت دا ونه منله او به زور ئې یو اجباری قسم ریفرینډم (رایه ګیری) په پښتنو کې وکړه چه یا به په هندوستان کې شاملیږی او یا به په پاکستان کې. خان عبدالغفارخان که هر څه چیغې وو هلې ولې څوك ئې وانه ورېد، په دې وخت کې دافغانستان زلمی نولواك اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د عمومي او قومي احساساتو په اثر چه د پښتونستان د پښتنو په حقله ئې لری د پښتونستان په پښتنو دا جبر ونه منلی شو، ددوی د آزادۍ آوازئې اوچت کړ، مګر پرنګیانو خپل امپریالیستی حس له کبله کانه وو، دافغانستان د حکومت دا پاك زغ ئې وانه وریدلی شو، او اجباری ریفرینډم شروع شو، خدائی خدمتګارانو د ریفرینډم نه ځان مانی جن کړ، او په رای ګیری کې ئې برخه وانه خیستله او هیڅ قسم غرض ئې په رای ګیری کښې ونه کړ، په دې چل چه کوم ونوانه وغورزیدل د هغو څخه معلومه شوه چه ددې دومره نیاری باوجود او سره ددې چه مخالف په موقع موجود نه و، بیاهم د خدائي خدمتګارانو مقابلې ډلې څه ډیری زیاتی رائی وانه خیستلې مګر بیاهم د سرحد د پښتنو هغه مشران چه د خان عبدالغفار خان ملاتړ ئې مانه کړه له وجداني مسئولیت څخه خلاصېدلی نشی، ددوی فرض و چه پښتانه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پرنګیانو په چل او حیله پوره کړی وای ، مګر له بده مرغه موږ دمخه پوهېږو
چه څینې بدبخته پښتانه دخپلې سادګۍ له کبله همیشه د بل د ګټې د پاره
استعمال شوي دي او استعمالیږي .

تاسې غور وکړئ دخپل ځان د پاره یو قومي او پښتني مرکز نه لري خو
د نورو مرکزونه په خپلو وینو ساتي !؟

پښتانه دخپلې ځمکې دیوې لویشتې واک او اختیار نه لري ، خو د پرنګیانو
د ګټې د پاره ئې د «العلمین» او ایټالیا میدانونه له جرمني څخه ګټلي دي !؟
د پښتونستان د جوړولو او پښتنو د اتحاد فکر ئې نه دی کړی . مګر نورو ته کشمیر
وهي؟ ایا په دې حال لا هم هیڅ ځانته نه ملتفت کیږی ،

خوشحال خان څه ښه ورته وایي :

ته خبر نه یې له ځانه — څه په تا کیږي څه ، ها ! ؟
در نه وایم نه پوهیږي — څه غفلت اري ها ها ؟ !

رښتیا چه پښتانه ډیر غافل دي هیڅ ئې ځانته فکر نشته چه خالک به د دوی څه
لوبې کوي؟ نن پرون چه د پرنګیانو قصه ختمه شوه ، دا خیال کیده چه زموږ
قوم به ضرور ځان ته متوجه او په یوه مرکز به راغونډ شي او د ښه پل را تلونکی
ژوند د ښه کولو د پاره به لارې وسنجوي او نور به نو د پردیو د لاس بازونه نشي
مګر افسوس دا چه دعصر پلوشو هم د دوی زړونو ته لاره و نه موندله . . . که څه هم دا ګناه
د پښتنو نه ده داد استعماریت غوښتونکو پرنګیانو ګناه ده چه اوس لا هم
د پښتنو له سره لاس نه اخلي ! تاسې وګورئ سیلون او برما نه آزادي ورکوي
خو پښتانه به لاهغسې دربدره او بې مرکزه پاته دي دپردیو تر لاس لاندې ژوند کوي
دمغلوالي پر ځای خوئې پرنګیواله و درول ه اوس غواړي د پرنګیوالي پر ځای
پنجابي واله او یا کومه بله توره بلا دروي ؟ څله پښتانه نه پوهیږي چه خپله
پښتني دنیا جوړه کړي او په پښتني مرکز راغونډ شي ؟ آیا نوره دښمني لا هم

نوڅه چه بیا پښتانه دخپل استعماریت ترفکر قربانی کړی ؟ او د پښتنو دښکلو ځلمیانو وینې دځان دامپراطورۍ د پاره توبې کړی ؟

او بیا چه پرنګیان داسې ښکاره کوی چه له دې خوانې خپلې ښې تولی کړی دی بیا لاهم د پښتنو غم ور سره دی او نه غواړی چه دی ته ور وسته هم پښتانه د آرامۍ ژوندو کړی، نو غواړی خپل سمیمی دوستان او صادق شاګردان د پښتنو پرسر نازل کړی ، چه دوی د پرنګیا نو د کیلان دی او پښتانه به په هر نامه حتی دمسلمانۍ په نامه هم د ځان د غرضونو د پاره استعماروی او د دوی له قوت نه به کار اخلی ! کرم وخت چه ئې غرض د سره شو ، نو بیا به پښتانه هم هغه شان تښلاس غروتو ته و لیږی او بیا هغه څه به چه د پښتنو د ښکلو ځلمیو په وینو ګټل شوی وی خپلې جرچې کوی ، داده د استعمار چیانو دیمو کراسی ؟!

خیر ، پرنګیان خو به خو د دا کار و نه کوی ، ځکه چه دوی همیشه پښتانه دخپلو شومو غرضونو د پاره قربانی کړی دی ، خو غم دادی چه بیخیله پښتانه هم خپلې دې تباهۍ ته ملتفت نه دی .

علامهٔ اقبال د سرحد پښتنو ته څه به وایی :

ای زخود پوشیدهٔ خود را باز یاب
در مسلمانی حرام است این حجاب

رمز دین مصطفی دانی که چیست ؟
فاش دیدن خویش را شاهنشهی است

چیست دین ؟ دریافتن اسرار خویش
زندگی مرگست بی دیدار خویش

بندهٔ حق وارث پیغمبران
او نگنجد در جهان دیګران

تا جهانی دیګری پیدا کند
این جهان کهنه را بر هم زند

اندکی ګم شو بقرآن و خبر
باز ای نادان بخویش اندر نګر

در جهان آوارهٔ بیچارهٔ
وحدتی ګم کردهٔ صد پارهٔ

بند غیر الله اندر پای تست
داغم از داغی که در سیمای تست

میر خیل ! ازمکر پنهانی بترس　　ازضیاع روح افغانی بترس
زانش مردان حق می‌سوز مت　　نکتهٔ ازپیر روم آموزمت:
«رزق‌ازحق جومجو از زیدو عمر　　مستی‌ازحق جومجواز بنگ‌وخمر»
شکوه کم کن ازسپهر لاجورد　　جز بگرد آفتاب خود مگرد
عالم موجود را اندازه کن　　درجهان خودرا بلند آوازه کن
برگ وساز کائنات ازوحدتست　　اندرین عالم حیات از وحدتست
در گذر از رنگ وبو های کهن　　پاك‌شو از آرزو های کهن
پور آذر کعبه را تعمیر کرد　　ازنگاهی خاك را اکسیر کرد
تو خودی اندر بدن تعمیر کن　　مشت خاك خویش را اکسیر کن

علامهٔ اقبال دخیبر په بې‌مرکزیه د سې افسوس کوی:

خیبر ازمردان حق بیگانه نیست　　دردل او صدهزار افسانه نیست
جاده کم‌دیدم از و پیچیده تر　　باوه گردد درخم وپیچش نظر
سبزه‌ین کبك او شاهین مزاج　　آهوی او گیرد ازشیران خراج
لیکن ازبی مرکزی آشفته روز　　بی‌نظام‌و ناتمام ونیم سوز
فربازان نیست دربند و ازشان　　ازتدروان پست‌تر پرواز شان
آه قوی بی‌تب وتاب حیات　　روز گارش بی‌نصیب ازواردات
آن یکی اندر سجود این در قیام　　کار وبارش‌چون صلوة بی امام
ریز ریز ازسنگ او مینای او　　آه از امروز بی فردای او

هو! دنور ومرکز ونه دپښتنو په وبنو کښل‌شوی‌خودوی څوکسه نه پوېږدی چه‌دیوه قومی مرکز خاوندان شی ؟! دنورو کورونو به مماتی اودهغو په‌وروناو کې به ولاړوی، مګر خپل کور به‌ئې وران اوهیڅ دجوړولو خیال به‌ئې په سر کی‌نه‌وی!! دنورو ننګه به‌ پرځای کوی خوخپله نژدې دی‌چه‌بی ننګه شی !! نوروته لوی لوی ملکونه ګټی خوځانته یوننګیالی کلی هم نه جوړه‌وی خوشحال خان بې‌ننګه کلی څنګه ښه‌ بیژندلی‌دی چه وایی:

مه وي هسې کلي چه د چړګو کوامې خوروينه
شل خمبې په ګور کې د نېستې له غمه مرينه

بل فکر ئې هېر دی خو په غم د زړه پسول دې
نر ښځې ئې واړه خوټنګې تنګې لوينه

ډېر ئې ملکان دي په کښې ښه ملک هغه دی
هرچه بې تنګی کا د چابېدې رشوت خورينه

کښېني په مسجد کې د سودو نه کا خبرې
ياد نورد لور دولو رونو ويل کړينه

لس کالو نه تېر کا په يوه جامه خېږ نه
ګوز وجود بربنډ په سر خيره ګيسپيږدې زرينه

خاندې پروانه کا شرم نه لري د تېښتې
ډېرې بې شرميه دژوندون د پاره ويينه

جنګ اره چه ورشي نور څه هيڅ نه کا بې تېښتې
جوړ چاروساله نيتي سکه ور ورنه د ربينه

نوم دو دانيو ويران بهر دي خوشحاله
لاڼرې ويران مه شه ورنغ په ورنغ ده کمتر ينه

هو ! خوشحال خان دپښتنو پرننګه ولاړ پښتون ؤ ، دپښتنو بې ننګې چه به ئې هر ځای وليده زړه ئې درد کاوه ، او دپښتنې ننګې په لاره کې ئې تر سر ، مال اولاد او هر څه نه تيرو ، ددې خبرې دا ثبات دپاره همدا خبره بس ده چه په ۱۰۸۹ هجری کال دده ځلمی زوی «نظام» نامې د ۲۶ کالو په عمر ځوانمرګ شو ، پس

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان بابا دې پښتنۍ ننګه د ډېرې ګرانه وه چه په هغه وخت کې ئې ور ټول عمر ئې په همدې پروازې داغ کوي چه «نظام» ولې د پښتنو په ننګه مړ نشو چه له ننګه قبر ته لحد ته ترد دې زيات به د ننګيالیتوب حس د پر ابز پيدا کيږي چه د سړي زلمي زوی ئې وړی خودی ئې په مرثيه کې وايي :

کشکې ځوان د پښتنو په ننګه مړ وای
نه چه ګور له روان شو له ننګه

تو له مرثيه داده :

څه داغونه زدې په زړه بابدې فلکه !
چه «نظام» دې له ما بېلکا خوائي ړکه
خدايه ! ته خو ستمګر نه یې دا څه کړې ؟
خلقه دې په دا کار کړه هکه پکه
په لحد کښې هغه مخ خوري په چينجيو
چه د هېڅا پرې پېرزونه وه ځوانکه
کشکې ځوان د پښتنو په ننګه کښې مړ وای
نه چه ګور له روان شوله ننګه
چه د قام په ننګه کښې ومړ هغه زوی به
په عالم کښې د خپل پلار غاده کا لکه

او پښتانه که څه د پښتنو الی حس لري بايد دې ننګيالي او جنګيالي پښتون مشروبنا ګاني په غوږ د کښې ونيسي او پرې عمل وکړي ځکه چه د خوشحال خان دې ټولو خبرو مطلب او خلاصه دا يوه جمله ده چه وايي :

پښتنو ! پښتنې ننګه مه پرېږدئ !!

# (۲)

خوشحال خان وایـي:

# اتفاق وکړئ، نفاق پریږدئ!

که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال خان به دوباره شي په د ځوان

د پښتنو یوه لویه بدبختي چه همیشه ئې دوی تباه کړي دي او یا ئې تباه کوي د پښتنو په خپل منځ کې بې اتفاقي ده بې اتفاقي هغه بد مزمن مرض دی چه د پښتنو قوي بدن ئې کمزوری او مړ کړ نه ئې نژدې کړی دی، بې اتفاقي هغه بد چنجی دی چه د پښتنولۍ د ونې ښکلې ریښې ئې سستې کړې او د اونه ئې اوس د چېه کېدو خواته کږه کړې ده، بې اتفاقي هغه بده بلا ده چه په هر میدان کښې ئې پښتانه مغلوب کړي او پښتانه ئې د نورو دلاس بازان او د دښمنانو د کټې د پاره استعمال کړي دي، بې اتفاقي هغه شیطان دی چه دوه پښتانه ورونه په جنګ سره اچوي او نه پرېږدي چه دوی په ګډه د پښتنولۍ په جنت کښې ښه او آرام ژوند وکړي، بالاخره بې اتفاقي د پښتانه ملت هغه لویه ناروغي ده چه په هیڅ وخت کې ئې پښتانه پرېښي نه دي چه ځان اوچت کړي یا د دنیا په ژوندیو قومونو کې حساب شي او دا اوس چه پښتون قوم تر نورو قومو پاته دی یو د پر لوی علت ئې هم دا بې اتفاقي ده، ځکه چه یو قوم یا یو ملت د یو جسد غوندې دی، نو که د جسد ټول غړي په ګډه سره د یو بل کومک ونکړي او په عمل کې سره متفق نه وي، هغه جسد هیڅکله د نورو ژوندیو جسدو په شان ژوند کولای نشي، بلکه ډېر ژر به داسې مړ شي چه نور به ئې خوړک نوم هم په نومونو کې وانه خلي.

پښتون خوشحال خان چه د ملي طبیب په حیث د پښتنو ټول ملي رنځو نه کتلي او معاینه کړي دي یوه ډېره لویه ناروغي ئې همدا بې اتفاقي بللې ده

چه د پښتنو ملي اتحاد ئې شاو لی او دوی ئې له هر چا نه ټیټ کړي دي، خوشحال خان د پښتنو هره چاره تر مغل ښه ګڼي، مګر دا چه مغلو یا نورو لوبې په کړې دي یوازې د بې اتفاقۍ نتیجه او اثر بولي او پښتنو ته د دوی هغه زوړ جلال او برم وریادوي چه د اتفاق او یووالي له کبله ئې مندلي ؤ، دي وايي :

هره چاره د پښتنو تر مغل ښه ده — اتفاق ورڅخه نشته ډېر ارمان
د بهلول او د شیرشاه خبري اورم — چه په هند کښې پښتانه وو بادشاهان
شپږ اوه پیړۍ ئې هسې پاد شاهي وه — چه په دوي پوري درست خلق وه حیران
یا هغه پښتانه نور وو دا څه نور شول — یا د خدای دي اوس داهسې شان فرمان
که توفیق د اتفاق پښتنو ته مومي — زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

بې اتفاقي د پښتنو کورودان کړي دي، که نه اوس به د دنیا له خورا لوړو او ژوندیو قومونو څخه وای .

هو! ملتونه او قومونه په پوهه او لنګیالیو اشخاصو ژوندي کېږي او د مدنیت لوړې درجې ته رسېږي. هر ملت او هر قوم چه ډېر عقلمن او کاربګر اشخاص لري هغه ملت او قوم تر هغه ملت چه دا کار اشخاص نه لري ډېر پرمخ تللی او د نیړۍ قومونو د راهنما او لارښوونکي حیثیت مومي .

تر کومه وخته چه پښتنو برجسته اشخاص درلودل او په یوه اتفاق وو، په ډهلي او اصفهان کښې ئې د شهنشاهۍ نغاري ډنګولې! خو کوم وخت چه ئې د بې اتفاقۍ بلا په کور ننوتله او میالي او د کار مشران ئې یا له منځه ولاړل او یا په خپل کور کښې ئې تر ګریوان وسره و نیول کورنیو بر خلافۍ، بدي او تربګنۍ ئې شروع کړي، هم هغه وخت د دوی شهنشاهي ختمه، چه خپله خاوره ئې هم نه وه ساتلی شوه او پښتانه له دغو روږد وازو ته ودرېدل، کوم د فکر خاوند چه به په پښتنو کښې پیدا شو خپلو ورونو او ترېرو به له پښو و ښو او مغزي به ئې وړمات کړ دا لا څه چه په دې به ئې فخر هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼلو. خودې ته ئې فکر نه و چه دیوه پښتون ورور مغزی ماتول خپل مغزی ماتول دی، هر پښتون چه دخپل مشر یا خپل پښتون ورور بده غواړی هغه که پوه شی په حقیقت کښې دځان بده غواړی؛ ځکه چه په لاس کې که یوه ګوته هم درد کوی درست لاس بېـه کـار نشي کولای. هم دا سبب دی چه خوشحال خان دپښتنو لـه دې بـد بختۍ څخه چه ګور په ګور سره جنګیږی ډیر سخت متاثر شوی او دپښتنو دا بد خوی داسي غندلی:

پښتانـه و لـړه بد خوی دی — ګور په ګور ګـاندی غور ځی
بو چه سر ګـاندی په یو ر ته — بـل ئـې و و هـی مغـز ی
د مغل دستر ګـو تـه ئی — اې خـو شحـالـه تـن اغـزی

خوشحال خان چه د پښتنولۍ او پښتنو د آزادۍ دپاره جنګیده د پښتنو ددښمن ګریوان نه ئې دانتقام دپاره لاس اچولی و اودې وچه ددښمن ګریوان پاره کړی او پښتنو ته ملی آزادی وګټي مګر ډیر افسوس دی چه د پښتنو نفاق او بې اتفاقی دخوشحالخان لاس ددښمن له ګریوانه وکیښ او په خپله ځینی ساده پښتانه ددی لاس پیچلو ته تیار شول، ددښمن په منصبو او وغولیدل مګر دهغوی په چل پوه نشول؛ دښمن پښتنو ته بیچاره و، خو دخپلو رشو توپه زورئې پښتانه په خپل منځ کښې په جنګ سره و اچول او ددوی تر منځ ئې دبې اتفاقۍ او نفاق اور بل کړ؛ خوشحال خان له داسې پښتنو څخه په دې ډول شکـایت کوی:

چـه مغل و نه مـی د نـړ لـه نـوره — درست پښتون می وعالم ته ښکاره کړ
اتفاق پـه پښتـا نـه کښې پیـدا نشو — ګنه ما به دمغل ګریوان پاره کړ
سره یو تر بل اخته دی په خپل کور کښې — په نفاق ئې غم و ما ته اجاره کړ
دمفسل پـه منصبو لـو غـرة ګـیږی — یـك باره ئې منځ په نفس اماره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دولت ورته ګټلی و، پـه تـوره — دا زما د توری نقش ئې آواره کړ
په منصب چه غولولـه کـا تورځه کـا؟ — مغل خدای و پښتنو ته بېچاره کړ

دښمنانو هروخت د پښتنو له بې اتفاقۍ څخه استفاده کړې ده، کوم دښمن چه غوښتی دی پښتون مات کړی او بائې د لوی والی مخه ونیسی هغه هېڅکله په توره پښتنو ته نه دی راو رانده شوی؛ که را وړاندی شوی هم دی سو به ئې نه ده وړی، خو پښتون چه همېشه تباه او برباد شوی دی، د خپلې بې اتفاقۍ او کور په کور جنګوله سببه شوی دی، دښمن د دوی منځ کښې شیطانت کړی، دسپین ګوند او تور ګوند، غلجی او درانی، مشرقی والی او جنوبی والی او قندهاری والی خبری ئې شروع کړی، تربګنی او تربورولی ئې د پښتنو منځ ته راوستلې، نور نو د خیبر غرونده سلامت کښېښستلی دی. او پښتنو هم د خپلې ساد ګۍ له امله یوله بله د کورو په ورانۍ لاس پورې کړی دی او بر د بره جزوی خبره ئې ترمر که سره رسولی دی، کورنی جنګـا نه قبیلوی جنګو نه شوې او قبیلوی جنګونه اولسی جنګو ته رسېدلی دی او په اولسی جنګو کښې، دېرو پښتنو کورونه وران، ملکې خراب، زلمیـان مړه شوی دی مګر هغه دښمن چه دا د اتفاق تخم ئې پاشلی دی همېشه د خیبر غونډی روغ سلامت ناست دی او کـان سره جنګوی او د پښتنو پر جهالت او ساد ګۍ باندی خاندی، ځکه نو خوشحال خان د پښتنو دې ساد ګۍ داغ داغ کړی دی او په پخوانیو پښتنو پسې اول کـړی:

که رښتیا وایم «شېرشاه» داسی نه و، — لکه مونږ یو نه پیداله کوهستانه؟
د خټکو د نفـاق لـه لا سـه سـیه — باچه غم ارم لـه خپله خاندانه
پښتانه چه بې ننګی کـا څوک ئې څه کـا — ګورستان لره به درو موله ارمانه
دا داغونه چه خوشحال لری په زړه کښې — رغېدل به ئې په تا کېږی سبحانه!

پښتانه هېڅ فکر نه کوی چه دا کور په کور جنګونه، د خپـل پښتون

وروړ د پښتو خاورې ایستل، د خپل تربور سره بده تربګنی کول، څه فائده لري؟ تر څو به دا ناوړه دودونه د پښتنو کور ورانوي؟ ځکه پښتانه اوس پېژني او خپل دوست او دښمن نه پېژني؟ په دنیا کې هر څوك د خپل قوم سره الفت او محبت کوي، حتی ځناور او حیوانات هم د خپل جنس سره دښمني نه کوي، اول انسانان خو لا دي د خپلو خپلوانو سره خپلوي و کړي، خو غیر له پښتانه څخه چه حتی ځني نا پوه پښتانه د وطن له دښمن سره دومره دښمني نه لري لکه په خپله د پښتنو سره ئې چه لري، نو ځکه خوشحال خان ورته وایي :

بد خوئي به د خپلوانو سره څوك کا    چه په خپله پخپل ځان نه پسندي اندوه
ما چه ولیدل انس زره قومه    د خپل ذات سره الفت کاهر کړوه

خوشحال خان د ځینو پښتنو تیتوالی او داچه همیشه په بلا لړي دي او د هیڅ ترقی، او آرامی، منځ لیدلای نشي دا ټول د نفاق نتیجه بولي او د داسي پښتنو په باب کې وايي :

چه به دیو کښې یو بنه وي    دمنه دسر جلا ددي
یو دبل په کمی ناست دي    ځکه تل په بلا یا ددي
په نفاق ئې واده ورك کړل    که شجاع دی که جوا ددي
نه دپلار په ویل کار کا    نه په نغته د استا ددي
اول زه دا نور له پسته    . څو شته واده دهیدا ددي

د الا شکر کړه خوشحاله
چه بنده نه دي آزاد دي

په پښتنو کښې بې اتفاقی اکثره د تر بګنۍ او تر بورولۍ په نامه پیدا کیږي مګر تر بور څوك دی؟ تره (کا کا) تر بور یعنی د کاکا زوی او تر بګنی یعنی له دې لاری څخه خپلوي ـ مګر له بده مرغه اوس چه په پښتنو کښې د تر بور یا تر بګنۍ نوم اخیستل کیږي نو که اروید و تکی

پښتون وی فوری ئې دښمن اودښمنۍ مفهوم مغز ته راځي ـ داولې ؟ دا ځکه چه ځینې پښتانه ساده ګمان دی خو په عین ساد ګۍ کې د پاك او صافو وزړونه خاوندان دي؛او دپښتنوالي هر دښمن شیطان چه ئې په ګو ته ووت اودی ته ئې دپل پښتون وروړ په باب کښې شیطانی و کړه دهغه خبره منی او نور ئې په غرض پسې هیچ پو ښتنه او فکر نه ګوری چه د اشیطان په دې شیطانت کښې څه څه پټ اغراض اری ، او ددهٔ سره ئې څه غمخو اری ده ، نو بې فکره د تربګنۍ څخه د ښمنی جوړه کړی اودخپل پښتون وروړ سره پرنه څه پر خلافی اوبدنیتی شروع کړی چه پای ئې و بنو نو بولو او ګوړ درانو او ته ور سپېرې لکه پرنګیا نو چه په دې سل کاله کې له همدې سی شیطانته کار اخستی او د پښتنو کورنۍ وران کړیدي، خو غیب لادادی چه خپل تر بور مر کړی یائې کور وران کړی بیا په دې کار ونو ځانته نـور بالی او ننګیـالی هم وائی، خوشحال خان داسې پښتنو ته وائی:

ور ته وایه توره کښېږده په صندوق کښې
هر سړی چه مړنی وی په تـورو

بلکه خوشحال هغه ځوك ځوانمرد ګڼي چه دخپل پښتون وروړ سل بدئ تر شا کړی او په دې دول خپله ځوانمردی څرګنده کړی:

که ځوانمرد ئې ځوانمردی په دی هلـه دی
سل بدئ چه هواره کړې دخپـل وروړ

خوشحال خان وایی هغه نایوه پښتون چه دپښتنو ورو نو ترمنځ نفاق اچوی ډیر نالائق دی ، یا باید اصلاح کړی شی او یا باید دپښتنوله منځه وو یستل شی، ځکه چه دپښتانه او پښتنو الی دپاره داسی پښتانه دجهالت اوناپوهۍ ، بربادۍ او تباهۍ مکروبونه دي :-

چه په ورو ورو کښې اتفاق کاندا لايق دي
يا ئې ښه کړه يا ئې مه کړه زه وه نور

د خوشحال خان زړه لا پر دې خبره ډېر درد کوي چه څرنګه بدبخته پښتانه د پښتني ننګ په کار کښې هم اتفاق نه لري او اتفاق نه سره کوي، حتی خوشحال خان امید نه لري چه په پښتنو کښې لس تنه هم په یوه زړه او د یوې لارې مله پیدا شي:

لس به هم سره ونه وينې په ننګ کې
که د رستم ملك سره پوره کړې تر تور سنګه

تاسې فکر وکړئ چه په یوه اولس کښې چه لس تنه پر یوه لار سره روان نه وي او هر يو خانته خانته لار و لري نو د داسې ملت او قوم پای به څه وي؟ ضرور به ئې پای بربادي، تباهي، د نورو غلامي، محو کېدل او تېتېدل وي. دنيا به په سپك نظر ورته ګوري او ور پورې خاندي به، د پردو د لاس آله به وي، ګټې به ئې دوی خوري به ئې نور اذليل، خوار، دزي، تيزي، لڅ او بربنډ به ګرځي د تر بګنۍ له غمه به سر ګرو لونه وز ګار نه وي، کار به څرنګه پاته د دښمن لاس ته به احتياج او په کاږه مغزي ولاړ وي.

د دښمن د پاره به خپل ورور وژني او د دښمن د پاره به د خپل ملي مشر مخالفت کوي... داسې قوم که غواړئ چه ورپېژنئ نو د پښتون اولس ته راشئ او د دوی کور په کور بې اتفاقي، او جنګونه و ګورئ، تاسې به ووينئ چه د پښتنو ملي مشران په سل کښې انيا د خپلو څېنو ساده پښتنو د لاسه پامره، پاورك او پابې قدره شوي دي، څکه نو خوشحال خان وايي:

په بل غشي تو يك هيڅ وېشتلی نه يم
که وېشتلی يم خو بيا په خپل تو يك يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان د پښتنو بې اتفاقۍ نا کام کړی او ده لويې لويې نقشې ئې ګډې وډې کړې دي، حتی په ملیونو پښتنو کښې زر جنګیالي زلمیان نشی مېندلای، د احکه چه نفاق له پښتنو څخه د کړو نیزو د یوال جوړه کړی دی چه هر څو ئې سموی نه سمېږی، د خوشحال خان د ژوند عمده غنیمت وختونه چه ده باید د پښتنولۍ او پښتونخوا د یاره په کښې تېر اوی لوی قومي خدمتونه کړی وای، د کورنۍ بې اتفاقۍ په اوارولو کښې تېر شول، دی داسې افسوس کوی:

بېګانه خواناڼ که زړله ما سره وای | نور زما ؤ په پنجاب باندې یرغال
که هر څو ئې سازوم رانه سازیږی | پښتانه دي د کبرو کانو دېوال
خدایه عمر مهلت دو کړې په دنیا کښې | چه کازه کاروبه سم کاندي خوشحال

خوشحال خان تعجب کوی چه دیوه پلار زامن څنګه یو د بل په ځان اخته دي؟ شور او غوغائې د څه د پاره ده؟ بله چاره نه وینی نو دعا کوی چه ګوندې خدای د پښتنو د انفاق ورك او پر ځای ئې اتفاق ور کړی:

دیوه پلار زو واړه | سره تل شور و غوغا
که څلور بنت دی که پنځوس دی | سره واړه شا په شا
مال و ملك دولت می ژغوره | په دا حال کښې ربنا
اتفاق په کښې باقي شي | د انفاق ئې شي فنا

خوشحال خان هم د پښتنو ته چه د بې اتفاقۍ له کبله ئې خپل پردي کړی دی داسې وائی:

خپل دي پردي کړل پر دي به خپل نه کړي
خصلت دي بد شو خصلت به بل نه کړي
غم دي په برخه شو ښادي به تل نه کړي
چه نا قابل ئې ځان به قابل نه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان د دښمن په مقابل کښې د پښتنو د ناکامۍ یو مهم سبب همدا بې اتفاقي ګڼي، ارښتیا همدا ده چه پښتانه په خپل منځ کښې اتفاق سره ولري هیڅوک د دوی د ترقۍ او لوړوالي مخه نیولای نشي. که څوک پر پښتنو غالب شوي وي نو همه وخت به شوي وي چه دښمن د دوی له بې اتفاقۍ څخه کار اخیستی وي، او دوی ئې په خپل منځ کښې بوله بله سره اچولي وي همدا ننګنه ده چه خوشحال خان ئې یادوي:

بخت د مغلو پښتانه نه پرېږدي　　　چه اتفاق وکا به توره زده کېږدي
ګنه که څه هومره پښتانه نه دي　　　چه ئې په یاد کا د مغلو زده رېږدي

خوشحال خان د دې د پاره چه پښتانه ښه پوه شي چه بې اتفاقي د دوی کور وران کړی دی او که پښتانه ښه آزاد او د نورې دنیا د انسانانو غوندې ژوند غواړي نو باید سره متحد او متفق شوي، یو د بل ملاتړي، یو د بل سره کومک وکړي او ټول اولس په یوه سلا د پښتنو نخوا او پښتنو د ژوند د اوږدوالي د پاره زیار وباسي، زحمتونه وګالي، خپل کمزوري ورو نه قوي او خپل ناپوه ورونه پوه کړي، خپلو بې کاره ورونو ته کار پیدا کړي او خپلې شاړې ځمکې ودانې او خپل وران کورونه جوړ کړي ..... تر دې ملت او قوم دافرادو ژوند د لاس د ګوتو سره مشابه کوي، وایي که یو لاس کښې یوه ګوته هم قدوي نورې ګوتې پوره کار نشي کولای او یا که یوه ګوته خوږوي نورې ګوتې هم ورسره دردمنې کېږي او یا که ګوتې په خپل منځ کښې کومک سره ونکړي وپه اتفاق ونه خوځېږي په هر کار کښې ناکامه پاتېږي:
دقوم یا د ملت د افرادو هم داشان مثال راوړي او وایي:

پنځه دي ګوتې دي که یوه نه وي　　　د نورو ګوتو چار به دې څه وي؟
دلاس خوبي ده په پنځه ګوتې　　　چه سره جوړې وي کار به دې ښه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپښتنو په هره قبیله کښې داسې دېرې بې ځایه ترېګنې او ګوندې شته چه له بده مرغه ئې ښېښتانه ددنیادنوې ژوند څخه لیرې ساتلې دي او پخپل منځ کې سره اختهدي، دالاځه چه دخپلو پښتنو بدې او ګوندې په بوه نسل باندې نه تما میږي څوڅو نسله دنور ګوند اوسپین ګوند غلجي اودراني خبرې پاتېږي اوممکن چه ادرس په پښتنو کښې داسي دښمنان هم سره وي چه شلم نیکه ئې کوم تربور وژلی وي او شلم نمسی ئې بدیالي او دهغه بل نیکه دنمسي وینو ته تږي ناست وي؟! دا یه کوم دین ، کوم مذهب ، کوم کتاب ، کوم انسانیت کښې روا او راغلي دي چه دوه انسانان بیا خصوصاً دوه مسلمانان په تېره بیا دوه پښتانه ورونه په سوو سوو کلونه نسل بالنسل په زړو کښې بوبل ته کینه سره وساتي او د یو بل وژلو ته دې تیار شي؟؟

خدای خو داسې خلک نه خوښوي. رسول د خدای خو له داسې کسانو څخه نفرت اري! انسانیت هیڅکله دا منلی نشي! مسلماني خو انسانان وورولې ته رابولي! ټول آسماني کتابونه انسانان صلح او اتحاد ته امر کړی دی، پښتنو اله خو هیڅ دې اتفاقۍ دخبرې اروېدلو ته تیاره نه ده نو نه پوهېږو او نه پوهېږو چه څه نو بدبختو ناپوهو پښتنو دا بدې، تربګنې او ګوندې له کومه ځایه اود کوم عقل او علم په مشوره خپل منځ ته راوستلې دي؟؟ په نه داد عقل مشوره ده نه د علم، خاص د ناپوهۍ او ساړ ګې له کبله د پښتنو منځ ته بې اتفاقي راغلې ده او د پښتنو پښتو، پښتنواله او پښتو نخو ئې ورانه کړې ده نو څکه خوشحال خان له خدا یه پښتنوته داسې اصلاح غوادې:

خدای دې ورک دپښتنو کاردارې تو که

بو بد جهل ، بل بد قیست ، در یم نفاق

د بوه ملته یا یوه قوم څخه داسې ناوړه خوبونه ون کول او قوم دلوړ والي خوا ته بیول دقوم دمشرانو کاردی چه خپل ناوړه کشران پوه کړې دهغوی

له‌منزو شخه د بې اتفاقۍ فکر و باسي مګر د دې افسوس خبره خو داده چه اکثر د داسي بدو خوېو رواجونکي پخپله څښتني مشران وي او داهغه مشران دي چه شخصي غرضونو دوی ړانده او کاڼه کړي دي او دهغه دې شخصي غرضو نو له کبله دملي او قومي ورور ښه دملګه دخپلو خپلوانو او خپلوانو سره مخالفت کوي داسي کسان دخپل شخصي غرضونو دپاره هري بې ننګۍ او بې پتۍ ته تيار وي حتى ملي ګټي او فائدې هم ترشخصي غرضونو قربا نوي تر پښتو پښتنو الي او قوم تېر يږي مګر تر خپل شخصي غرض نه تېريدلي نشي نو ځکه خوشحال خان دې خو دغرضو ته‌وايي :

کام دزړه که هر څو ښه دی — ترايما نه دی ښه نه دی
چه ئې دا اند ښېښه نه‌وي — هغه کس سري په څه دی
ته ئې دين وينې په ستر ګو — غافل وينې نه دی او ده دی

تر دې وروسته نو خوشحال خان دا تفاق فايدې او صفتو نه‌بيانوي پښتنو ته وايي چه اتفاق ګلزار دی او نفاق خارزار که‌ته‌ئې غواړی چه خار کشان او سې له نفاقه‌مه‌لېري کېږي او که د ګلو مشتاق ياست نو دا تفاق لاره ونيسي :

چه درست ګلزار دی دا تفاق دی — چه درست خارزار دی ګنده نفاق دی
خاردی به بخره د خار کشانو شي — هوښيار د ګلو د ګلزار مشتاق دی

دخلقو دولت په اتفاق بولي خوار هغه څوك ګڼي چه په نفاق په بده لار روان وي خو بېر دې افسوس کوي چه په ژوند کښي ئې هيڅ يو داسي ملګري چه يك رنګه وي نه دی موندلي نو وائي :

دولت دخلقو په اتفاق کښي دی — هغه به خوار شي چه په نفاق کښي دی
زده شوم يو يار مي يكرنګ ونه ليده — ژ ده مي تر اوسه په اشتياق کښي دی

اول خو په پښتنو کښي ددوی دبې اتفاقۍ له سببه مشران نه دي پيدا شوي که پيدا شوي هم وي دخوشحال خان غوندې به دخپل قوم دلاسه ورك يا فرار شوي

وي، که له دې نه هم زيات شي نو بيا پرېږد ووايي د خان او ملك او حاكم په نامه لخان لحيثي درك نشي، د غريب قوم غوښې به خوري او د اصلاح فكر به ئې له سره په سر كښې نه وي، نو ځكه خوشحال خان پښتنو ته پوه مشران غواړي چه د پښتنو له منځه بې اتفاقي ورکه کړي او د ناپوهو مشرانو له لاسه اولس وران وينې دي وائي :

خداى چه ورك كا نه مېړونه په اولس كې　　پښتنو هغه اولس به بيا ننګه
يا به كوز په كور اخته شي په مير ځېو　　يا به ملك او مغل ور كاندي بې جنګه

خوشحال خان د پښتنو د بې اتفاقۍ غم خوړ، چه د بې اتفاقۍ او ښې دده د كور منځ ته هم چوك شو او د نفاق بلا دده په خپل كورونو نه و، دده زامن ئې له ده ځنې بېزاره كړه او دده د كور نې ديوالي رنګه ئې رنګوله، نو ځكه خپلو زامنو ته په قهر دي، وايي :

زما زو په د ننګ نه دي نمر بقار دي　　پرې پوهېږم چه همه واړه مردار دي
نه ئې او به الله بخښه نه ئې لري كار شته　　د مغلو د طباخ وته تيار دي
د منصب دا ضافو خبري كا ندي　　په عزت په حرمت كله خبردار دي
اتفاق يكانګي ئې سره نشته　　هركي روان په بېله بېله لار دي
په دا نوم دي نه د شرم نه د ننګ دي　　الهي بښمي ئې د ناكس د نامردار دي

د دنيا ډېرې ښادۍ د هغه قوم دي چه اتفاق ولري ! زحمتونه او غمونه هغه چا له دي چه يا دروغ وايي او يا په نفاق اخته دي خوشحال خان وائي :-

څو څو ښادۍ دي په دا آفاق كښې　　وايه به بيا مومي په اتفاق كښې
څو څو غمونه بيا محنتونه دي　　يا په دروغ كښې يا په نفاق كښې

په دوه رنګي كښې فائده نشته، كه پښتانه سود غواړي بايد په خپل منځ كښې يك رنګ اوسي د خوشحال خان هم دا غرض دى چه وايي :-

آفت که ګوري په بې تنګۍ کښې دی          نکبت دی هر په دل تنګۍ کښې دی
ماله دو ورنګو فائده ونه لیده          که سود دی سود خو په یکرنګۍ کښې دی

خوشحال خان د پښتنو د پاره داسې د اتفاق نیا غواړي چه په هغه کښې د پښتنو هره طبقه کښېنه · اوده · بلکه او غریبه طبقه په آرامۍ او سر اوږدي ژوند وکړي داسې اتفاق نه غواړي چه یوه طبقه ئې په خپل منځ کښې ولري مګر له بلې طبقې بدوډۍ او بیازده نه ور نژدې کوي · ځکه چه هره طبقه پر خپل ځای او خپل کار کښې لازمه او محترمه ده حتی خوشحال خان د نا پوهانو طبقه هم بیکاره نکښي بولي دومره خبره ده چه هغه باید وروزله شي لو وایي :-

که نادان دی که هوښیار ان دی          ګمان دا مکړه چه بیکار ان دی
خوازه ترخه ئې واده بکار ګنه          چه پیدا شوي په دا بښار ان دی

خوشحال خان وایي که څه زده زړونه په یوه اتفاق کوم سخت کار ته اقدام وکړي هغه کار به که څه هم ډېره په شان سخت وي د اتفاق له برکته نرم شي :

دوه زړونه چه یو شي غر به هم پاره پاره کا
خار نو بکرنګۍ چه نعمتونه را بکاره کا

* * *

مشورت او مصلحت: کوم وخت چه د پښتنو منځ کښې اتفاق راغۍ نو دوی مجبور رېږي به هر کار کښې د یو بل سره مشوره او مصلحت وکړي نو هر کله چه کارونه په مصلحت او مشورت شي نو بیا هیڅ نیمګړتیا په کارونو کښې نه ویني او چه کارونه سم شوه د پښتنو ناوړه ژوند به هم سم او د پښتنو به په منځ وړاندې ولاړ شي او د جهان په ژوند یو قومو نو کښې به شمار شي! ځکه چه د ژوندون ټولو کارو نو اساس په مشوره او مصلحت بناء دی او له آدمه تر دې دمه هر مهم کار چه پای ته رسېدلی د مشورې او مصلحت له برکته دی نو هم داسبب دی چه پخوانیو پښتنو به په هر کار کښې خصوصاً به قومي کارو

کې چېرګې اوسېږي کولی د پښتنو مشر او سپین ږیري که به هر څو پوه او هوښیار هم وي له خپلو ملګرو او خپلو کشرانو سره به ئې مشوره کوله به خپل سر ئې کار وله نه اجرا کول. مګر هغه وخت چه د پښتنو په منځ کې د بې اتفاقۍ او نفاق بلا را ګډه شوه او ګور په ګور، کلي په کلي، قوم په قوم بدې شوه نو پښتانه تو ئې تو ئې او هره توته په بېلو بېلو لارو روانه شوه نه کشرانو د مشرانو پر خبرو غوږ نیوه او نه مشرانو د کشرانو سره مشوره کوله نو نتیجه دا شوه چه کشران له مشرانو څخه په نفرت شول او له مشرانو څخه مستبد ان او ظالمان جوړ شول او پایائې هم دې تباهۍ ته را ورسېده چه اوس ئې وینو ځکه نو خوشحالخان اول د اتفاق غلبلې ووهلې او ورو وسته ئې د پښتنو پر له بله سره مشوره او مصلحت مهم او لازم وباله بلکه دې د کائناتو بند و بست هم په خبرو ګڼي چه وائي:

بندوبست د کائنات دی په خبرو ... بو تر سله صد قه شه سل تر زر ڤو

خوشحالخان د پښتنو د یاره مصلحت بو قومي فرض ګڼي او هلته چه څلور پښتانه د مصلحت د پاره سره کښېني هغه ځای د دوی په مصلحت نو راني بولي او که په اخلاص څلور تنه په اتفاق لاس و نه یو رته کړي او دعاو کړي د هر راز فتح او نصرت ور پر انیت کېږي - نو ځکه وائي:

دنمانځه نر قضا ګر نه د اقضاده ... چه قضا شي د څلور و مصلحت
نوراني ګا هغه ځای چه سره کښېني ... د یرینه څلور هوښیار په مشورت
په اخلاص چه په دعا لاس و نه هسك کا ... ور په پرانیت شي د فتح د نصرت
بې کنګاشه به هېڅ کار په لاس وانه خلې ... چه خبر دې د کنګاش په برکت(١)

خوشحالخان په هغه کار کښې چه بې مصلحته وشي هېڅ برکت نه وینی دده په نزد خیر و برکت هلته دی چه مصلحت وي - دی وائي:

---

(١) کنکاش نر کي کله د ده چه مشوره او جرګې نه وایې؛

په هر کار کښې مصلحت شه　　خپل پر دې نه نصیحت شه
چه کار بې له مصلحت شي　　کله خیر برکت شي

مصلحت او مشوره هغه څوك نه کوي چه خود پسند وي او هر څه ئې د ځان خوښ وي داسې خلك که مشران وي که کشران په اجتماعي دنیا کښې د وې بیسې قیمت نه لري داسې کشر نې سره او هسې مشر مستبد بلل کیږي، خو هغه څوك چه هوښیار او پوه وي هغه به هیڅ کله نه بې سره کیږي او نه مستبد او نه به یوازې په خپل عقل او فکر دومره غره وي چه هیڅ مشوره که څه هم مفیده وي نه اروي دا لوی جهالت دی. ځکه نو په پښتو کې متل دی "هر څو چه هوښیار یې کم عقل پوښته" له خوشحال خان هم وایي:

چه د خپل عقل وبل کا هغه کله خرد مند دی
چه پوښتنه مصلحت کا هم هغه د عقل بند دی
چه مې فهم فکر وکړ په دا خبره دانائي کښې
بل نادان را ښکاره نشو که نادان دی خود پسند دی

خوشحال خان د هغه چا ضرر ضامن کیږي چه په مصلحت کارونه کوي دا ځکه مصلحتي کارونه ضرر نه لري او وایي چه سړی په یوازې سر رستم کېدلای نشي همدا راز پښتو متل دی چه "له یوه لاسه ټك نه خیږي" خوشحال خان خپل ضمانت داسې بیانوي:

که سړی به مصلحت کښې لر بر نشي　　زه ضامن چه د ده کار به ابتر نشي
دوستم د مړ نتوب خبري او رم　　ولې څوك به بې لښکره صفدر نشي

هغه څوك چه بې مصلحته کار کوي که څه هم د بر دولت و لری برکت به ئې ونه وینی او هر څو که ئې بخت بیدار وي بیا به هم په ژوند کښې بې ندامته بل څه ونه گوري نو خوشحال خان وایي:

هر څوك چه كار كا بې مصلحته      هيڅ به ونه خوري بر له دوالته
كه بخت ئې هر څو كا ونه ساز كا      خالي به نه وي له ندامته

مګر پخپله مصلحت هم دانائي او هو ښياري غواړي ځکه آسانه كار نه دی خوشحال خان وايي:

چه كار د چا مشكل شي په تد بير و بله كښېني
دا كار څه آسان نه دي دانائي د ولړه بويه

خوشحال خان مصلحت د ټوپك په شان او د سړي مقصد د هدف غوندي ګڼي هدف چه څوك ولي هغه بايد اوړې ډير څيرشي پس له هغه ګذارو كړي ، همدا شان څوك كه غواړي خپل مقصد ته ورسيږي اومړي بايد مصلحت او غور وكړي بيا نو اقدام شروع كړي ، خوشحال خان دا مثال څنګه ښه واضح راوړي:

مصلحت لكه تو پك دي      ستا مراد لكه نخچير
كه دي ښه ګذار په كاروي      قراول ئې كا ښه لحير
په ګذار كښې هول مكړه      په خپل لحان او سه خبير
نور ماشه كړه بالدي كوزه      ارو بر مكړه انظير
زه خوشحال خټك ضامن يم      كه خطا دي شي بو تير

تر دې ځايه چه د مصلحت او مشورت خبرې راورسيږي نو خوشحال خان پير نه د اتفاق خوانه ګرزي او د پښتنو داسې اتفاق او يو والي غواړي چه ټول پښتانه په يوه زړه ، په يوه خوله ، په يوه قومي او ملي لاره سره روان شي او ټول په يوه سلا د پښتنو ، پښتنو والي او پښتونخوا د لوړ والي د ياره ملاوي وتړي او د ننګ په كار كي پټ او ښكاره له قند هاره تر اټكه سره يو شي نو وايي:

درست پښتون له قند هاره تر اټكه
سره يو د ننګ په كار پټ او اشكار

نو پښتنو ویښ شئ !! دنیا ډیره ګړندۍ پرمخ روانه ده ـ
په دنیا کښې یوازې تاسي نور هر ملت او هر قوم نه وروسته پاته شوي یاست !
حال داچه په پخوانیو زمانو کښې د دنیا تر ډیرو ملتو دمخه واست !

څو تر څو غفلت ؟؟ څو تر څو د خپل کور وړانول ؟؟
څو تر څو خوب ؟؟ څو تر څو ناپوهي ؟؟
څو تر څو بې اتفاقي ؟؟ څو تر څو د دښمن په خوله غولیدل ؟؟

څو تر څو تربګني او ګوندي ؟؟ څو تر څو دغلجي او دراني خبري ؟؟
پریږدئ خدای ته وګورئ دا بد خوبونه پریږدئ لږ دنیا ته وګورئ ویښ شئ !!
خپله پښتو ، پښتونواله او پښتونخوا په خپل لاس مه ورانوئ !!
دخوشحال خان دا له درده ډکه ناره واورئ چه تاسي ته وایي :

پښتنو! اتفاق وکړئ ، نفاق پریږدئ !!!

(۳)

خوشحال خان خټک

# د پښتنې خاورې سره علاقه ولرئ!

د پېښاو پاتې خوره په غره کښې او سه
نه چه یې د هندوستان خوري زما جنده!

پښتانه چه هر ځای وي د پښتنې خاورې سره علاقه او مینه لرئ نو ځو ازې مینه د زړونو کفایت نه کوي باید هر پښتون د پښتنې خاورې د ساتنې د پاره د زړه د بیخ او د وروزنې د پاره ئې د ټنډې خولې توئې کړي. مونږ کلکه منو چه مگر د بل چا تجاوز پر پښتنې خاوره و نه منی او په دې هم باید هر پښتون پوه شي چه پښتنې خاوره یوازې هغه ځای نه دی چه یو ځای کېږي چه دی او دی کورنی پکښې اوسي بلکه هر ځای چه پښتانه اوسیدلي وي او د دوی د ټبرونو په هڅو او هغه محکه راپور ته شوې وي هغه پښتنې خاوره ده. نو پښتون چه د پښتنې خاورې په هر گوټ کښې اوسیږي باید د ټولې پښتنې خاورې سره علاقه ولري د پښتنې خاورې د یو سر پښتانه باید د بل سر له پښتنو سره د زړه رابطه وساتي په خوښۍ ئې خوښ او په غم ئې غمجن وي.

که د پښتنې خاورې په یو گوټ کوم فشار راشي باید ټول پښتانه په هر ځای کښې چه وي په یوه سلا د هغه فشار د لرې کولو د پاره ملا تړلې او که ضرورت وي د خپلو پښتنو ورونو د آرامۍ د پاره خپل سرونه هم پر میدان کښېږدي او با که کوم د پښتنو او پښتونوالی دښمن پیدا شي چه و غواړي د پښتنې خاورې څخه کومه ټوټه جلا کړي، او په داسې وخت کښې د ټولو پښتنو ملي فرض دی چه د دفاع کارې میدان ته حاضر شي او په هره قربانۍ چه وي د خپلې پښتنې خاورې څخه د پردیو مردار لاس نه لنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او پ ې نه زدی چه پښتنی خاوره نوتې‌نوتې شی او یاد نورو د خاوری سره ئې څوك ګډه کړی .

ملی مشر خو شحال خان چه دمتیجا وزینو مقابلې ته ملا تړلې وه د همدې مقصد دپاره ـ مګر لځینو هغو نا پوهو پښتنو ته چه په پردی یان غولیدلی وو ، دوطن او پښتنی خاوری مینه داسی ورپیا دوی :

که مې بو لځله رسید و شی ترسیندده — نوردی‌ده‌و یئم په نورو ستر ګو هنده
له به ستر ګې دسړی په چاخوږې‌شی — نه‌ئې ماته پسه اوبو شی دچــا قنده
دبېبلو یانه خوره یه غره کښې از سه — نه‌چه‌یان دهندوستان‌خورې‌زماجنده

بل وخت چه به لځینو ساده ګــانو پښتنودبل هیواد تعریفونه کول او یا به ئې تر پښتنی خاوری بله خاوره ښه ګڼله ، خوشحال‌خان په‌ډېر قهر دهغوی خولې ورما توی اودبل ترچمنیا ګل دوطن خار ښه ستایی :

خدا یه ماتی‌هغه خولې کړې — چه به و ایی هندو بــار ښه
ښه‌یه هند کې چمنیا ګل دی — نردا ګــل دوطن خــار ښه

خوشحال خان چه خپل پښتنی حکومت یه‌خپله‌پښتنی خاوره کښې نه‌وینی اویه هند کښې نظر بند ګرزی نوهند پرده دوزخ اودبل حکم برې زندان دی لځکه نو وایی :

هند یه مابــا ندی دوزخ شه — که یه نور عــالم جنت دی
دبل حــکم برې زندا ن شی — چه‌یه خپل حکم عا دت دی
نه خپل ور کړل رانیول شته — نه‌خپل حکم حــکو مت دی

خوشحال خان هیڅوخت دهندو ستان دعیش وعشرت ، نازو نعمت په وطن کی خپله سپېره پښتونخوا او پښتنی خاوره هېره کړې نه‌وه ، تل‌ئې لــه هغه لځایه خپلی پښتنی خاوری ته سلامونه رالیږل او دائــې آرزو وه چه کله

بهٔئې دخپلو غرو سرې او به په نصیب شي، او خپله دا آرزو په داسې الفاظو کې څرګند وي:

که ګذر په «خیرآباد» وکړې نسیمه!
یا دې ګشت وشي د «سرای» د سیند په سیمه
په بار بار سلام زما ور ته عرضه کړه
ور سره زما د لوري څو تسلیمه
ابا سیند وته ناره وکړه په زوره
و «لنډي» ته وښا؛ و وایه حلیمه
ګوندې وي چه بیا مې ستاسې جام نصیب شي
په «ګنګا، جمنا» به نه ؤم له قدیمه
که د هند دعوا زار کړم څو به زار کړم
د اوبو بلا ئې لا بده عظیمه
که دلبر او به ښې کولمې پرې باسي
هم دهر کوهي اوبه نه وی بې بیمه
چه سړې او به دغره نشته په هند کښې
تږې تر به که را نه دك دی له نعیمه
همیشه به په هند نه اوسې خوشحاله
عاقبت به عاصي ورزی له جحیمه

داتوله غندنه ددې دپاره وه چه خوشحال خان پښتنو ته د پښتنې خاورې مینه او محبت وښیې او ددې ته وټابې چه پښتنې خاوره د پښتنو ده او پښتانه باید په خپله پښتنې خاوره کې واوسي، نه دا چه د دوی خاوره د پردو د خاورې سره ګډه شي ځکه چه پښتانه دخپلې پښتنې خاورې خاوندان دی، او دخپلې پښتنې خاورې واك باید د بل چا په لاس کښې ورنه کړی او پښتانه بې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتني خاورې بل ځاى ته آزاد ژوند کولاى شي او نه په پرديو وطنو کښې دپښتون قدر کېدلاى شي ځکه ښه لنډۍ ده :

مـو لا دې خپـل وطـن تـه بـو زه
پر دي وطـن د مړو قـدر کمو ينه

دپردي وطن بوټي ارخا شاك لا په سرې خو لې لـګوي، يوه پښتنه انجلۍ چه له پښتني خاورې جلا شوې ده دپردي وطن نفرت داسې څرګندوي :

مورې ! لـنډۍ کمېس راوکـه
پردي وطن دي ترخې خولې رالګوينه

خوشحال خان هم په پردي وطن کې خوښ نه دی، خوښي ئې يوازې په خپل وطن ده چه وايي :

دخوشحال دزړه خوښي نشي بې سرايه
خپل وطن ئې پر هرچا بالادی کشمير کړ

دپښتونخوا سپېرې ونې لاهم پښتنو ته چندن وخاورې ئـې مښکـو عنبر او کـانې ئې د سرو زرو په شان قيمتي دي ـ خوشحال خان وايي :

دوطـن ونـې چنـدن اګـر دي      خاورې ئې واړه مښکو عنبر دي
که ئې سرای اوړو وته سنګپر دي      کـانې ئې واړه ما ته سره زر دي

ځينې نا پوهان چه دڅو پيسو، بادکوم منصب دپاره ئې خپلې خاورې ته شاه کړې وه او دنورو دنوکرۍ په غرض به ئې له خپل ګران وطن څخه کوچ کاوه خوشحال خان ئې داسې تنبيه کوي :

درزي لا ګز لري، مقراض سوزن لري
پوجمدر کوټې خوشحـال خيرن لـري
کوچ ئـې آسان دی مشکل هيڅ نـه دی
غـم د يـارانـو درد د وطـن لـري

هو، څوك چه حقیقي پښتون وی هغه باید دوطن دردواری او د وطندارانو غم ورسره وی ، او څوك چه دوطن درد لری ، یاد وطندارانو غم ور سره وی هغه هیڅکله پښتنی خاوری نه پریږدی او نه د نورو لپاره گوری منی ، او غیر له خپلې خاوری څخه نور هرځای باندی سقروی ، لکه خوشحال چه وایی :

نور جهان سقر شو باندی سرای دار القرار دی

کله به خوشحال دار القرار اره ور د روغی

خوشحال خان چه د پښتنی ننگی پر ځای کړو او د پښتنی خاوری د آزادلو دپاره د مغلو بندونه ځان ور کړ او په رنتبور کښی ددښمن په لاس کښی بندی و ، نود پښتنی خاوری مینی او عشق ئې په زړه کښی داسی لمبې وهلې چه ویل به ئې :

پښتنې جونې دې زلفې یاد ته نیسی
چه شمال ئې دوی راوړی په رنتبور کښی

بل وخت چه د پښتنو د ننگی دپاره غره ، په غره ، پناوړو ژورو سرگردانه د پښتنی خاوری د یوې تراتې په ننداره ئې هم زړه خوشحاله دی او ځان د فلك منت بار بولی چه وایی :

لا منت لرم په داهم له آسمانه ننداره دا باسیند له «میر کلانه»

په «تیرا» په «سوات» په خود مور په ورشوم بیامی کوم لوری ته نه بیایې آسمانه

د «لنډی سیند» او «بادې» اوبه د شربتو غوندی په خوشحال خان خوږې لگی او د «ماترې» دغره لرو والی داسی ستایی :

یا اوبه د لنډی سیند یاد بادې دی چه په خوله می تر شربت لگی شیرینې.

دما ترې غاښې لیخ دروی و آسمان ته په خاته خاته لنډیږی باندی سپینې

خوشحال خان د پښتنی خاوری په ا کثرو سیمو کی گرزیدلی دی او ټولی سیمی ئې ښه ستایی. خصوصاً خپل ټاټوبی «سرای» ئې ښه خوښ دی ، تاسی گوری د سرای جغرافیائی وضعیت څنگه ښه بیانوی : ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت په اګوړی شه چه ئې ونیوه ځای سرای
چه بنه فهم ئې وکړي باور و کړه ځای دی

تور غرئې د هوډې دی تر تیرا یوړي سم تللی
نیلاب واندې دوامو عجب سره ښئی پسه پسای

پرې سازه لویه لار دهند وستان وخراسان ده
ګذرئې داتك دی چه تري ترس کا شاه ګدای

هر فیض ددې جهان څه چه یادیږی پرې رادرومی
چه ملك ئې بارانی دی څه بهار لری های های

که سوات که اشنغر که پښور دی دامل کو نه
رجوع لری و ده ته فیض ور درومی دهر ځای

په هر لوری ئې ښکار شته دشاهین دباز او مرغه
واه واه کاله یانه ئې چه ئې ښکاردی دلربای

ځوانان ئې چاق، دزست، چست وچالاك دی په هر کار کښې
خوښی ستر ګی سپین اوسربلنده بالا دی په نمای

آسمان ځنی جدا کړلاس دچا رسی آسمان ته
خوشحال له سرایه نه دی جدا شوی په خپل رای

له دې نولو څخه داځر ګندیږی چه ننګیالی پښتون خوشحال خان خټك

د پښتنی خاوری سره ډیر زیات عشق درلود او هم ئې پښتنو ته ویل .

ښې دی تر منګو د وطن خاوری
نـودې اوبـه دی دوطـن وا وری

❀ ❀ ❀

پښتنی خاوره کوم ځای ته و یلی شو ؟

---

د هغه موزوبل چه په هر هغه ځای کی چه پښتانه د کلو کلو راهیسی میشته وه
او یا میشته دی اود پلرو ادنیکو نو هدیره ئې جوړه ده هغه پښتنی خاوره بلله کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اسلام قلعه او هامون ( سیستان ) څخه را نیولې ترا با سیند پورې او د آمو له غاړې څخه بیا تر بحیرهٔ عرب او له بلې خواله چترال څخه تر بحر هند پورې پښتانه پراته دي خود پښتنې خاورې ځینې ټوټې انګریز انو په غیر حق دیخوا لې هندوستان او ننني پاکستان سره ګډې کړې او هغه ئې د دیو رنډ دمنحوس او فرضي خط په واسطه له پښتنې خاورې څخه جلا کړې دي ، مګر او سیدونکي ئې بیا هم پښتانه دي او هیڅوک نشي کولای چه د دوی زړونه له پښتنې خاورې څخه بیل کړي. بلکه ننني سباوینو چه هغو ټولو پښتنو خپله خپلوا کي غوښتې ده او غواړي ځانونه په آزاد پښتونستان کې شامل کړي —

داځکه چه دوی پښتانه دي او له پښتنې خاورې سره علاقه او مینه لري نه غواړي چه تر ا بده تر دوی د پلار او نیکه مینو نه د تورو تر پښو لاندې وي او یاد دوی واك د نورو په لاس کې وي او دائې طبعي حق هم دی.

دا ټك د سیند څخه مخ په کښته جنوب ته د ملتان او سیند په خوا ؤ کې او بیا دا باسیند نه مخ په لمر لویدو او د شمال خوا نه پلر ګنې، پلر ګنې، پښتانه پراته دي، بر سیره په دې د پنجاب او سیند په صوبو کې د اباسیند په نمر خاته غاړې د پښتنو داسې او لسونه پراته دي چه او س هم پښتانه دي، خپله ژبه او د روایات ئې ساتلي دي لکه چچ ، عیسی خیل ، ساغوري ، داؤد خیل ، مکهړ ، میان والي ، ډیرهٔ غازي خان به پنجاب کښې ـ او ښکارپور ، جیك آباد په سینده کښې ، لنډه دا چه له چترال څخه نیولې مخ په جنوب تر بحر هند پورې د پښتنو غټې قبیلې پر تې دي چه د ځینو قبیلو نو مونه ئې دادي : ـ

یوسفزي ، مندڼ ، زاړه سواتي یعني اتمانزي ، تارخیل ، چارخیل ، ا کازي ، مشواڼي ، مامونډ ، سالارزي ، ارتمان خیل ، مومند ، صافي ، رانیزي ، محمدزي ، خلیل ، ختك ، اپریدي ، شنواري ، ور کزي ، توري ، بنګښ ، بنوڅي ، وزیر ، دوړ ، مسعود ، نیازي ، بیټاني ، سدوزي ، نورزي ، اچکزي ، کاکړ او نور ...

د هغو غټو علاقو نومونه چه د پښتنو د اقبیلې په کښې اوسېږی او انګریزانو غوښته هغه سره ټوټې ټوټې او جلا کړی دادی : ـ

ګلګت، هونزه، نګر، یسن، چیلاس، ( د جمو ، او کشمیر مربوطات) ګبر، بګرو، سیو، پټالس، جالکوټ، تندیار، کاګان، اګرور،

اوګی ، تیکری ، اکوزو دره ، سپند کری ، امب دربند ، چترال ، دیر، سوات، باجوړ، ارنګ برنګ ، مهمند ، پېښور، مردان، ګنداب، ګیا کیل ، کوهات. تیرا، کورمه، وزیرستان، (د میرانشاه وانه) بنو، دیره اسماعیل خان دیره غازی خان غربی برخه ، ټول بلوچستان چه په قلات ، لس بیله ، خاران کویټه ، هرنائی، سیوی ، چمن ، او پښین ، ژوب ، مشتمل دی [1]) چه په دی ترتیب په دې علاقو کښې تقریباً او یا لکه یعنې اوه ملیونه پښتانه دی چه په یوه سیمه او یو څادر کی سره اوسېږی او ژوند تېروی ، علاوه دافغانستان له خاوری داتولی علاقې پښتنی خاوره بلله کیږی او دخوشحال خان سره د ټولی خاوری د آزادی او اتحاد غم ؤ ، مګر ځکه چه پښتانه دغفلت په خوب بیده وه نو ځکه ده ورته ویل :

سرئې هوری قند هار بل ئې دمغار دی
تر دا منځ واړه مېشته همه عبث دی

خوشحال خان یوازی دهغو پښتنو د آزادی زیارنه یوست چه دی پکښی اوسېده بلکه دټولو پښتنو اتحادئې مقصد ؤ ، غوښته ئې چه ټولوی پښتون جوړه کړی . نو ځکه ئې پر کابل چه داوسنی افغانستان مرکز دی هم دانه پېرزو کېدله چه پر دی متجاوزین حکومت بالادی وکړی او پښتانه پکښې خوار وی نودائې :

---

۱ـ د کابل مجله ۲۱۷، ۲۱۸ ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل میوې خوراك دی د طوطیانو
ډېرې خواره شول نور کارګان له هندوستانه

بل ځای د کابل سره خپله پښتني مینه داسې څرګندوي،

نور باغونه د نو روز په وخت غوړېږي په اهال کا غوړېده د کابل باغ
ستاله باغه بو ګلان ما لره دولت دی نه په سل رنګ ګلونه د بل باغ

د ګوري، چه خوشحال خان د کابل یو ګل د نورو د سلو ګلو سره نه برابروي همدا شان کابل چه د پښتنو مرکز دی د دهلي تر ښار ښه ګڼي او د دهلي ورانۍ تر کابل د مخه غواړي مثلاً وايي:-

چه لا ښهر د دهلي شته نو څو شه ما له
څه فائده که وران په آسره کابل کړم

همدې مینې مجبور کړی ؤ چه کابل ته راشي او په ۱۰۸۰ هجري کال ئې په کابل کې خپل پښتني احساسات څرګند کړي دي چه وايي:-

پوره زر اتیا کلونه په کابل کښې
داغزل مې په بیاض بانډې تحریر کړ

خوشحال خان چه په پښتني خاوره د پردیو متجاوزینو مظالم ایدل نو بې له دې ئې بله چاره نه لیدله چه یا باید مقابله وکړي او یا غرونه و خیژي نو وايي:-

دا کشور له سر تر پایه کفرستان شو
یا مې ځای کړای غاړې غرونه یاغز دي

خوشحال خان په پښتني خاوره کې د پښتنو دښمنان کتل چه د پښتنو پېغ کازي او بربادیه نه ئې ناست دی، یا پر دی ره چه د خپلو په جامه کې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانونه ښکاره کړله او یا په خپله ځینی بدبخته پښتانه وه چه د ساد ګیرله کبله د دښمنانو په رشوتونو او منصبو تو غولیدلی وه نو خوشحال خان پښتنو ته داسی لار ښیی :-

رخنه ګر د ملک پری مېږده په خپل ملک کښی
په حکمت په زر وزور په لښکر و نه
وررراوزوی د ملک په کار کښی قتل کیږی
نور په وا ړو باندی جوړ شوه محضر و نه

بلکه د خوشحال خان د وطن رخنه ګر د استونی مار ګڼی او د ستونی مار خو ډیر خطرناک وی :-

رخنه ګر د ملک په خونه کښی ماران دی
چه ماران د خونی شته خو بی ګړدا مه

په دی ترتیب خوشحال خان د پښتنی خاوری سره مینه هر پښتون ته وصیت کوی او وایی :-

« د پښتنی خاوری سره علاقه واری !! »

خوشحال خان وایي :ــ

# (٤)

# علم او هنر زده کړئ!

چه ئې علم هنر نه وي ځینې تښته
بې هنر سړی که و ګوري لاشې دی

د پښتنو یوه بدبختي په ګوته ده چه سړی ئې غم وخوري د پښتون زوندون سرتر پایه بدبختي ده، هرڅه ته چه ئې ګوري هغه د افسوس او صلاح وړ دي په هره چاره کښې پښتون تر ورپښې دنیا وروسته پاته دی، که ځینو بې ننګي ته مخ کړی ده اتفاق ئې هم نشته، که اتفاق نه لري په علم او هنر هم لکه چه ښایي خبر نه دی چه دا بدبختي ئې د ټولو بد بختیو سر بلله کیږي، بلکه د پښتنو د ټولو بد بختیو سبب همدا بې علمي او نا پوهي ده، که ځینې نا پوه پښتانه پښتني ننګه پریږدي او د نورو د ګټې د پاره استعمالیږي یا که په خپل منځ کې سره خوري او اتفاق نه لري، یا که ئې ځانته فکر نشته او د ټولو پښتنو د اتفاق منکوره نه تعقیبوي. یا که په یوه سر کز نه راغونډیږي او قبایلي تفرقې ئې منځ ته راوستلې دي، او یا که ئې ځمکې شاړې دي او ښه ښارونه ئې نشته، یا که په تن وږي او په تن لڅ دي او نور ...

د دې ټولو سبب دادی چه علم او هنر نشته او په دې وښه دنیا کې چه څوک علم او هنر نه لري هغه پر ژوندیو نه حسابیږي او نه د ژوند په حق څوک ورته قائلیږي، که قائل هم شي نو داسې ئې ژوند به ګوي لکه ئې چه ئې پښتانه لري، حقیقتاً تر بې علمه ژوند مرګ په زر درجې بهتر دی، خدای تعالی چه په قرآن کریم کې فرمایلي دي چه :ــ

«هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون»

«آیا برابر دي هغه کسان چه علم لري او هغه کسان چه علم نه لري» دا نسا نانو د پاره لوی درس دی چه باید د علم خواته توجه وکړي ځکه هغه انسان چه علم لري همیشه مخ په پورته ځي او د دنیا او اخرت ګټې حاصلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه انسان چه ناپوه دی تل مخ په کښته روان او د نورو د لاس محتاج وی:
خوشحال خان چه د پښتون دې لوی نقص ته ملتفت دی نو ور ته وا یی:

علم نا بیا یی په پورته ، جهل تا بیا یی په کښته
با عیسی له وور درومه، با قارون ته ځان وسپاره

بلکه خوشحال خان هغه څوك چه علم او فضل نه لری که څه هم د پاچا پر تخت
ناست وی بو ځناور او حیوان بولی او دانسانانو له دلې څخه ئې نه شمېری دی وا یی:

چه ئې علم، فضل نه وی چه په تخت د پاچا کښېنی
بابو ایېزدی، بالپوه دی، با ئې ګاؤ خر شماره

رښتیا چه بې دار دې جهان ته په دقت و ګورو څه دخدای عالم دی
چه په دې خاورینه مځکه کی سره ښوری، راز راز ځناوران، راز راز خځندې،
راز راز حیوانات او انسانان دمځکې په سر موجود دی. ځینې غټ او ځینې
واړه مګر دحمکې حاکمیت دچا په لاس کښې دی؟ دانسانانو !!
داولی؟ آیا انسانانو دمټ په زور او په خپل قوت داحاکمیت حاصل کړی دی؟
آیا تر انسان نور غښتلی او غټ حیوانات نشته؟
شته خو مګر بیا هم ولې انسان دا ټول مغلوب کړی دی؟
دا ځکه چه انسان پوهه او عقل لری، دمټ زور نه دی عقلی او علمی قوت دی.
همدا راز په دانسانانو په منځ کې وګورو، ټول انسانان دوه لاسونه
دوې پښې، دوې سترګې دوه غوږونه، یوه خوله لری، مګر دا څه سبب دی
چه ځینې انسانان پر نورو حاکمیت کوی او بیا ځینې ملتونه اورو ملتونو ته
احتیاج دی او دهغو سلامی کوی؟ داهم ځکه مونږ په غور و ګورو غیر له علمی
نفوذ او قوت څخه بل هیڅ سبب او عامل نه لری، هر څوك چه په علم کښې
لوړ وی هغه په هرشی کښې لوړ دی او هر قوم چه علم نه لری هغه تل ټیټ او
ذلیل دی، نن ورځ انسانانو دعلم په زور هوا او دریا بونه مسخر او دځان

تابع کړی دی، د علم او هنر له برکته په هوا الوزی او په دریابو لمبه وزی غرونه سوری کوی او د سیندونو مخ بندوی . مګر دا یوازې د صورت او مټو په زور نه دی شوی او نه کیږی، بلکه د علم او روحی قوت په زور دا حیرت را وستونکی کارونه پای ته رسوی خوشحال خان هم وایی :

د صورت په زور قوت غرونه ماتیږی — که خبر یې د کوه کن په زور قوت
چه د روح قوت پیدا شی قمر شق کا — په هر لوری ئې په مخ د روحی نصرت

خوشحال خان د هغه چا په حال افسوس کوی چه غوږ، خوله او سترګې لری، مګر څه نه زده کوی. دی داسی سړی له ازله « سیه ګلیم » بولی چه عاقبت به ئې ندامت په برخه شی :

که په خوله، په غوږ، په سترګو څه زده نه کړې
نور ور د روسه ازلی سیه ګلیم یې
پیر، استاد، مرشد به واړه در ته شا کا
که په جهل مرکب کښې مستقیم یې
عاقبت به دې په برخه ندامت شی
چه داسی د جاهل سره ندیم یې

دلته خوشحال خان د پښتنو ناپوهی ته مخ را اړوی او ګوری چه دا مرض په پښتنو کښې تر هر قوم ډیر دی، او نه یوازی خپلې ناپوهی ته نه ملتفت کیږی بلکه فخر پسه کوی نو خوشحال خان داسی پیغور ور کوی :

درست جهان په ناپوهانو سره ډک دی
ولې زیات که په کښې وګوری افغان دی

ناپوهی خو لا ناپوهی ده، مګر د ځینو پښتنو نردې اندازې د پوهی سره څه جوړه نه ده چه خپل ځان پوهول هم نه غواړی او نه ئې زده دی چه کوم هنر زده کړی، دا څو څو سببونه لری چه مهم ئې دا دی :

۱- ځینې پښتانه چه څه ځمکه یاڅوپیسې پیدا کړي، نو دائې فکر نه وروشي چه په ژوندون او دنیا کښې معراج هم دغه شی دی. دې ته رسېدلی یو، نور نو علم اوهنر مونږ ته په کار دی؟ او بر دې اندازې دځېل دې ناقص فکر تابع شی چه حتی ځپل اولاد هم علم او هنر زده کولو ته نه پرېږدي.

اوهغوی رانلونکی ژوند ور خرابوی داتا پوهان دې ته فکر نه کوی چه ژوند یوازې پیسې پیدا کول نه دي او بیا که دپیسو سره علم نه وی داسې پیسې څه په درد نه خوری بلکه داچه هر انسان په یوه جامعه پاتوانه کښې اوسی هغه یوازې ځانته مسئول نه دی بلکه دجامعې اوملت ته هم مسئولیت لری او باید همیشه ئې دځان دغم سره دملت غم هم ورسره وی. نو ځپل اولاد دې دپاره چه پلار ئې پیسې لری دعلم اوهنر څخه را کرزول دجامعې اوملت سره خیانت دی، ځکه چه یوازې دپلار پیسې ملت ته دومره کټه نه رسوی لکه داولاد تعلیم خصوصاً چه پلار ئې ناپوه دولتمند وی. ځکه خوشحال خان وائی:

احمق که هر څو دنیا دولت لری　　دولت په بای کاچه حماقت لری

که ډیر ناداروی شکر دی کا ندی　　که خوی ئې ښه وی علم حکمت لری

بل ځای دولتمند سړی دعلم اوهنر خوا ته داسې را بولی:

دو لتمن دی په هنر په علم مت کـا

که هر څو بایسته مخ وی بیا پسا له شی

او مېړه هغه بولی چه تر دینا راوزر دمخه دځپل هنر په غم کښې وی:

مرد په غم دځپل هنر کـا　　نـه دزر نه د د پـسـار

که هر څوزه روروی، یا ډیر زرلری، چه هنر نه لري، خوشحال خان ورته په سړی توب قائل نه دی، که پلار وی که زوی ورته وائی:

هنرچه نه لری که دی پسر دی　　سری ئې مه بوله یو کاو خر دی

که هر څوزورلری که هر څوزرلری　　تر دا همه واړه بهـتر هنر دی

پښتانه پلرونه باید په څو پیسو یا څو جریبه ځمکه و نه غولیږي په خپله هم د علم په تحصیل پسې شي، او خپل اولاد هم له علمه محروم نه کړي پیسې یا ملکه خو څوك د علم په تحصیل نه ځني اخلي مګر که عالم زده کړي نو داسې انسانان به شي چه هم ځانته او هم خپل قوم او اولس ته به نافع وي :

۲ـ ځني ناپوه پښتانه بیا په خپل نسب و کورنۍ غولیدلي دي وائي چه ماته هم دا بس دی چه د پلاني خاندان یم، یا پلاني زوی یم، تر څو چه ژوندی یم خلق به په درنه سترګه راته ګوري او زما احترام به کوي نو ر نو علم ته څه حاجت دی؟ دوی ډیر غولیدلي دي او نه پوهیږي چه اوس موږ په داسې عصر او داسې پیړۍ کې ژوند کوو چه نور به نو یوازې د خاندان په نوم څوك تیر نشي او راتلونکي کلونه لا نور او سره هم ډیر ویښي دي . دوی ځله خپل ځانونه د ملي ورونو له ټولي څخه باسي ؟ حال دا چه تر دې وروسته به سړی د هر څومره لوړ خاندان څخه چه وي که علم او هنر ونه لري به دوي پیسې به ئې څوك وانه خلي. خوشحال لا هغه وخت ویلي دي :-

که په اصل څوك سید یا شهزاده شي
چه هنر ور څخه نه وي هغه ئې سقا به

او اوی د خاندان او نسب خاوندان او ا راشي، اوس تر دې خوشي او بې ځایه خبرو تیر شو ، او هغه اصلي او ضروري چارې ته سری کړو چه غریب وطن او بیچاره ملت ئې را څخه غواړي علم او هنر زده کړي، چه د وطن او قوم په درد وخوري. مناسب تر شا پاته قوم د دې ئې نسب یا خاندان په نامه لوړېدلای نشي علم او هنر ته ضرورت دی چه دوی لوړ کړي .

۳ـ د پښتنو پخوانیو مشرانو هم نه دي غوښتي چه پښتانه پوه یا د علم خاوندان شي ؟ ځکه چه د پښتنو ځینې مشران یا ظالمان حاکمان یا مستبد خانان او یا ځیني خیرات خواره سپین بګریان، ویا لنګ نرهای ماشکان وو . دوی هر یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل نفوذ دقیام او همیشه توب دپاره قوم جاهل ساتلی ؤ ، ځکه چه که قوم دیوهي او علم خاوند شوی وای نو هر څوك ئې دځان مشر نه تا که او نه ئې مانه .

وائي چه فرعون له خپل مشاور څخه پوښتنه وکړه چه : « زه څه ډول خدایی څنګه وساتم ؟ » مشاور ئې ورته وویل : « خپل قوم په جهل او ناپوهۍ کښې وساته ځکه تر څو چه دوی ناپوه او جاهل وی ستا خدائی به منی ، خو که پوهه شول نه به نه ئې له به ستا خدایی ! »

نو پخوا به پښتنو کې هم ځینې داسې مشران پیدا کېدل چه دخپل قوم سره ئې هم داوضعیت درلود، ځکه خوشحال خان پښتانه دداسې کسانو جهالت ته ملتفت کوي او ورته وایي :

| | |
|---|---|
| ملا ئې په دې سر تحصیل شی | شاعري ده له حکمته |
| ملکې خو باد شاهي ده | خاني هم له سلطنته |
| پیري لا لو په پایه ده | ده له دې سره ریا ښته |
| صفت آسمان کښې داوړه | پښتانه له جهالته |
| هر سړی ورته ملا وي | چه په یاد کا څو آیته |
| چه پیر ؤ ، هغه شاعر دی | قافیه غلطه کا ته |
| هغه سګ ورته ملك وی | چه کښلي ورځي له محلته |
| خان هغه چه تر ... پروازی | په ژړا که کښې ږغي لته |
| پیر هغه چه پسې درومي | څو سر توري په دا لته |

دخوشحال خان مقصد دادی چه پښتانه باید په پوهه سترګو په هر چا پسې چه دوی ترلاس ونیسی رهی نشی، خپل ځانونه باید پوه او عالمان کړی او دعلم له رویه ښه او بد سره وپېژنی. هو، خوشحال خان نادان او بې علمه سړی هم دځان دپاره بلا بولی او هم دجهان دپاره، په خیله، تر دانا ځارېږی او نادانان تر ځان ځاروی دایی :

قو دا نا دی زه ځا ربړم　　　لا دا نان وائه تر ما

نا دان ځان لره بلا دی　　　هم جهان لره بلا

چه نادان وکا داو رنه　　　هسې نه ککا اژدها

بې علمه سړی ګاو خر ولی، لود ګاو خر به څه بر کت وی :

چه نه ئې دین وی نه ئې دولت وی　　　نه ئې په علم ښه خوی خصلت وی

سړی ئې مه بوله بو ګاو خر دی　　　د ګاو خر به څه بر کت وی

خوشحال خان د علم زده کړه په کوم وخت پوری نه ټاکی، بلکه دده دا نظریه ده چه علم به هر وخت او هر سن کښې چه وی باید زده کړه شی حتی دی په خپله وائی چه :

• که کوم ورکی مانه څه راوښیی پرما به ئې د پر منت وی ؟

نو ګو یا خوشحال خان بې علمه پښتنو مشرانو ته توصیه کوی چه علم زده کړی که څه هم له کشرانو څخه وی او وائی :

هغه استاد ګڼه چه درته څه ښیی　　　کشر هم مشر وی چه درته ښه ښیی

په سینه زړه به ئې منت لرم　　　که ورو کی راته څه وښیی

دده په نظر کښې بې سواده سړی چه خط نه لری، لیکل او لوستل ئې زده نه وی د ړانده مثال لری :

چه خبر په هنر نه، هغه کم عقل

چه د خط ستر ګی ئې نه وی هغه کوږ

خوشحال خان پښتانه وینی چه قدرت ئې څه ور کړی دی مګر دوی کار نه ځنې اخلی

د کرلو او آبادو او لحکمې لری خودوی له لوږی مری نو وایی :

څه کم عقل نادانان دی　　　　دا پاڼده بې بصار نه

نعمتونه په خپل کور کښې　　　　مری له لوږې له هیبته

خوشحال خان چه یو خوا د پښتنو غرونو ته ګوري چه له هر راز کانو څخه ډک دی او زر خېزی مځکی ئې شاړی پرتې دی او بل خوا ګوری چه پښتون قوم وږی تږی، لوڅ لغړ خراب حال پروت دی او هیڅ هنر نه لری چه بیا خپلې مځکې ودانې کړی او بیا له خپلو معدنو څخه کار واخلی نو زړه ئې درد کوی او پښتنو ته وایی :

کانې لعل د بدخشان، ګیاه کیمیا ده

چه ئې نه پېژنې نه، ګناه دچا ده ؟

بل ځای هنر د سرو زرو په شان ګڼی چه د دنیا په هیڅ ځای کې خپل قدر او قیمت نه بایلی او هنرمند سړی په هر ځای قدر لری، وائی :

هنرمند سړی په هر دیار عزیز وی　　　　په هر ځای قدر قیمت لری سره زر

او د هرچا قدر پخپل هنر بولی :

د هرچا قدر قیمت په خپل هنر وی　　　　د ګڼی قدر ښکاره د ګڼی خوند کا

رښتیا هم که پښتنو علم او هنر درلودلای اوس به ددوی قدر قیمت ټولې دنیاته ښکاره ؤ، او ټولې دنیا به ئې احترام کاوه. اوس چه علم، او هنر نه لری د دنیا تر ټولو قومونو وروسته پاته او خوار قوم دی، او د دنیا علم لرونکو قومونو ته په یوه ستنه هم محتاج دی، که پښتانه یوه وای دوی به هیڅکله غیرله پښتو له د بل چا مشرتوب منلی نه وای، که پښتانه پوهېدلای دوی به هیڅ وخت

دبل چاد پاره ځانونه وژلی نه‌وای لکه‌ان پرون چه‌ئې وژنی ، که دوی پوهه درلودای دوی به د پښتنی خاوری پوه‌لو پښت هم دبل چا تر حکم لاندې پر یښی نه‌وای ، که پښتون قوم عالم وای نو خپل‌ملی مرکزیت به‌ئې پېژانده او پر پوه مرکز به‌راغونډ شوی وو ، او آزاد پښتونستان به ئې تشکیل کړی وای ، که پښتانه د پوهې خاوندان وای دوی به‌له خپل منځه اتفاق‌ورك کړی وو ، او په بوه اتفاق به‌ئې د خپل ژوند د ښه کولو غم خوړلی ، که دوی علم درلودای دوی به‌هر شیطان نه غولولی او په هرچا پسې به‌له تللای ، که په پښتنو کښې هنروای دوی به‌ولې د هر چاو وره‌ته د یوې ستنې د پاره ولاړ نه‌وای ، ځله به‌دو په‌نس وږی او په‌تن لوڅ وای ؟ پر ځه به‌د دوی ښهرونه د نوری دنیا د کلیو والو سره برابر وای ؟ ولی به سرتور سر پټلی پښتنې ګرځیدای ؟ داټول له دې جهته دی چه پښتانه علم او هنر نه لری ، نو ځکه خوشحال خان وایی :

« علم او هنر زده‌کړه ! »

---

خوشحال خان وايي :

# (۵)

# توریالی او مړنی او سئ !

کل که څه ده د تورو دي ... که کابل دی که کشمیر
مړنی دي چه په ډاګ ښکاریږي ... په سندر و یا په وېر

ډینیتنو متل دی وایي : « زور چه زیات ورشي عقل مړور شي ! » دا خبره له حکمته خالي نه ده ؛ زور او قوت د قدرت او طبیعت خوی او د دنیا د ژوند مدار دی که تاسي کائناتو ته وګورئ ، یا د ژوندو او وارسنیو انسانانو په ژوند کښي ځیر شئ ، یا حتی ښارویو او حیواناتو ته دقت وکړئ ، تاسي ته به ښه ښکاره څرګندېږي چه زور او قوت هر ځای او هر کله ځا کم دی . هره اوبه کره چه د ځان سره څو زړه کړي ساتي او په خپله ځا د به ئي راګېري کړي دي یا انسانانو چه یو په بل حکمراني کړي او یائي کوي او یائي یو د بل ښارونه تالا کړي او یائي تالا کوي ، یا حیوانات چه یو بل خوري او یا یو له بله وېرېږي دا ټول عمه طبیعي حکم دی چه په قوت او زور کښي پروت دی او تر څو کائنات او دنیا او ژوندون وي د قوت مفهوم نه ورکېدلی نشي . کله کله ( خصوصاً په دې عصر کښي ځیني انسانان ځانونه غولوي او وایي چه د قانون قوت تر هر قوت پورته دی مګر که له دوی څخه پوښتنه وشي چه ستاسي د قانون تکیه‌ځان او ساتندوی څوک دی ؟ ضرور باید ووائي « زما مي قوت » نو بیا هم قانون په خپله قوي نه شو او د بل قوت په زور قوي کېږي : نو د قوت او زور څخه هم غرض دا نه دی چه انسان باید د دې دپاره قوي شي چه بل وخوري بلکه مقصد دا دی چه انسان باید دومره قوي شي چه بل ئي و نه خوري او د ادژوند اساس دی .

قوت او زور بوازې په تنو جسمو او غښتلو متو کښې نه وي ' بلکې په روښانه مغز او کښې لا ډېر دی مثلاً کوم ملت چه ډېر پوهان لري ' ډېر کارېګر لري ' ډېر مخترعين لري ' تخنيکي قوت ئې ډېر دی نو دا ملت پر نورو ملتو په هر قوت کښې اوږد او پر مخ ځي په بل عبارت قوت او زور په دوه ډوله وېشلای شو ' يو معنوي قوت بل ظاهري او مادي قوت ' د معنوي قوت دپاره خو علم او هنر لازم دی چه دا خوشحال څو پاڼي دمخه تېرا سي تېر وېل ' او د ظاهري قوت دپاره وسله او صحت لازم دی چه خوشحال خان لا مېړانه هم په دې رديف کښې راولي چه په دې فصل کښې هغه شواتو ته تر بحث لاندې نيسو :

توره :- د پښتنو په اصطلاح توره بوازې د غنډوسپني چړې ته نه وايي ' بلکه عموماً توره دوسلې په معنا راځي او اکثرا لا هم د مېړانې او شجاعت معنا ورکوي ' مثلاً کوم زلمی چه په جنګ کوي او په جګړه کښې پهلوان وي نو ورته وائي : «توره زن زلمی» دی او توره وهلي هغه چاته وېل کېږي چه په جنګ کښې مېړه وي که څه هم دا جنګ په توره نه وي په ټوپك وي ' نو دلته هر ځای چه خوشحال خان توره یاده کړې ' باید د تورې مجرد شکل مراد نشي بلکه په ډېرو ځايو کې له توري نه مېړانه او جنګ غرض دی ' لکه خوشحال خان پښتنو ته وايي چه « که ژوند غوارئ ، توره بالي اوسئ » دا هم ځکه چه خوشحال خان د پښتنو سره نور هيڅ مادي او معنوي قوت نه ليدلی چه دوی ژوندي وساتي ' نه مخترعين او پوهان لري ' نه ئې اقتصاديات دومره لوړ دی چه توره دنيا دوی ته داهميت اټ ژوندي قوم په سترګه وګوري نه ماشين خانې او کاريګر خلك ډېر لري چه له دې لارې ژوند وکړي ' نو بې له توري بل هيڅ زور او قوت نشته ' چه د پښتنو ژوند او د پښتنو آزادي او پښتنواله خوندي کړي . له دې جهته پښتنو ته وائي چه «توره ټينګوئ» په همدې توره به خپل ژوند ساتئ، بل فکر تاسي ته نه ښايي .»

پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي

بې د توري خلاصي نشته په بل کار

که کشمیر پوره ښه د پښتنو په لاس کښې وُ او یا کابل د پښتنو مرکز دی خوشحال خان دا ټول د توري پر کار او کښته پورې لي ارجوه کان په سندرو کې ستایل کېږي او بائي په مرگ و پر خاك کوي چه په توره مېړانې ، نود ابي —

کابل کښته ده د توري  نه کابل دی که کشمیر

مېړني دي چه یادېږي  په سندرو یا پسه و پسر

خوشحال خان چه د پښتنو د ژوند د باره یې له توري بل توت نه وینې ، او د پښتون د باره تر هر څه همدا توري هنر د پر ضروري او ښه هنر گڼي چه وائي:

چه څرگنده سر بازي کاندي د تورو

زه خوشحال خټك تر سر هنر جار شم

دده په عقیده په دنیا کښې یوه تکیه د خدای ده او تر خدای را لاندي یاد توري ، او تر څه که پښتانه کوي عبث دي ، که ئې د توري نقش کښېنو ست نو ل کاروانه سرته و سېږي او د پښتنو خلیو که سرېزي د تزامي لاندي همېشې لا به د خپلې پښتنې هودې شخه وانه وړي او د خپلې پښتنې ننگه به پر ځای کړي:

یا تکیه د یوه خدای د یاد توري  بو جز گرمر کو قشی کار تمامه

که دي نقش د توري کښېني راته غوږ کړه

کار وا به شي ماله تره هره کامه

ښه خواتان په خیال ... دي له لاسه .

که ئې سر شي اخوني ... تر زا مه

په جهان کې چه د ملك کې ... دي او څېنو اولسونو پر نورو اولسونو حکمراني کړې دي او ... ئې ... کړې دي ، دا څه د خدای پر یار نه دي شوي بلکه جنگونه ئې کړي دي ، وینې ئې

بیولی دی ، قربانیه ئې ورکړې دی ، نوکه پښتانه غواړی چه خپله پښتنی خــاوره د نورو له تجاوز څخه وساتي او یادنه و رولا سوه له خپلې پښتنی خاورې څخه لنډه کړی او یادخپلې پښتنی خاورې څخه توقع یې ور نه دلحان کړی اودپښتنو یولوی متحد ملت جوړ کړی ، نوبایده تیر بالی اوسی او د هر تجاوز څواب ته حاضر ، او هرې قربانۍ ته آماده وی . څکه چه ملکرنه پښتنه ناساتل کېږی اونه خپل حق په مړه خوله څوك له چا اخیستلی شی ، خو شحال خــا ن همدا وائی :

چه ونه وهی په توره لاسو نو ر ه　　　چا ملکرنه په میراث نه دی مولدلی
چه تر سرو تر مال نیر نشی په عشق کښې　　　څوك دېچو نو به پالنگ نه دی ختلی

دمغلو په دوره کښې چه پښتانه ژوندی یا نه شول او نوم ئې ورك نه شو همه دخوشحال خان دپښتنې توري صدقه وه ،

دا لاځه که څېنې پښتانه ئې ننګه شوی نه وای پنجاب به هم ددوی ؤلکه خوشحال خان چه یادونه کوی :

د اهمه دما دتو ر ې صد قــه ده　　　پښتانه چه به کښې خوری سیور غال
یکمانه څوانان که زرله ماسره وای　　　توروزه به بــه پنجاب باندی یرغال

خوشحال خان همه څوك کامیاب ولی چه په توره قوی وی ، او هم تورزن سړی به هر ځای کښې مخدوم او د عزت خاوند کېږی. څکه چه د همدې تورزن سړی به میرانه قوم ، او ملت ساتل کېږی نو وائی :

چه په توره ترك تــازی کــا　　　همه هر کله کــا مکـار دی
موردې نشی باندې پــو ر ه　　　چه مېړ و نه د کار زار دی
څوك چه شته ترشرقه غر بــه　　　دتور ز نو خــد متــکـار دی

همه پښتون چه تور یالی ندوی پښتون نه بلل کېږی ، پښتون لاځه خوشحال خان ئې مړد هم نه کـڼی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په ځان سړی نو رزن دی ― بل ځکا ر نښته ترډ ا شــه
که مین وی په تــور زلفو ― خو نا مــر د وی هــم لا شــه
که ندا وی نــه ســخه وی ― هغه څــه دی وچ واښــه
چه داور لمبه پرې راشــی ― و ا ښه سیځی بلا شــه

په پوره ته بیښو کې چه خوشحال خان نامرد سړی وچ واښه گڼلی دی ، دقوت او ضعف یو ښه مثال دی ، ځکه چه وائي ، لکه وچ واښه چه داور دلمبې مخ ته تکیه کېدلای نشی همداشان هغه پښتون چه تور زن نه وی که چېرې دده په خاطره کوم خطر راشی نو دی هم هغه شان د وچ واښه غوندې لمنځه ځی او که نو ل پښتانه په دې لار کې بې قرته شی ، نو ضرور دزمانې دحوادثو په مقابل کې ئې نوم ورکیږی او دهستی له کوره به دنیستی په گورنه ولاړ شی ځکه نــو خوشحال هر پښتون ته توصیه کوی چه باید په توسله مین وی ، که نه وی نــو دده او دېې ننگی ښځی فرق نشته وائی :

چه مین په وسله نه وی ― مردې نه وائی خپل ځانته
لاس دې سره کــاسترگی توری ― ځان دې د جونه وی ځوان ته

ځکه چه په دېرو وختو دهر کی کار دپاره یو نمونه لازمه وی ، چه د هغې نمونې له رویه کار بشپړ او تکمیل شی نو خوشحال خان هم ددې دپاره چه پښتنو ته د تورو یالیتوب یوه نمونه و ښیی ، ځان تمثال جوړوی چه پښتانه باید دده تور یالیتوب د ځان سر مشق و گرزوی او درس ځنی واخلی او حقیقتاً هم هغه جنگونه چه خوشحال خان د پښتنو د ننگ دپاره ددښمنانو سره کړی دی دستایلو وړ دی د تورو په میدان کې ځان داسې ستائي :

د تورو په میدان کې چه سوداوی دسرو او
هغه زمان مې گوره تل په سوروی نه زما آس

بل ځای دخپلې خوښۍ و خوشحالۍ وخت داسې څرګنده وي :

د خوشحال خټک خوښي په هغه وخت وي

چه برېښنا د سپينو تورو وي د زغرو

بل وخت چه ئې په اورنګ زيب زده سوړ کړی او له جنګه فاتح راګرځېدلی دخپلې تورې نقش څنګه ښه ستائي :

تر اورنګباد شاه مې ورو يست      تا و د بند او د زندان

نقش مې کېښناوه د تورې      په هند و په مسلمان

خوشحال خان دقوم دغليم سره داسې توري وهلي دي او دومره ئې دارولي دي چه په خوب کښې لا هم دده د تورې له ترنګ څخه ريږدي او له کټه لوېږي.

لا په خوب کښې په اور زه پرېوزي له کټه

چه دچا تر غوږ زما د تورې شرنګ دی

خوشحال خان دمينې او محبت په دنيا کښې هم له خپل تور يالي توب او قوت څخه تېر پدلی نه دی او هلته هم غواړي چه پښتون مين ته تر تورو ميناو امتياز ور کړي او داسې نه دي چه ترسيده ترسيده بوسه غواړي بلکه په ښکاره نارې وهي:

زه خوشحال کمزوری نه يم چه په بدواړ کړم

په ښکاره نارې وهم چه خوله ئې را کړه

خپلې معشوقې ته په څه غرور خطاب کوي :

يا به سر دخپل ور ميېز پسه و ينو رنګ کړم

يا به ښکال کړم دغه ستا شونډې ملوکې

يا دښو زلميو زغ دی په ميدان کښې

يا دښو دلبرو ځی په جهان کړ کې

بل ځای دمعشوقې له خولې خپل تور يالي توب څرګندوي چه وايي :

مګر تا څخه سامان دسلطنت دی      چه په هودمې سپينه خوله غواړې څخکه

د خوشحال خان عشق هم پښتني عشق دی یعنې ساده او ځپېلی ؛ کومه غلا او پټه نه لري، نه د رقیب څخه پېښېږي او نه ښېرا ورته کوي ، بلکه په ښکاره توره وراخلي او رقیب خپلې مقابلې ته رابولي ، نو وایي :

په درست جهان به توی یو د ما غوندې رسوا بل
ورځم توره در کښلې چه مین وار وم په تا بل

خوشحال خان ته د تورو د میدان «های و هوی» دومره خوند ور کوي لکه د زوی د زېږېدو سندرې، نو ځکه وایي:

یاد ښه وزو یو سندري دی د زړو
یا د تورې په میدان کې هوی وهای دی

د جنګ په هنرونو کښې خوشحال خان ډېر مهارت او زښتې تجربې لري، مګر تر ټولو هنرونو چه خوشحال خان خوښ کړی دی یو هنر دی، دی وایي : که په جنګ کښې هم ، دا یو هنر چا درلود هغه کامیاب او فاتح کېږي ، هغه یو هنر کوم دی ؟ « تر سره تېر یدل »

نو وایي :

مزری توب بویه د تورو په میدان کښې
په خالي میدان هر یو ګیدړ مزری دی
که د جنګ په کار کښې ډېر دي حکمتونه
چه د سر سره فدا نه کړي تور بري دی

خوشحال خان عقیده لري چه د سړي ویره تر هغه وخته ده چه تر سر تېر شوی نه وي کوم وخت چه تر سر تېر شو توره ویره تر ټشته ، پښتنو ته همدا وصیت کوي :

مړدی دې هیڅ ده که په زړه شېر نه ئې
ځه خو ر شه که زړور ډېر نه ئې
تر سر چه تېر شې ویره هیڅ نشته وی
ویره دې هو تېره چه تر سر تېر نه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ځای وایی :

مستهتیان خرنی مزری توري و کبلي
که د سر وبره دي نشی کار آسان دی
ننگیالی چه د اخلاص توره پسه لاس کا
د پر لښکر ئې نرهمت پوري کاروان دی

خوشحال خان وایی: سړی ته دا یوه ښځه وینې بلا دی چه به غم کی ئې دی که نه دي تور څه نشته:

دا یوه ښځه دلخان وینې بلا شوې
چه سړی سره ئې غم به هر زمان شی

خوشحال خان پښتنو ته وایی: چه هیڅکله نرهنو ارام مه کښېنیء څوچه دخپل غلیم ښځه انتقام وانه خلیء دی دا انتقام سخت طرفداری دی' کـه هرڅه کېږی خوودې شی' مگر پښتون به دپښتنوالی له دښمن څخه انتقام اخلی :

که نل توري غښی خوری ماتې دجنگ وهی
مرد بـه سړینـه شی په زړه لـه انتقامـه

انتقام خوبه ضرور دیوې تعدی په عوض کېږی دی اولویه تعدی دخوشحال خان په نظر کښې داده چه دپښتنو په حقوقو څوك تجاوز کړی' ددې تجاوز ځواب باید ډیر شدید او ور کړ شی ځکه چه پښتنواله دهیچا تجاوز منلای نشی' اودا تجاوز که دپښتنو پر ځان وی یا پر پښتنی خاور دوی یا که دپښتنو پر آزادی وی' یا د پښتنو پر مال وی' ټول دپښتنواله په نظر کښې یودی' اوخوشحال خان دا دپښتنوالی حکم د پښتنو غوږ ته داسې رسوی :

که په توره ئې ځواب ور کړې مر دی ده
که وجود دې څو کـه آزار کـاندی په چوب

هغه پښتون چه هر څو په ناز او نعمت کښې شي، بیا هم خپله پښتنواله
نه هېروي او د عتبار ټینګښت او د انتقام غم به ورسره وي، د چا سره چه نه وي هغه لو
د خوشحال خان په مذهب ا. نامرد ننګه خبر نه دی، وایي:

کدئي کښېنوي په باغ کې | مرد د بېه و نه کا آرام
څو بوره به غایم نه کا | هره چار د انتقام
فراغت کا خبر نه دی | نامردان په ننګ و نام

لکه څنګه چه توریالیتوب هر پښتون ته خوشحال خان لازم ګڼي همداشان ئي پښتنو مشرانو ته ضرور بولي بلکه څوک چه د قوم سردار وي هغه باید د پښتني ننګې پر ځای کړي او د پاره د خپل سر پروا هم ونکړي دی وایي:

سر دي نه غروي خوشحال له | د بلا نه چه سردار دی

بل ځای وایي:

د سر دار د ریاست ونه په وینو | په لرشینو داعدا، کا نمرونه
بې د تیغ له آبه توري او به نشته | چه جنګجوي سر ساده کا نثرونه

هوا دزده توري هغه څوک باید وهي چه د مشرتوب باتاج وتخت خاوندان وي د بیسو نوکران د خپل غرض د پاره توري وهي، خوشحال ځکه وایي:

هغه چه توري د بري په وخت وهي | هغه ئي واده د بل په بخت وهي
سپاهیان د طمع د خپل مقصود وي | د ننګشي توري څښتن د تخت وهي

پادشاه:

سرداری لره بویه دادري نوکه
بو همت، دوهمه توره، بل اخلاق

او خوشحال خان به دي ترتیب د هر پښتون د پاره توریالیتوب فرض ګڼي
چه د پښتنوالي او پښتني خاوري او پښتنو د ژوند او بقا د پاره هر کله قربانیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قدا کاریه ته حاضروی داسی نه چه یا پنجابیان یا انګریزان یا نور ددوی پر حق تجاوز و کړی او پښتنی مځکه چه ددوی د پلار او نیکه په همو نو په ګزو ګزو را پورته شوي ده د پښتنو د لاسه یا سی او ځنی پښته انه د ځان نو ګران کوی مګر دا نور پښتانه نو همداسی لاس تر زنی ورته ناست وی او زړی ژړي ور نه ګوری او یا خپله مځکه له نورو ا ګرزولی نشی مګر خپل نور یا لیتوب نو پر یوه بي وزلي تر بوو ښکاره کوی ـ خوشحال خان وداسې بې ننګو ته خندګه ښه و ایی :

یاد مرد غوندي شمله د دستار پر یږده

یا په سر کړه لکه ښځه میز رو ښه

نو که څوك پرښه تر یخی اری باید عبرت و اخلی .

مړنی څوك دی ؟ ۞ ۞ ۞

مېړانی یا مړانی پخوا په پښتنو کښی ډېر لوړ مفهوم در لود چانه چه به وویل شو ' ' مېړه سړی دی ! ' ' نو دا سړی د هغو نو او خو یونو خاوند بلل کیده کوم چه دیوه حقیقی پښتون سړه لازم ؤ ' او دي سړی نو په پښتنو کی یو خاص امتیاز او مقام لاره مګر له چا څخه به چه د میړانی صفت ورك شواو ور ته به وویل شو ' ' مېړه نه دی ' ' نو د پښتنو لی دی پر و اوصافو څخه به محروم بلله کېده ' خو خبره ' دلته وه چه دا ' ' مېړانه ' ' کوم داسی نه ؤ چه ل چا به سړی ته ور کاوه او یا به ئې له سړی څخه اخیست بلکه دا په خپله د سړی کار ؤ چه دیوه مېړه خویونه به ئې په ځان کې پیدا کړه بیا به نو خلکو ورته مېړه وایه ' او نه څوك پوازې په خبرو مېړه کېدای شو مېړونو چه به څه ویل هغه ئې کړل خو وروسته ورو ورو چه صحیح پښتانه له منځه ولاړل د مېړانې هم نښې ورکې یانه شو ـ څوارس خولی هغه نوم هم د پر لیز ار و یدل کیږی ' خوشحال خان هم ګڼل چه له پښتنو څخه دا مهم صفت ورو ورو لحی اوښ نوم ئې ارویده ' نو په خپل ته یو ه داسی معرفی کوی :

مرد به نشي پــه گفتار　　څو پيدا نکړي کـردار

چه دي ونښتلی مردنه ئی　　که له تانــه وی په ډار

چه څه دي خو انتقام دی　　د مړ دانـو کارو بـار

عفو هور نه ځای لري پنه　　چه نه عيب وي نه عار

چه غيرت ورڅخه نه وي　　هغه مرد نه دی په کار

هم مهره لري هـم زهـر　　ښه مـردان وي لکه مـار

چه هم تندر هم باران وي　　نـر هغو مـر دانو ځـار

مرد به غم دخپل هغې کا　　نه د زر نــه د دينـار

مردبه غم کادخپل شرم　　دعـزت د اعـتـبـار

نا مرد فخر په نسب کا　　مر د نه مور لري نه پلار

که سړی ځیرشی هغه دا پوره تعریف بس دی چه پښتنو ته مېړه سړی وښيي او پښتانه ملتفت کړی چه اوس صحيح مېړونه ډېر لږ دی، ځکه اوسني مېړونه خبري ډېري کوي، مګر عمل او کار ئې هيڅ نشته، دانتقام حس خو بېخي پکښې مړشوی دی، که ئې څوك کور تالا کړی، ځمکې ئې واخلي، وينې ئې وڅکي، زوی ئې مړ کړی، نو مړی څوك نشته چه دې ظالم ته ووائي مه ولې؟ نو په بوره قوم کښې چه دا ولې، سړی نه وي له دا سې قوم نه په نوره مېړانه څوك غواړي؟

دخوشحال خان په اصطلاح دداسې چاچه زړاونښتې تول تينګې تينګې لري، خپله هره مېړانه حتی قوميت په پيسو خرڅوي، نه دشرم غم ورسره وی نه دعزت او اعتبار!! څوك په ېېزو او شادو داسې لوېي نه کوی لکه پيسې چه ئې بهدوی کوی زلميان ئې دپيسو دپاره قرباني کيږي، پښې زېري ئې دپيسو دپاره استعمالېږي. وطن ئې دپيسو دپاره پر دی کيږي، دې چاته به څنګه مېړه وو بای شي؟

خوشحال خان هغو پښتنو ته چه مېړانه پرازي په ښو ښو کلمو کښې لوړی داسي پېغور ور کوی :

که مردی دي په دستار ده په ملا وسه
سکه مردی دی مبارك پرپښتونه بوسه

مرلی هغه څوك بولی چه په غم کې مردانه وی او د سختۍ په ورځ لاس او پښې سره ورك نه کړی او وار خطا نه شی :

مردان هغه دی چه همت ناك وی · پهره چار کې چست و چالاك وی
که غم بري راشي پروادغم نه کا · خوا زه له هره چا په زیست و زوالك وی

بل ځای څنګه ښه وائی :

واده زړونه فراغت وی په ښادیه کښې
چه په غم کښې مردانه شی زړه هغه

پښتون مېړه باید هر دم خیال نه وی او نه ئې خپله اراده د بل په ارادي پوري تړلي ده وی . خلك به هر څه هرڅه وائی خو پښتون مېړه به خپله اراده او عزم ترسره کوی او دده زړه به د خلکو په خبرو لړو بر کېږی نه ، نو ځکه خوشحال خان چه صحیح او مېړه پښتون دی خپل زړه د استقامت داسي مثال راوړی :-

دعا ام دبري خبري او ر په اور نوري لبکري
زړه مي نه خوځی له ځایه غر خو هسي وی که نه ؟

بل ځای د خپل زړه لوی والی داسي بیانوی :

د جهان غمونه واړه په کښې ځای شول
شکر دا چه زړه ئې لوی را کړو ما هم

خوشحال خان وایي په سړیو کښې فرق دی ، تول یو شان نه دی او نه تول مېړونه یو راز زړونه لری ، څو څوك چه رښتیا مېړونه دی د هغو زړونه د پر کلك وي او د ژوند د هر ډول مشکلاتو تحمل کولای شی ، وايي :

له سره سم دې واده مېړونه — نه سره سم دی د هر چا زړونه
زړونه هم هغه ګڼه چه لکه غر شي — که بلاندې راشي هزار غمونه

مېړه هغه څوك دی چه د تنګسې او سختۍ په وخت ځان ونه بایلي مړې سختۍ نه ځان وتیولای شي نو خوشحال خان وایي:

په جهان کښې که مردان دي هم هغه دي
چه و سختي وته ونیسي ځانونه

مړنی پښتون باید په ټولو مشکلاتو کښې زړه وروی او په ټولو کارونو او اقداماتو کښې ټینګ عزم ولري، متردد او وسواسي نه وي چه یو کار شروع کړي او بیا په هغه کښې متردد شي او یاد هراس او وېرې له کبله ئې پرېږدي داد مړنی خوی نه دی، نو ځکه خوشحال خان وېلي دي:

ګیدړ بې زړه دی وهم وسواس لري — مزری زړه وردی ګله هراس لري
هغه مزری نه دی هغه ګیدړ نه دی — په کار وبار کښې چه زړه کوز پاس لري

دغم د زغملو دپاره خوشحال خان ډېرې ښې لیارې ښودلي دي خو په آخر کښې دخپل زړه زغم ئې هم وېلي دی:

غم په زړه کښې بد غلیم دی — څو نوا نېږی خوا ره وه ئې
یا غمخوار چېرته پیدا کړه — ورته کښېنه ښکاره وه ئې
یا تېره تو ره را واخله — څو چه وی هموار ه وه ئې
یا فریاد فریاد ناري کړه — زاړه ناره په ناره وه ئې

یا خوشحال خان غوندې زړه راوړه
ځای ئې کړه انبا ره وه ئې

## مړنی به له خپله قوله نه اوړي:

مړنی پښتون باید پر خپل قول ټینګ ولاړ دی او له چاسره چه عهد وکړي،

باید هغه عهد ترمړ که هم بل نکړي، خوشحال‌خان ټرهري ورانی د قول ورانی سخته بولی چه وائي :

و نورڅاو نه وران هم وایه خوشحاله
چه په قول، عهد وران شي وران هغه

بد قولي او بد عهدي د بې شرم نښه بولي :

یوه نښه د ر نه وایم د بې شرم    په وعده په قول‌نه وي نرم ګرم

او داد مرد او نامرد ترمنځ لو یه ممیزه ګڼي ؛ ځکه چه نامرد په خپل قول بندنه وي، ان یو څه وائي سبا بل څه ، مګر میړنی داسې نه دی، میړنی څو ژوندی وي پر خپل قول به ولاړ وي ،

خوشحال خان وایي :

مرد به خپله‌وینا ژغوري‌څو ژوندی وي    د نامرد وینا نن‌ شته، نشته سبا

بل‌ځای د میړه کریکټر او شخصیت داسې بیانوي :

مرد هغه‌چه همت ناك برکت ناك    د عالمه سره خوږ په زیست وژواك
منځ ئې منځ، قول ئې قول، عهد ئې عهد    نه‌دروغ ، نه‌ئې فریب، نه‌ئې تیاك
لږ ویل، ډېرئې کول په‌خاموشي کښې    دغنچې غوندې خوله‌د که سینه چاك

**د میړني لږ ویل ډېر کول وي :**

---

خوشحال خان د میړني یو بل صفت دا بولي چه‌ویل ئې لږ او کول ئې ډېر وي داسې نه‌چه "ډېر وایي لږ خپږي" او س ا کثرو ښځو نه دادخو لسي خبرې وسپږي په‌خوله هرڅه وایي او خورا غټې غټې مسئلې فیصله کوي او ډېرې لویې‌لویې‌نظرئې ورکوي، مګر د عمل په‌میدان کښې صفروي او د خپلو ویلو زرمه برخه عمل‌هم نه‌لري، نورخلك کار ډېر کوي خبرې لږې مولږ خبرې ډېرې کوو کار لږ، نوخوشحال خان وایي :

مرد به نشي په ګفتار　　　　شو پيدا نه کړي کردار

خوشحال خان د کس او نا کس فرق هم په دې خبره ګوي چه نا کس ګفتار لري کردار نه:

د ګفتار وته ئې مه ګوره سترګې　　　　په کردار په عمل ګوره کس نا کس

بل ځای د مړاني داسي صفت کوي:

مړني په کړه د هر ويل ئې لږ وي　　　　د نامردو لږ عمل وي ډېر ئې لاف

مړني به خپل پت ساتي:

---

خوشحال خان پښتني پتساتل د مړني پښتون وظيفه بولي که څه هم په دې لاره کښې ئې سر او مال ټول ولاړ شي:

سر دې درومي مال دې درومي پت دې نه ځي　　　　د سړي د چارې کل خوبي په پت ده

مړني به سخي وي: خو د سخا څخه د امقصد نه دی چه سړی باید اسراف ته ملاوتړي او خپله دنيا په چرسيانو يا بنګيانو يا قمار بازانو وخوري يا ئې په خوشي مېلمستيا ګانو خرڅه کړي، داسخا نه ده بلکه علاوه پر لودګي لويه ګناه هم ده، سخا داده چه سړی د بې وزلو سرمرسته وکړي، د يو يتيم سرپټ کړي او د يوې کنډې نس موړ کړي او يو غريب ته لاس وروغځوي، مګر ډېر محله د بې وزلو سره بې پيسو هم مرسته کېږي، لکه يو بې سواد ته چه ليک لو او لوستل ورزده کړي، يو بد کار له بدې لارې راوګرځوي يا نور..

او خوشحال خان مړه پښتون د هغه باز غوندې ګڼي چه هم ئې په خپله خوري او هم ئې نورو ته ور کوي او نامرد سړی هغه مېږي او هغه مېږک بولي چه هر څه په غار کښې ساتي،

چه وهل، خوړل، خورول کا هغه بازدی باشاهين دی

چه ئې سودې لره وړينه يا مېږی دی يا فاره

په تېره بيا د ملي مشر يا سردار سره خو دا خوی لازم ګڼي، ځکه چه دی په خپله هم ملي مشرؤ، نو د خپل ځان په باب کښې داسې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه ئې وښندی خوشحال په غرور غرنو

لا به کله هغه ګنج ور کوي بخته !

بل ځای د ځوان سره د اخوی داسې لازموی :

چه ګټل، خوړل، بخښل کا ځوان هغه

چه توره لری د تورې خان هغه

خوشحال خان هغه سړی نامرد ګڼي چه یو چا ته څه ور کړی او بیا هغه ور یاد وی او منت ور باندې ږدی او بیا هر چا ته د هغې ښیګڼې ذکر کوی، نو وایی :

نامرد هغه دی چه چا ته څه ور کا | منت د پاسه ور باندې زبر کا

په رانج کښې و مره هغه دار و مه خوره | چه په منت ئې درنا څوك ور کا

مړانی په رښتین وی :

مړلی سړی باید تل رښتین وی او هیڅ وخت د دروغ ترخوا ئې ونه ځاسی خصوصاً پښتون خو باید هیڅ کله خوله په دروغو عادت نه کړی. خوشحال خان دا خوی تر هر خوی د مېړه د پاره ضرور ګڼی، بلکه هغه خوله چه دروغ وایی له سره خوله نه بولی وایی :

چه دروغ ترخولې وباسی کله خوله ده

چه رښتیا تر خولې وباسی خوله هغه

د خوشحال خان په نظر کښې دروغ وېل د غولو خوراك دی او دروغ جن هم د سپی په شان یا دوی :

په رښتیا د پال غوډ پېژی د ږده غوته | دروغ جن خوری لکه سپی د غولو سر ته

په رښتیا رښتیا خبرو که هم عالم د چا د ښمن پېږی باید یو مېړه پښتون تر رښتیا خبرې تېر نشي. د څو پېسو یا د یو منصب د پاره باید حقیقت تر پښو لاندې نه کړی، په دروغو د چا صفت و نه وایی . په چا کښې چه یو صفت نه وی دی ئې له ځانه پوری و نه تړی، چاپلوسی، غوړه مالی، تملق د دې ټولو اساس دروغ دی، و پښتون باید په هر کار کښې او د هر چا سره رښتین وی، او رښتیا دوایی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دروغو څوك ونه غولوي، خوشحال خان د پښتنو الې پوښتونولدي داسې وايي:

چه خوار ورم دايم زود شوم په رښتيا رښتيا خبرو
عالم د خان دښمن کړم که دا عيب دی هم دی وی

دروغ ويل اکثره له طمع يا ويرې څخه پيدا کيږي، دروغ جن به ياله چا څخه ويريږي چه دروغ وايي او يا به څه طمع لري، خو که څوك خوشحال خان غوندې مېړه پښتون وی هغه به هيڅکله نه له چا څخه سترګه کوی او نه به ئې چا ته سترګې وی، ځکه چه د پښتنا نه په خټه کښې ويره او طمع نشته، څوك که ئې لري هغه اصيل پښتون بلل کيدای نشي، نو ځکه خوشحال خان وايي:

دروغ ويل هغه کا چه ئې د ويره وی يا طمع
خوشحال په دا اړه دی حق به وائي څوئی سرشته

د دروغجن شپه هيڅ کله له سبا کيږي، تل به ئې ژوند تيارة وی:

ورځ ئې ماليدلې نه ده په درست عمر  خدای به له کاندی سبا د دروغجن شپه

خوشحال خان د راستي او رښتيا لار هغه لار بولي چه هيڅ ګمراهي به کښې نشته، او په رښتينو نه د جهان د بد خو اهي څه خطره وينی، ځکه چه خدای د رښتينو مل دی او چا سره چه د خدای نصرت مل وی هغه په هيڅ ميدان کښې ترشانه راځي او هر وخت او هر ځای به سرخ رويه وی، دی وايي:

راستي لار ده باد شاهي  پکښې نشته ګمراهي
د رښتينو پروا نشته  د جهان په بد خواهي
د رښتينو سره مل وی  تل نصرت د الهي
د رښتينو ځای جنت دی  د قرآن په ګواهي

دروغ ويل د کمذات خوی دی باد کمزوري او دوزی سړی عادت ګرزی لمړی به د خپلې پستي له سببه او دوهم به د کمزوري له جهته او دريم به د طمع په غرض درواغ وايي. مګر څوك چه صحيح پښتون وی هغه به نه پستي کوی او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به کمزوری دده قوی روح کمزوری کولای شی او نه به هیڅ وخت چا ته طمع کوی،
ځکه دروغ هم د صحیح پښتانه له خولې راوتی نه شي، خوشحال خان وایي:

دروغ د چا دي؟ د کم ذات او دوزي ــــ یا د کمزوری په قدرت لږي
چه دائي نه وي د دروغ به ولې کا ــــ دروغ که کاندي خوږ ني په سپزي

کسري هر څو مره ډېر دولت او ثروت ولري او یا ډېري ځمکې او جایداد
ئې وي خو چه دروغ وائي خوشحال خان هغه مختورن گڼي او دولت نشي کولای
چه د دروغجن د دروا غو عیب پټ کړي، ځکه وایي:

که مختورن دي خو دروغجن دي ــــ رښتني کله په مخ خیرن دي
صفت ئې مه کړه د دروغجنو ــــ که د گنجونو دولت څښتن دي

بلکه خوشحال خان رښتیا ویل سره زر بولي او لکه په سرو زرو چه په هر بازار
سودا کېږي او هر څوک ئې قدر لري او خریدار ئې دي رښتیا ویل هم په هر ځای
کې لوړ مقام لري او رښتین سړي ته هر ځای د اعتماد او اعتبار په سترگه کتل
کېږي او دده خبري مني، خوشحال خان د اسره زر د اسې ستائي:

غشی چه سم وي گذار پرې په کېږي ــــ چه نه سم نه وي گذار پرې نه کېږي
رښتیا په هر څه کښې لکه سره زر دي ــــ په لاس که زر لرې په زر هر څه کېږي

ځکه د پښتونوالي په قانون مړني هغه چا ته ویل کېږي چه د مړانې په
نورو اوصافو علاوه رښتني هم وي او دروغ ئې تر خولې را نه وېزي،
مړني با لوړ همت لري:

---

د پښتونوالي قانون هغه څوک د پښتانه او مړانې له نعمته باسي کوم چه
لوړ همت و نه لري، لوړ همت دا دي چه هېڅکله د ژوند له مشکلاتو نه ملا تیته
او نورو انسانانو ته د احتیاج د پاره سر ټیټ نه کړي که هر څو سختي به
او خواري په بانديې راشي خو همت ئې پښتون به ځان ته بایلي، خوشحال خان وایي:

چه تنگسه در باندې درشي که مېړه ئې
په تنگسه کې د خوار په ځان ور مه کړه

داسې چه دخوښيو دپاره پرخپلو بد خواهانو دښمنانو خپل ژوند خرڅ کړی لکه څېنو بې ننګو او نابوهو پښتنو چه پووخت پر مغلو، پل وخت په انګريزانو اونورو خپله پښتنواله، خپله پښتني ملکه، خپل غښتلي زلميان خرڅ کړی وه، يائې خرڅوی ... دې حلکونه موږ صحيح پښتانه نشو ويلی اونه ئې پښتنواله په خپله پا که لمنه کې پر ېږ دی، ځکه چه مړنی پښتون کـه له لوږې او خوارۍ مړهم شی پښتني همت ئې دا نه منی چه دپردو نوکر شی اوباهغو نه خپله پښتني ملکه پر ېږدی، اوبا دهغو دغرض دپاره دخپلو زلميانو وينې توئې کړی ...

ځکه خوشحال خان دګېډې دپاره د پردی چامنت منل لو بـه بې همتی ګڼی چه وائي :

کـله منت اخلی دپـوې ګېډې دپاره

هرچه همتناك دی که په کورلری جوينه

دژوندون نولي بناد ی او خوښی په عالی همت پورې مربوطې بولی اود دنيا ټول نکبتونه دبې همتی نتيجه ګڼی چه وائی :

| | |
|---|---|
| دسړی هـو نبـره بنـا دی ده | چه په زړه کښې ئې همت شته |
| چـه هـمت د سـړی نـه وی | مـهيـا ور تـه نـکـبت شتـه |
| سر هـالـه پـه اـنه بـه دی | کـه دسـر سـره عـزت شتـه |
| دسـړی چـه عـزت نـه وی | د ژوندون ئې څه حـالت شتـه |

خوشحال خان دهمتناك سړی يو خاصه مميزه دا بولی چه دچامنت پر ځان نه وړی او که دمنت سره هرڅومره قيمتي اوګرانبها څيزهم ور کول کېږی، هيڅ ئې منلای نه شی، ځنګه چه وايی :

| | |
|---|---|
| که ئې نه په منت مومې وائې مه خله | که دچا په باغ کې بوټی د کيمياوی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلخای خپل اوږه همت دي دباره چه نورو پښتنونه بې مثال او نمونه شي، خنګه چه بیا وایي :

دمنت دارو کړم په کار مې نه دی که علاج اره مې راشي مسیحا هم
دفر ښتو آمین منت دی په دعا کښې لاجرم ورځینې پټه کړم دعا هم

دچاچه همت لوړوي هغه تل خپل ابرو ښي دپلار دپاره شي پخپله ستر ګه ګوري، خپل وچه ډوډۍ ئې دپلار سالنو او خوږه وي او خپلې سپیرې میرې دپلار باغو وربانده ګرانې وي، خپله ژبه دپلار تر ژبې ورته خوږه ایسي خوشحال خان وایي :

دخپلې خونې نغن د خمچو نه چه غنمینه دپلار په کچو
په اور دخپل نغری دلند وبچو نه اور دپلار نغری د دیو و چو

همداد اوږه ښتني همت اغېزه چه خوشحال خان خپله دشنو بو غر که داورنګ زېب له پاچاهۍ سره برابره بولي او تول پښتنونه دا توصیه کوی چه ناسي باید خپله آزادي که څه هم دشنو بو دغر کې سره دي په هغې پاچاهۍ چه دغلامۍ رنګ وارې ورته کړي، خوشحال خان چه خپله دشنو بو غر که داورنګ زېب تر پاچاهۍ ښه ګڼي علت ئې همدادی چه د شنو بو دغر کې سره آزاد ژوندون شته، وایي :

چه سرې شنو بې چښېم په وخت داوړی
باد شاهي داورنګ زېب ده زما غر که

بلخای خپل پوزي ته داورنګ مقام او لقب ور کوی او دا د پښتنو والي هغه عالي احساسات دی چه هیڅ پښتانه ته ددې خبرې اجازه نه ور کوی چه بل چا ته سر ټیټ کړی او یا بل چاته دمادي شیانو او خو پیسو د پاره تسلیم شي لکه خوشحال وایي :

چه خوشحال بااندې اسانى كا
دا پوزى نه دى او رنګ دى

همتناك پښتون بايد وړې سترګې په لرى اونه ئې دېل چاپه سترخوان كښې سترګې وى او نه بايد د كېټي طمع دپاره خپل حيثيت ټيټ كړى او يا خپل شخصيت بايلي خوشحال خان دا نكته داسې ښيي :

كه درست باغ د ميوو ډك وما ته كښېږدي
تر همت پورى مې څه دى پر خپرى

خوشحال خان دانسان قدر او منزلت، دانسان لوړ والى او ټيټ والى، دانسان اصلوالى او كم اصلوالى يوازې دهغه په همت پورې مربوط ګڼي، كه څه هم دې طبقاتي امتيازاتو ته دومره قائل نه دى، خو بيا هم تر هغه اصيل سړي چه همت نه لري هغه سړى چه همتناكوى بهتر بولي او ښه ئې ستايي وايي :

كه همت او حميت غيرت پكښې وي   تر څښتنه نه بهتر ګڼه غلام
په طلب كې كه سستي نه وى باور كړه   دژوندون او به به بيا مومي په كام

بيا وايي :

چه همت د سړي څو قدر لې هونېره   د نمېږ په تله هم سړى تاله شي

خوشحال خان دتولو كاميابو سړيو همت كښې پټ ګڼي، او ځكه وايي :

همت په بال وپر سړى الوزي   مرغه پورته الوته كا په وزرو

د همتناك سړي نظر دهغه د همت په شان لوړوي، وړو وړو خبرو ته نه ګوري او نه زاره واړه خبرونه دى له خپله مهم غرض او مطلب څخه ګرز ولاى شي، په دې ميدان كې خوشحال خان خپل ځان ډېر ښه پښتو ته نمونه ګوي، وايي :

لكه باز په لوى لوى ښكار نظر دى   نه چه ګرزي ګونګټ نيسي باد خورك يم
چه په غوښو ئې روزګار هغه زمرى يم   نه چه ولې، وابه خوري هغه مېږك يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخوشحال خان په عقیده هغه څوك چه همت لري هغه هېڅکله دبل د لاس کتې ته نه گوري، دخپلې مټې په زور ژوند کوي دبل لاس ته کتل سپکتیا ته بولي، تو وایي :

خسا چـو تـه مردار هغوتـه    سپي گېدړ شرمښ کفتار خوري
دمـزريـو هـنـر دا دی    چه یا صبر یا خپل ښکار خوري

څوك چه همت لري هغه نه یوازې دبل دلاس کتې ته نه گـوري بلـکه که ئې دلاسه وشي دخپل توان سره سم دنورو سره کومك او معاونت کوي دامطلب خوشحال داسې ادا کوي :

چه خیل بار په هیچا نږدي بار دبل وړي    هم هغه سړی لایق دی دنیا

په آخر کښې خوشحال خان خپل تول نظریات چه دلوړ همت دستاینو دپاره ئې لري په دې یوه بیت کښې ئې خلاصه کوي او پښتنو ته توصیه کوي چه په هرقیمت چه وي باید همت پریښږدي تو وائي :-

که آسمان دې دمزري په خوله کښې ورکا
دمزري په خـوله کـې مه پـر یـږده همـت

داد خوشحال خان هغه وصیتونه وه چه پښتنو ته ئې داوړ همت په باب کښې کړي دي او هغه هم دې دپاره چه لوړ همت ئې دمړانې مهم رکن بللي دی او مړانه دپښتنوالي ټینگ اساس دی ، او خوشحال خان خومرنـې او همتـناك پښتون غواړي، دالاځه چه دنامرد سړي ملگري ئې هم خوښه نه ده که څه هم دمکې په سفر کښې وي :

دنامرد سره مـکـې ته رسید اسې،
ښه دمرد سره په بندي بید یـا ورك

بلـکه خوشحال خان تر مرگ وروسته نه غواړي چه حتی قبر ئې د نامرد دقبر سره ادخ په ادخ وي او که دمرد پښو ته پروت وي هم خوشحال دی :

پس له مرګه شیخ محمود ترقدم شیه یم
ګورمې مه شه د نامرد له ګوره سم

غښتلوالی په څه دی؟ خوشحال خان وایي:

یا ګښتی د زور د دو سره مه کړه
یا د دوی غونډې پیدا کړه سر ونډونه

یو معنوی غښتلوالی دی او بل ظاهري، معنوی غښتلوالی خو په علم او هنر اده اري چه په دې باب کښې خوشحال خان د مخه د پښتنو سره وزغیده او د علم او هنر ضرورت ئې پښتنو ته ثابت او څرګند کړ، پاته ظاهري قوت شو چه هغه په توره مربوط دی مګر که لږ دقیق شو نو دا به راته ثابته شي چه دا دواړه غښتلوالي له روغتیا څخه زیږي او په روغتیا ساتلی کیږي، که څوك ناروغه وي هغه هیڅ‌کله د روغ سړي په شان ښه فکر نه شي کولای، ځکه چه ښه فکر په روغ او سالم دماغ کښې پیدا کیږي او څوك چه سالم دماغ ونلري هغه هیڅ وخت په علم او هنر کښې کامیابېدای نشي او نه د معنوي قوت خاوند کېدلی شي همدا شان د تورو په میدان کې روغ او تندرست زلمی ترنظور او ناروغه ادبي سپکه زلمی ښه توره وهي، روغتیا نه یوازې د تورې په میدان کښې په کار ده بلکه د اجتماعي ژوندون د حرکت ستنه او اساس په همدې نکته ولاړ دی، اول ژوی او انسانان ترڅو چه روغ صحت مند او تندرست دي نو د کامل ژوندي اطلاق پرې کېدای شي، ناروغه انسان علاوه نیم ژوندی دی او د ناروغو انسانانو کارونه تل نیمګړي وي، ناروغه انسان علاوه پردې چه د ټولني او جامعې پر اوږو بار غړی دی او د خپل قوم او ملت په درد (لکه چه ښائي) نه خوري. په خپله هم د خپل ژوند څخه حظ او خوند اخیستی نه شي، تل ئې ژوند په ضرر وي، نو د دې خبرو له کبله خوشحال خان پښتانه دې مهم اصل ته متوجه کړي او ورته وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه دي روغ صورت دی — چه بهتر تر سلطنت دی
ددنیا دولت کښه دی — ددولت نه ښه عزت دی

ځکه چه پښتانه دومره لېږدي خو اته ملتفت دي د خپل صحت سره ډېره بې پروائي کوي، خصوصاً د خپلو ماشومانو او کوچنیانو د روغتیا سره ټینګه علاقه هم نه کوي، زه دانه وایم چه اولادونه تندرست نه وي، مګر دا به ښکاره وېلی شم چه پښتانه هغه ضروریات چه د روغتیا د ساتلو دپاره لازم دي نه راغونډوي او نه د هغو شیانو څخه چه د روغتیا نه مضر دي ځانونه ژغوري، د مثال په توګه یواله هغو شیانو څخه چه د روغتیا د ساتنې دپاره لازم او ډېر ضروري دي نظافت او پاکوالی دی چه د نظافت نه یوازې د لاسو پښو ومخ پانول بدن منځل او پاک ساتل دي بلکه د کور پاکوالی، د کالیو پاکوالی، د لوښو پاکوالی او هر څه چه د انسان ژوندون سره علاقه لري باید پاک اوسېږي او د پاکوالي خیال ئې وساتل شي خوشحال خان په څه ښه الفاظو دا مطلب د پښتنو غوږو ته رسوي چه وایي:

خونه چه پاکه وي پرې تر کټ اوري
وربانسې هر کله عزت دولت اوري

یا کې چه نه وي په هغه خونه کښې — ور ناندې وراده بلا آفت اوري

مګر له بده مرغه ځینې پښتانه و ښځو چه پر سپېره پردې چه د کور، کالیو او لوښو یا کې او نظافت نه ملتفت نه دي او توجه نه کوي پښې اولاس د سر او ږیرې و ښتان ئې هم خیرن او ناپاک وي چه په خپله بد مسلو میږي او د نورو د کرکې باعث ګرځي

استغفر الله، زه دانه غواړم چه خپل قوم یا د قوم ځینې افراد تحقیر کړم او یائې په سپکه یاد کړم، ځکه چه زه په خپله پښتون یم او په پښتنو الافتخار کوم مګر دلته زه غواړم د خوشحال خان د افکارو ترجماني وکړم چه هغه

روغتیا او صحت ته په څه درنه سترګه کتل او د پښتنو د پاره ئې ترڅه اندازې ضروري ګڼېږ بلکه او پښتانه ئې د دې لوی نعمت ساتلو ته په دې راز متوجه کړل چه وړونه وېل به ئې :

چه بهتر تر هر نعمت دی — که نعمت دی روغ صورت دی
چه ئې دا نعمت روزي دی — سر تر پایه عنایت دی

که ئې نه پېژنې ته قدر — روغ صورت لوی غنیمت دی
ستا د ګوښې ځان پر ازنې — تر جهانه زیات قیمت دی
که دې ځان نه وي جهان دی — په عدم ئې اشارت دی
دا جهان لکه معنی شو — ستا وجود ئې عبارت دی
چه په ځای ئې عبارت وي — د معنو هغو نیره قوت دی
د صورت د خوشحالیه — مدار واړه په صحت دی
چه صحت د صورت نه وي — ورته خس مال و دولت دی

خوشحال خان دا انسان په هستۍ کښې د صحت خوند او حلاوت ته ډېر قائل دی دده په نظر کې که صحت نه وي نور هر څه چه وي ټول هیڅ دی ، نو ځکه پښتنو ته دا خبره په شعري ژبه بیانوي ورته وایي : ـ

که ډېر دولت لري ډېري هستۍ — دوا ده دی هیڅ دی بې تندرستۍ
که یې پوهېږې خو تندرستي د — چه حلاوت لري ستا د هستۍ

نو په دې ترتیب خوشحال خان پښتنو ته د توریالیتوب او مړانې او غښتلوالي توصیه یا ئې ته رسوي چه په دې زمینه کښې دده د مفکورې خلاصه هم دا جمله ده چه:

«پښتنو! توریالي ، مړني او غښتلي اوسۍ !! »

خوشحال خان وايي : (٦)

# څنګه ملا؟ څنګه شيخ؟
# څنګه ملك؟ څنګه خان؟

ملائي په دېر تحصيل شي — شاعري ده له حکمته
ملکي هسې بادشاهي ده — خاني هم له سلطنته
پېري لاس په پايه ده — ده له ډېره رياضته
هفت اسمان کښې دا واده — پښېمانه له جهالته
هر سړی ورته ملا دی — چه په ياد کا څو آيته
چه پير و هغه شاعر دی — قافيه غلطه کښته
هغه ... ورته ملک دی — چه کولمي وي له محلته
خان هغه چه ار... پر بوزی — به زانګو کښې وهي لته
پير هغه چه بسې د وومي — څو سرتوري به دا لته

له کومه وخته چه پښتون قوم ديو اولس په حيث پېژاندل شوی دی ټل ئې روحاني او مذهبي مشران در اودل تر اسلام دمخه به داوظيفه * ريشي ګانو؛ چه هم شاعران او هم مذهبي لارښوونکي ؤ ، اجرا کوله بيا تر اسلام وروسته بيا داوظيفه د ملايانو او شېخانو په غاړه شوه ، مګر وروسته وروسته د ور ، نورو قوتونو هم دپښتون قوم په منځ کښې لاس پيدا کړ چه هغوی نه «خان» او «ملک» وويل شو ، که څه هم هغه وخت چه د خلافت لحا يو نه حکومتونو رښتيا يوه بله قوه هم زياته شوه چه حکومتي اقتدار، څو به ملي دول هغه شلور قوتونه وو، چه دپښتنو هر څه يعنې لار ښوونه او بد لاری ، او دوالی اقتصادي حتی ژوند او مرګ د دوی لاس ته سپارل شوی ؤ ، چه دوی

به هرڅه کول هغه کېدل او چه دوی به هرڅه وېل هغه به قبلېدل. په دې کښې شك نشته چه دې قوتونو ترڅه موده پورې دقوم دپاره ښورا او ښه لوېې خدمتونه وکړه خصوصاً روحانی او مذهبی قوتونو، ځکه چه له دې څخه هېڅ پښتون انکار نشی کولای کوم خدمتونه چه ملايانو داسلام دپاره باداسلام په لاره کښې کړی هغه دهېرولو نه دی همداشان هغه لارښوونې چه د دين شيدا يانو خپل بې خبر قوم ته کړی دی اودوی ئې سمې لارې ته چه د دنيا او آخرت ګټې په کښې وی رابللی دی ددېرو ستاياو وړ دی خصوصاً په پښتنو کښې دجهاد روح دروشن فکرو عالمانو دوعظونو او لارښوونو برکت دی او په پښتنو کښې اکثر لوی اومشهور مجاهدين هم دعلماؤ او روحانيونو له طبقې څخه پيدا شوی دی، مګر دافسوس خبره داده چه وروروځينې داسې کسان پيدا شول چه ځانونه ئې دې مبارکو طبقو ته منسوبه ول، مګر خوی ئې هېڅ دوی ته نه ياته کېده اونه حقيقی علما اوروحانيون وو. فقط دوی د صحيحو علماؤ او روحانيونو پاك نومونه اوسپېڅلی مسلکونه وړلکه داره کول او دا پاك مسلکونه چه خدای دانسانانو داخروی اودنيوی سعادت دپاره پيدا کړی وه پوازی دنس دکولو او پيسو پيدا کولو اوخالص ماديت دپاره وسيله کړه او حقيقی لاره ځنې پاته شوه. خوداسې متقلبينو دخوشحال خان په وختو کښې ډېر قوت موندلی ؤ، او علاوه پردې چه حقيقت ئې پرېښی و، اوخپل پاك مذهب او خپله سپېڅلې طبقه ئې بدناموله خپل قوم ته ئې همسمه لارنه ښودله او پوازې ئې هغه لارې ورښودلې چه دوی ترېنه استفاده کوله. نوځکه خوشحال خان دا مظاهره کوونکی ترخپل قضاوت لاندې نيسی اودقلم په څوك ددوی ترټنه او اوغندنه کوی چه موږ دلته دخوشحال خان نظريه او عقيده ددې دوخت ددې ځلورو قوتونو په شاو خوا کښې جلاجلا راوړو چه خوشحال خان په څه طريقه داد حقيقی ملايانو او رښتينو شېخانو بدنامو ونکی پښتنو ته معرفی کوی:

## څنګه ملا؟

خوشحال خان هغه کسان چه حقیقي ملایان نه وي او په دروغو ځو یې ځو دپاره ځا اوبه عالمان ښکاره کوي او په دې راز د خدای مخلوق له لارې باسي، په ظاهره ځان خورا متقي او ښه سړی ښکاره کړی وي، مګر په پټه ئې خلقو ته دام ایښی وي. څنګه ښه په ښکلو پېژني چه وایي:

نادیده چه مفتیه (۱) اولي      ځان ملا کاندي مشهور
سفله ټول کاڅو در همه      تر خواجګانو شي مغرور
دروغجن تر تو په زر شي      د کابل کاندي مذکور
پټې د کې پیا لې ا خلي      ښکاره نه خوري یو انګور

داسې د علم او علماؤ دښمنان خوشحال خان دغلو په نامه یادوي. رښتیا هم داسې ناقص کسان د حقیقي ملایانو او علماؤ، نوم ونه غلا کوي مګر علم او بوه نه لري دی وایي:

هسې غله را ګډ شول په دا دور آخرین کې
چه پیل له انبیاء یه یقوی په خپل آستین کې
زر دانې تسبیح لري شملې د وروسته پریږدي
لوی کتاب په لاس کښې بل سبال له ګنې په دین کې
بل ځای وایي.

عالمان دي رهزنان چه غوا ړي نفادي      عام عالم له زده کړي څو دلیله
همدا شان هغه څوك چه د علم دعوه کوي، مګر عمل ئې له ویلو سره برابر نه وي په ښه سترګه نه ګوري بلکه د داسې چا په حق کښې وایي:

کتابونه د آسمان د ځمکې اولي      په عمل ئې فرق د ځمکې د آسمان دی
په باطن ئې زده ګمان سره لړ لی      په ظاهر و بل په ز به مسلمان دی
په خبرو کښې ئې فیض مولدنه شي      مذ بذب په قول، عهد په پیمان دی

---

(۱) مفتیه د فقه یو کتاب دی.

په تېره بيا هغه اشخاص د پر بدستانى چه د نس د پاره قرآن تر پښو لاندې کوي
يا عمل نه پرې کوي ، نو وايي :

په کاته شم و عالم و نه حیران    چه د نس د پاره څه کا دا نګان
تل قرآن د وړاندې اېږدي قرآن اولي    ولې هېڅ عمل ئې نه وي په قرآن
هسې چارې ئې پيدا شي له وجوده    چه په فکر د کړ نه وي د شيطان
په کوم لوري پسې ځم چېرته ئې غواړم    د کيميا غوندې ناياب شول دانايان

هغه څوک چه ځان ملا بولي او د ملا ئي دعوه کوي بايد هېڅکله حق پټ نه کړي ځکه چه حقيقي عالمان په ډېرو مهلکو ځايو کښې چه د مرګ خطره وه هم تر حقيقت او حق ربلو تېر شوي نه دي څه دا چه د څو پيسو د پاره به ئې حقيقت ته شا کړې وای ؟! خوشحال خان حق پټوونکو ملايانو ته وايي :

په ملا توره تياره شوه چه حق پوش شو    که په لاس ئې فتاوي وي سراجي
علم څه دي چه معنی کښې ګبينه دي    کاسه هم و راره بويه خراجي

بل ځای هغه ملا نه چه حق ويونکی نه وي داسې ښېرې کوي :

د تحصيل او د تر نيل بلا پېده شه    چه ملا د حق ګويه په کار ساکت دی

هغه څوک چه د علم دعوه لري مګر د خولې او زړه لاره ئې سره يوه نه وي که هر څو ډېر لمونځونه کوي لا هم د خوشحال په نزد بې او د سه دی او کوم عالم چه د زړه او خولې ګفتار او کردار ئې سره يو نه وي د هغه په باب کې داسې وايي:

کلمر اند غوندي ملا واقف دراز دي    د کتاب په مسئلو زبان دراز دي
زه مريي د هغه چا يم تري ځار يږم    چه د زړه سره ئې جوړ د خولې آواز وي
چه ئې زړه د خولې له زړه سره يو نه وي    که په هر لمانځه اودس کا بې نماز دي

هغو نا قصانو ته چه حقيقي علمان وي خود علماو ، په جامه کښې ئې ځانونه څرګند کړي وي د هېچا په مال صرفه نه کوي ، حتی د کونډې زنډې او يتيم مال هم لا نه پرهېز دي ، خوشحال خان د دوزخ او اور خوړونکي خطاب ور کوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مال پهٔ رس پهٔ سرفه پهٔ بیم خوري  دبل غم نهٔ کړي که درست که نیم خوري
پهٔ کور د کونډې رنډې دیڼیم خوري  ملا د اولسي اوړه چه بیم خوري

پهٔ بای کښې تولاس دغندنې او تر تنې شخه اخلي ملانه توصیه کوي چه مغرور کیږه مه:

که ډیر والانې پهٔ یار سابیږ کښې  سیال دې څوك نهٔ وي پهٔ ملابیږ کښې
غافل هیڅ مه شه دنفس له مکره  بلا پریوزي پهٔ اشنا بیږ کښې

دا دحقیقي ملایانو او علماؤ غندنې نهٔ دي، بلکه خوشحال خان پښتنو ته هغه کسان ښیي چه ملایان نهٔ وي. خو دملایانو پهٔ جامه کښې را ونغلي وي. او دحقیقي ملایانو رنګه بدوي، نو ځکه پښتانه بایډ دخوشحال خان خبرو ته دقیق شي دحقیقي ملا او غیر حقیقي ملا فرق سره وکړي او هغه څوك عالم وبیژني چه په حقیقت سره عالم وي، نهٔ دا چه دملانوم پرځان کیږدي خو پهٔ حقیقت کښې بلاري !!

* * *

## څنګه شیخ ؟

دخوشحال خان پهٔ زمانه کښې تر ملایانو لا پهٔ شیخانو او پیرانو کښې ډیر داسې کسان وه چه فقرئي شرموالي ؤ، اودیپو تولولو او خلکو غولولو دپاره ئې دا آسانه لار موندلې وه ځکه چه هغه کسان چه علم بهٔ ئې نهٔ درلود او دعلماؤ تر مونه بهٔ ئې پرځانو اینبوول او خلق بهٔ ئې غولول که څه هم پهٔ بسوالي کښې ئې لهٔ دې ناقصو پیرانو او شیخانو سره ډیر فرق نهٔ درلود، مګر داهم ثابته خبره ده چه دهغو کار دخلکو دغولولو دپاره ډیر سخت او مشکل ؤ، او هیڅ امکان ئې نهٔ درلود چه هر جاهل اثناپوهٔ دې کار ته غاړه ایښې وای، دا ځکه چه ځینې داسې دختونه به راتله چه د دوی عیبونه به په څپله څرګندېدل او یا به ځنې داسې ځایونه راغله چه هغوی به امتحان ته کولوته مجبور ربدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تش به زېره پرېښودلو او نسبي ادولو هغه کار ئې پایه ته چلېده خو دمنقلبو او غولوونکو شېخانو کار تر لوېرې دلې ډېر اسان او بې اشکاله ؤ . فقط بو چلتار ترلاو بو اوزد کمیس اغوستل او مشرکې چپه چپه کول دېښتنو دغولولو دپاره کافي وه ، نو ځکه خو شحال خان مجبور شوی دی ، چه دادله هم خیل قوم ته معرفي کړی چه دا مې منقلبین و اشې کـو لای پښتانه وغولوی او باد حقیقي شېخانو او دخدای د دوستانو نوم ور بد کـړی ، هو ! خوشحال خان حقیقي شېخان هم پېژني ناسې ګوا ېږه څنګه ښه ئې ستایي :

دد رویش نرزده به نه رسي داوا ده — آینه دسکندر که جام دجم
د درویش په سر کوزي بادشاه نه دي — د آسمان ورمېږ لاهم دي ورته خم
دد رویش علم په درس په مکتب نه دي — نل نظر اري بـه لوح او بـه قلـم
ماونا ؤ ته دیوال شته غادي غرو نه — په درویش ترشرقه غربه دی بـوسم

بل ځای د درویش خوبونه او افعال داسې بیانوي :

درویش هغه دی چه ترس دخدای لري — د نیکو فعل د نیکـو رای لـري
طمع له چا ، نه کا لقمه حلاله لري — جدا له خلقه دا سو د ګوې ځای لري

خو بـالعکس هغه کسان چه دشیخي دعوې کوي ، مګر خوی او کـاروونه ئې دحقیقي شیخانو نه وي ډېر بد ستا یي او په دې ترقیب ئې پښنوته ښیي :

را ښکاره دی ددې دور اندې لستوني — پردي مالونه او زده لاسونه مرتبې
که په باغ ئې دبتیم د کوندې ګډ کړي — دا نیکورو به خوازه زنګوري چونبی
دخود د و مزه بوښتي بـزه ئې هېره — بې څربي اندې فهی وربا ندې سونبی
کله سر په سینه وهندې سېز ګي شي — کله سر موزی د مار لکه سر بونبی
په خیل کار لکه شاخوزي خرخوله خوشکه — په بل کور کې لکه آس په راتب بونبی

هغه کسان چه په ظاهر لباس ځانونه شېخان او پیران بولي او هم دا لباس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئي. دخدای د مخلوق دغولولو دپاره سبب کړی وی خوشحال خان ئې پټه پېژنی او داسی ئې غندی :

که شیخی زاهدی غواړي ... په خپل لاس کښې ده لا لا !
لنګی ور دستار په سر کړه ... سر و هم په مصلا
یامسواك کښېږده په سر کې ... پا ئې وتوموه تر ملا
په تسبیح خوځوه شونډې ... نورنکی کوې که غلا

ددې راز شیخانو غولولو او فریب ته هم خوشحال خان ښه ملتفت دی او ددوی په حماقت خندا ورځی چه دخوبیسو دپاره شنډې ښخې نه په دروغو وایی چه زه به زوی درکړم، یارنخور نه په نذر صحت ور کوی پاسو چه مسلمان دشخصی غرض دپاره په لبر کړی کافر ولای شی خو خپل خان ته ئې فکر نشته چه کفرته نږدې کاروته کوی، خوشحال خان داسی خلك دطریقت غله بولی او له خدایه ئې مرګ غواړی، ځکه چه داسی خلق هم طریقت بدناموی او هم دخدای مخلوق له لاری باسی، نو خوشحال خان وایی :

داچه ګوزی، کښېنی، پاځی پابخي لندی ... شانګی وهی دربای خربی لندی
دا همه واړه رهزن د طریقت دی ... خپلی خونې لرهودی بردیه کندی
د عالم رخښې قره په سبادی مره ... خبرنه دی دا ګېدی له خپلې اندی
ورتخورته ورکوه صحت په نذر ... شکلی زوی به درو غور کړه دشندی
چه به ئې خدایه یقین په نورخه کېدی ... دهغو دایمان بوودې شیطان وندی
عالم کفرته وباسه په زمان کښې ... دی تر خپل ایمان وتلی لا په خندی
لا به کله داسګان وژنی خوشحاله ... چه به دانواب حاصل کړی پندی پندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې ډلې ددروغو په ذکر خوشحال‌خان افسوس کوي چه دوی ولې دخدای نوم په منا فقت یادوی او دخدای نوم ئې دخوبیسو دپاره وسیله کړی دی . نو ځکه له خدایه دداسې ډلې څخه امان غواړی :

خدایه مه وی هسې ذکر　　چه ئې خلق سر هوا کا
درو یشان د «لا» په توره　　همیش لودما سوا کا
د یود «لا» توره وکښلې　　پوو دغپلو پا د غوا کا

بل ځای هم ددوی له دا په غفلت اړلی ذکر څخه امان غواړی چه ذکر دلخان د پاره کوی خومنت په نور عالم ږدی وایی :

خدایه واخلې هسې ذکر　　آلو ده په د پر غفلت
خدای د ځان دپاره بولی　　په عالم کاندی منت
په ا لله ا لله و بلو　　تاخت تاراج کا درست محلت

بل وخت چه دوی د بنې په زړه ئې بوه په خوله ئې بله ده، وبل او کول ئې سره برابر نه دي، تسپې په‌لاس دبل مالونه خوري، نو وایی :

که‌هزار ځله څوك سر وهی په‌مځکه　　یا په صوم ترشمځی ورولی ناف
څوچه نیت دبنه‌عمل‌سره جوړنشی　　عبادت، طاعت دې واړه‌دی خلاف
چه دزړې لار یو ه دژ ده ئې بله　　په‌چاره‌ئې‌شه ځیګر شګاف شګاف

بیاورته وایی چه تا په خپل زړه کښې بتان کښېنولی دی او د عفو تا بې شوی یې ، اوبیا داریابی سجده دچا دپاره ده ؟

ځکه نو ښتنانه د داسې غواو ونکو خلقو له پیروی څخه را کرزوی او اودترنمت څخه مخالف شیخ ته وایی :

ما په زړه کښې سل خدا یان دی کښېنولی
راته وایه سر وچانا په زمین ږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغفلت تسپي پــه روح وشپه چـار بــاسـي

شومنت بــه پــه کرام الـکـاتـا بين زدي

کوم وخت چه دبيسو دپاره ذ کرونه اروي نوبه غوږ و کې کوتـې نيسی

ارې آپرپږی او پښتنو ته همدا ترصيه کوی :

کوتې رمنهه پـه غوږ وارې اپر پټره
دا کرزرذ کرونه کـازده به درم کنيي

باچه به بنـکـاره ذ کرونه کوی او به پته دخلقومالونه به دروغوا وتيهال خوری

نو خوشحال خان ئې مخ ور نور وی ورته وايې :

در وپښی دا ده که ال حـلا ل خـوري
که قل حلال خوري بيا دخپل مال خوري
کښيني وعدې کړې مخ دی خدای تور که
. بر دی ما لو نـه پـه دا تيتا ل خو ري

څوك چه غوامی حقيقی شيخ شي بايد عالم وی ، جاهل شيخ علاوه پردي

چه څوك لارې نه را وستلای شی ډير خلق گمراه کوی او به ناروا کـارو

ئې اخته کوی ، نوځکه خوشحال خان دجاهل شيخ فساد ترعزا زيل نه څه کم

نه بولی ، وايی :

دد ې دور در وپشان خليفه بس دی
اوس خپل ځانله بل کـار کـاعزازيله
دا جاهل شيخان شيخان نه دی شيطان دی
چه فساد ئې پيدا کيږی لــه تهليله

داسی منقلب خلق په څوځو رنـگه ځانونه ښکاره کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان ئی داسې شپې :

بلار ئې په بند کړ، ور ور ئې بند بند کړ

ځان ئې هم شيخ کړ، هم دانشمند کړ

اوس په غزا کې خپل ځان غـازي بولي

په ځو ځورنگ ئې خپل ځان څرګند کړ

خوشحال خان دې ته حيران دی چه له يوې خوا دا دومره استغفارونه

اوله بلې خوا هومره ګناه ؟ ! تو ځکه وايي :

| | |
|---|---|
| آه دا هـومره اسـتغـفـا ره | چه ئې تل کړې په اسحـا ره |
| کـه رښتيـا دا استغفـا ر دی | بيا ګناه څه ګناه کـا رة ! |
| که دا کـار دی په دروغ کړې | شرم و کـړه لـه دې کـا ره |
| هم دروغ کړې هم ګناه کړې | تـرس دې نشی لـه قهـا ره |

دا حال چه وينی نومجبوريږی چه پښتنو ته توصيه و کړی :

هر چرته چه ګرزی به لاحوله ترې نيرږه

سل بلا په زده کښې سل دانې تسبې په غاړه

داځکه چه په هغې جامه کښې دوی د خلقو مالونه رلجه کوی، نو

خوشحال خان وايي :

دا تـا راج لـکه شيخان کـاندی په ملـر

افـر يـدی تـه ذی داهسې تـا را جـی

صوفی لا فـې دملرك کـا هـم دا لافـی

سـرا سر ګـنـده د ده بـې منـهـا بجی

دائـې سـحر دبـا بـل دمځـکې را ود

چه درست اوښ به کوټ کې رمانده حاجی

صفا ئې د زړه په کدورت نه دي یږي
خو به ږیره ګرزوي شانه عاجي

په آخر کښې د خپل دور د شېخانو څخه بېزاره شوی او وایي :

ددې دور د شېخانو حال مې وکوت
چه ساعت ورسره کښېنم ترې بېزار شم

څکه چه خوشحال خان ددوی دا تول ذکرونه د څو پېسو او څو درهمو دپاره بولـي :

ګوتې ومنډه په غوږ و ترې ئې پر پېزه
دا ګرزي ذکرونه کا زه په درم اخلي

له دې جهته خوشحال وېچ زاهدان او ناقص شېخان نه غواړي ، بلکه دده عارفان په کـار دي ، لکه چه وایي :

زاهدان شېخان وهر اوري نه دې بر دي
دخوشحال خټك په کـار دي عارفان

هغه عارفان غواړي چه هغوی خپلو زړونو ته توجه کړې وي او زړونه ئې صفا وي داسې نه چه :

د صفا په لاري نـه ایښی قدم — همېشه لـه دې ویښیده وهـه دم
هغه که شیخ ، ملا ، ولي درویش دي — چه نازار په سود و زیان په مدح ذم

څنګه ملك ؟ څنګه خـان ؟

د روحاني او مذهبي قوې نه وروسته دوې نورې قوې د پښتنو په مقدراتو لوبې کوي یوه دخانانو او بله دملکانو قوه ده . داد واړې قوې ښایي چه دملك الطوایفۍ دوخت اثبې وي ، او ددوی منځ کشرا د تقریب او ورانۍ خواته ګرزېدلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چه هر ځای پیدا شوی دی، هلته ظلم، تعدی، تفرقه، بې اتفاقي او تجاوز پیدا شوی دی. احتمال لري چه په خانانو یا ملکانو کښې به ښه سړی هم پیدا شوی وي او یا به پیدا شي، خو بیا هم دا خبره ښکاره ده چه د دوی نظام د انسانیت د پاره ډېر تاوانی او د ترقۍ مخه نیونکی دی.

دوی ته له ځانه نور هیڅوک په حق قایل نه دی. دوی چه د قوم مشران دي نو خیال کوی چه قوم د دوی دپاره دی. اود دوی د خدمت او د دوی د ظلم دپاره پیدا شوی دی. نو هر څه چه دی دلاسه کېږي، خپل قوم خوروی او شکوی ئې، ترمقي ئې او حق ئې ناحقه کوی بدی او رشوت خیني اخلی. نو خوشحال هم دوی په دې ستر گه گوری چه وایي:

که په کور کښې مال دولت لري ستر گه‌ور زي — ملکان ئې او خانان دي مردار

حقه چار به د غز یز گیا ندی نه حقه — که په پیړۍ رشوت مړي بوديښار

دملکانو سره رشوت خوري نراي ده. سود خوری او لوړ خور خوری څر ددوی له اصلی وظیفو څخه کېږي، نو ځکه خوشحال وايي:

د برئي ملکان دي یکښې ښه علك ښه دی
هر چه پې ننگي گا د چاپې ی رشوت خور ښه

کښېږي په هر سو د کي د سود و لو کا څوري
باد خو ر ، د لور د د لور و نود بل کړ ښه

همداشان د خانانو حال څر گندوی، وايي چه خاني د هر چا کار نه دی او نه خاني دومره اسانه ده چه هر څوك ئې کولای شي:

و خا نی ر و نه و ر ځـفـلـه هنر هېڅ نه
و ما لـم د نـه پیـدا کـړه د ر دسـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانی کار د هر چا نه دی د هغه دی

چه صرفه ئی نه په زر وی نه په سر

یکبار ئی په نظر کی شرم ننگ وی

د دنیا په سود و زیان نه وی خبر

بل ځای د حقیقی او درست خان اوصاف داسی څرګند وی :

خانان هغه دی چه په خپل نام دی

نه په دنیا دی نه په خپل کام دی

چه په کوم تورکی دقام ښیګړه وی

په هغه فکر کی په صبح شام دی

مګر هغه خانان او ملکان چه د خدای مخلوق ځ هیروی او د هغو د ژوندانه درده غافله وی که څه هم زیری ئی سپینی وی، خو بیاهم د خوشحال په نظر د ئی ملکان معلومیږی، دی وایی :

د غافل په سپینه ږیره غلط مشه     د هلك غوندی ئی لا په خواله کی ئی دی

که هر څوئی بو موم یری نه بو هیږی

ژیست روزګار ورسره مه وشه ځاروی دی

کوم لوی عیب چه خان او ملك ته منسوب دی او د وی ئی نه پوازی د خوشحال په نظر کی بد کری بلکه د ټولی جامعی او ټول اولس نفرت ځینی کیږی هغه پربی وزلو او خوارانو باندی د دوی ظلم دی . ظلم هم نه یوازی د خان د پاره بلکه د ظالمانو د ګټی د پاره ، د خو یبو د پاره خواران په ظا لمانو ټکوی او وهی او شکوی ئی . غریب قوم چه د وی د خان مشران کری دی ، خو دوی غریبان د خان داسی کشران نه بولی چه د هغو د پاره خدمت و کری او یا د دوی په غریبی ئی زړه وسوځی ، بلکه داسی کشران ئی بولی چه له دوی څخه کار واخلی او د دوی د مریونو په شان استعمال کری ، د دوی ګټلی ځینی په زور واخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



باڼي په خپله وخوري ، باڼي نورو ظالمانو ته ور کړي ؛ او خوشحال خان
داستمګرانو داسې یادوي :

ستمګر به همیشه په دنیا نه وي — بس له مرګه به لعنت لعنت په ده وي
هسې خوښ د ظالمۍ په کار ولاړ دی — نه به وائي مرګ ئې نشته تل به ژوي
ظالمان به نورځه هیڅ راغلي نه دي — خو دنیا و ته بنو ئې بزی لکه روی
چه د خپلې کامرانۍ په کار راشي — که عالم ته و بالاشي پري ئې زده وي
په ګفتار کښې فرښته وسره سیالي کا — په کردار کښې شیطانان ترې پوري څه وي
که په سول ئې د دنیا مقصود حاصلیږي — دمکې په وره په هم پوري کاسوي
په خپل زوی ، ورور ئې بده نه وي نزلي — دخپل پلار و مرګ ته هم موزی ورغوي
په هغه چاره قلم رو غ کا قرآن کښې — په هغه چاره له وروره مري په سکوي
په رکوع کښې تسبیحات د مال وملك کا
په سجود کښې خپل حشم غواړي که ښه وي

مګر داستمګران سره ددې چه دومره ستم کوي بیاهم خپل ظلم ته ملتفت نه وي او خپلو مظلومانو ته داسې مظاهره کوي چه موږ خو هیڅ نه دي کړي لکه خوشحال خان چه وایی :

هم ئې هیڅ راته پرې نښو دل هم وایی — چه داده او سه لا هیڅ نه ئې نتلي

دوی باید د مظلومانو آه ونه هیر نه کړي ، د مظلومانو آه به ضرور د ظالمانو کور وران کړي لکه خوشحال چه وائي :

دمظلوم آه و نه کاني د غره سیځي — ظالمان به آزار ونه چند آخلي

۞ ۞ ۞

نتیجه :

خوشحال خان خو په دې دول ددې ځلور وقواؤ ر نګا رنګ رو لونه چه د پښتنو په مقدر انواراجتماعي ژوند کې ئې لوبو لي د نی راوښودل ، اوس باید

موږ په ډېر دقت ددې له افکارو ډېره نتیجه واخلو، او هغه داده چه دې خلکو وقوتو او تعمیمی خان، ملك، شیخ او ملانه ډېر ځیر شو، او کوم وخت چه غواړو چه دوی زموږ په مخ کښې شي، نو په انتخاب کښې ئې زښت ډېر دقت وکړو، اوددې دقت مقصد به داوی چه موږ صحیح او درست مشران وټاکو، نه دا چه هر لاس ته لاس ورکړو او په پټو سترګو په هر چا پسې روان شو :

ای بسا ابلیس آدم رو که هست    پس به هر دستی نباید داد دست

ځکه چه اوس هم داخلکو قوې دینتمو په اجتماعی ژوند کې پوره لاس لری او پښتانه باید درست انتخاب له دغو شخصو جلا کړی. دروغجن او متقلب اوخائن اشخاص د صادقو او رښتینو سړیو سره ګډ نه کړی. ځکه چه دی اشتباهاتو ډېرو مونږ غولولی دی چه وروسته بیا خپلو خطا ګانو ته ملتفت شو نو بیا خو هغه وخت کار تر کاره تیر اود دوی افسوس ګټه نه ده کړی، او دی کښله نو باید پښتانه له دې رنګه اشتباهاتو ځان وژغوری او د مشر پارهٔ هغوی په انتخاب کښې تر حده زیات دقت وکړی، همدا اشان هغو ښاغلیو ته چه غواړی دقوم مشران شی دا فکر په کار دی چه خپل قوم ونه غولوی او د قوم افرادد شخصی فائدې او ګټې دپاره استعمال نه کړی، بلکه ځان د قوم خادم وګڼي او د قوم دلوړ ولی فکر ورسره وی. دقوم له منځه جهل، ناپوهی نفاق او بی اتفاقی او قبیلوی فکر ورك كړی، دیولوی قوی پښتون دجوړولو خیال وساتی، ځکه چه د پښتنو اکثره مشران د ځان ځانی په بلا اخته دی او هرڅه یوازی د ځان دشخص دپاره غواړی، او د قبیلو تر منځ د نفاق تخم پاشی اوله هغه نه د ځان دپاره فایده اخلی

ناسي ګوري، له کومه وخته چه دا څلور قوتونه د پښتون قوم د مشر نسوب په کورسي کښېناستلی دی دوی اکثره په دې پرهېزي چه پښتون قوم ناپوه دی، باید دوی پوه کړی شي، مګر پوه دې خبري ته جدي اقدام نه دی کړی داځکه چه که پښتانه پوه شي نو خپل مشران نه به خپله په ډېر دقت وټاکي او به هر ناپوه پسې به نه ځي، دغه مشراو به مشر تميز به وکړي، او داخبر ددوی شخصي ګټي ته تاوان رسوي. نو ځکه دوی په خپل قوم کښې نفاق او ناپوهي قايمه ساتي، خبره دی چه د ژوند لاره داده ده او خوشحال خان دوی لـه دې ځان ځانیه او قبیلوي ژوند څخه داسې منع ګوي:

چه دي توان رسي په لوی دربار کښې ګرزه

په بېله کښې دي زوال وېشم نهنګه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان وايي :

# (۷)

# کار وکړئ، بډایان شئ!

که غواړې پسې وهې په لاس به در شي

چا وې دا چه په دریاب کښې ګوهر نشته

لاس او پښې او نور د بدن ټول غړي قدرت انسان ته د کار او فعالیت د پاره ور کړي دي، که انسان له ځېلو غړو څخه کار وانه خلي او خپل ځان کاهلۍ او تنبلۍ ته وسپاري دی نه یوازې له طبعي قانونه څخه مخالفت کوي، بلکه په اجتماعي ژوند کښې د اجتماع د او زو بار دی دالا څه چه د ژوندي نوم پرې یادول د ژوندون د پاره عار باله کېږي، ځکه چه ژوندون عبارت له حرکت، او خوځېدو او فعالیت څخه دی. څوک چه نه خوځي، فعالیت او کار نه کوي د هغه او د مړه په منځ کې څه فرق او توپیر نشته. نو ځکه خوشحال خان پښتنو ته د کار توصیه کوي او بېکارۍ ورته په بده ستايي دی وايي :

هر ساعت چه پرڅاځي هسې بېکار — تر هغه نه زه لا ښه ګڼم بېکار

رنځوران که کار و بار نه کا معذور دي — روغ سړي به ولې ناست لا خپل روز کار

که هېڅ کار و بار دې نه وي درته وایم — هسې مه کښېنه بېکاره نابکار

داخو د پښتو متل هم دی چه د نر بېکاري، بده ده، نو معلومېږي چه په پښتنو کې له پخوا څخه بېکاري بده وه، مګر په اوس وخت کښې د پښتنو خینې زلمیان او زاړه شته چه خپل وختونه په لهو لعب تېروي او ناجائزې چارې ئې د ځان د پاره کار ګرز ولي دي، نو ښايي داسې پښتانه د خوشحال په وختو کې هم ؤ، چه نه د دين وه او نه د دنیا، ځکه نو خوشحال خان داسې پښتانه د تر لنې بلا بولي او مرګ ئې له خدایه غواړي :

چه نه د دین دی نه د دنیا دی — هغه که ګرزي په کار د چا دی

پرهېز ده چه ومري جهان تري خلاص شي — په دا جهان کښې بوه بلا دی

بالخصوص پښتنو ته چه د خپلو غرو څخه هېڅ رنګه کار نه اخلي ، اواوز دي پښې ئې غځولې د دوی درخ دوني سیوري ته او د ژمي شپه په کوټو او بانډو کې او درخ ئې پټاوي ته تېروی ، داسې سپینې خبرې کړی :

چه په دواړه وستر ګو ړوند په غوږ و کوڼ شوي

لال په حوله عفلت په لاسو پښو هم شل کـړي

که موږ په دقت سره کتنه و ته و ګورو ، سر بېره پر انسانانو ، نور موجودات هم بې فعالیت او بې کاره ندي او هر کار چه د قدرت له خوا ور سپارل شوی دهغه په اجرا بوخت دی ، ټول ژوي مجبور دي څو چه ژواندي وي د خوځېږي ، کار و کړی او ځان ته بو آرام ژوند تهیه کړی ! که نور آرام ژوندنه وي ، دخپل نس دپاره هم هر ژوی مجبور دی فعالیت وکړی . د دنیا ټولو انسانانو چه تر پښتنو ښه ژوند پیدا کړی دا ټول د کار او فعالیت نتیجه ده او پښتانه چه دومره وروسته پاته دی ، دا د دوی د بېکاری او نا پوهۍ اثر دی ، څوك که کار ونکړي ، زحمتو نه و نه باسي او مشقتو نه و نه ګالي ، هغه هېڅ د ښه ژوند خاوند کېدلای نشي ، حتی که حیوانات دخپلې ګېډې دپاره حرکت او هڅه ونه کړی ، یقیناً وږي بانېږي ، ځکه نو خوشحال خان پښتانه په دې راز پوهوی او ورته وایي :

چه مزري خپلې منګلې نه کا کښلې — هو نېږ ه ندوی څربې غو ښې ور نه تلې

مرجونا د در مرجان هاله و لیجه کا — چه قبول کاندي د بحر خونې چلې

عاشقان چه ترسر تېرشي هاله کښل کا — د دلبرو پستې خولې لکه بخملې

باز چه والوزي له ځالې هاله ګوري — د کبکانو ښائسته ستر ګې کجلې

چه داور بخرۍ باد سره رفیق شي　　　بیا هاله کښې به ملګو نو لمبې بلې
چه سیلاب د غره دسره نه روان شي　　　بیا هاله بیائي به منځ د ډېرې خځلې

هو اخوشحال خان د زحمت ابتلاو او کار کولو جدي طرفدار دی او دامشهوره خبره چه " بې زحمته راحت نشته " ډېر ځایه و نه تکرار وي، یو ځای وایي :

هرسړی چه محنت نه کا هغه کله راحت مومي
راشه راشه رنځ قبول کړه که نه ګنج غواړې سبه بند دی

بل ځای همدا مفهوم په دې شان بیانوي :

چه محنت په ځان قبول کا راحت مومي
رنج و ګنج سره دواړه دي تړلي

بل ځای وایي :

چه محنت په ځان قبول کاندو راحت شي
چه عارف د مصیبت شي عافت شي

یا داچه وایي :

چه جنګیالی دی دولت هغه مومي　　　چه ننګیالی دی عزت هغه مومي
دا دواړه تو له سره تړلي دي　　　څوك چه محنت کا راحت هغه مومي

همدارنګه د کار کولو او زحمت ابتلاو ډېرې نو سېپي پښتنو ته کوي په تېره بیاد کرهنې او زراعت کار دژوند انه له مهمو کارو څخه بولي او د دهقان دحور و میلمه ګڼي او څوك چه د دهقانانو ډوډۍ خوري د هغه مقام تر ظالم باچا پورته ګڼي، وایي :

څوك چه ډوډۍ د دهقانانو خوري　　　خواړه د حور و د میلمانو خوري
چه ئي په ظلم خوري واړه دې زهر شي　　　که سا لنو نه د سلطانانو خوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا همدا ده که څوک د دهقان او بزګر مقام ته ملتفت شي په اجتماعي ژوند کي

ډېر لوړ مقام لري ' تا سي ځیر شی
دانسانانو ټولي طبقي که غریبي دي یا بډایي '

که شیخ دي یا ملا که کافر دي یا مسلمان' که ښځي دي یا نر' پاچاهان دي یا ګدایان' که عاقلان دي یا جاهلان دا ټول د دهقان او بزګر لاس ته ګوري او باید د ده د زحمتونو ممنون واوسي!! که دهقان کار و نه کړی د دنیا هغه بډایان چه ځان په طلائي او پاچاهغه شاهان چه مملکتونه ئې په فرمان وی ' وږي به پاته شي ځکه چه دا ممکنه ده چه انسان کالي وانه غوندی او لڅ ژوندی اوسی او یا موټر کي سپور نشی ' پلی خپل ژوند تېر کړی مګر دا هیڅ ممکنه نه ده چه یو انسان په لوږه ژوندو کړی او نباته ونه خوري او ژوندی پاته شي ' نو ځکه خوشحال خان کرهنې ته ډېر اهمیت ورکوی او دهقان او کاریګر تر هر چا پورته ګڼی ' خوشحال خان لیدل چه پښتانه ډېر وسیع دښتونه او فراخي ځمکي لري ' خو دوی ئې ودانو لو ته توجه نه کوله ' دا خولا بلا په پسي دوی به ویل چه موږ وس نه لرو' مګر د پښتنو دې بروابي له کبله د دوی ودانې ځمکي ورانې وي ' ځکه چه هغه وخت پښتانه ا کثراً په دهقانۍ شرمېدل ' او اوس هم لا ځیني ساده ګان شته' چه د ځمکي آبادول و یا د خپلي ځمکي زراعت ته توجه کول د ځان پوراز کسرشان بولی او داهغه جنابان دی چه په دې غریب ملک کي په زرو جریبه ځمکي لری ' خو د سلو جریبو حاصل نه ځینې اخلي ' دا ځکه چه ځمکه باندي ډېره ده علاوه پر دې چه د دوی خرڅ پوره کوی ددې ډېري ځمکي روزل هم د دوی تر طاقت پور نه دی' خصوصاً چه روزل ئې ځانته پوراز حقارت هم و ګڼی ' نو خوشحال داسي لټو زمیندار انو ته وایی :

تخم شته هم ځمکه هم قلبه اري تيار
هر اسباب دي جوړ دي ولې نه کړې کار د کر

بل ځای وايي :

پسینه کرله هو نبره فايده نه کا    چه په وخت کرله وکړ بر آخلي
د کر او وخت آخر شو تخم لږ دی    خوار هغه چه ئې له کره لاس ختلی

دخوشحال خان په نظريه کاملان احمقان دي، که دوی پاچاهان هم وي، زړه له تخته پر يوزي، دين او دنيا دهغوی چه کار کوي، وايي :

کاملان دي چه احمقان دي    دولت به بايلي که پاچاهان دي
دولت د دين دد نيا د چا دی    چه هښياران دي په کار چسپيان دي

مګر کار کول هم خپلې لارې لري، خوشحال خان د کار د پاره درې اساسي لارې ټاکلې دي چه حقيقتاً هم ډېرې مهمې او بنيادي لارې دي يوه داچه خوشحال خان وايي، بايد لومړی د کار په تا ګلو کښې فکر او تأمل وشي:

درته چاوي چه پېرې مه پر انز ده غوټيه
تأمل د هر سړي ګره ګشاى دی

دوهم وايي چه په کار کښې بايد تراندازي زيات تلوار ونشي، ځکه چه د کار دوراني سبب ګرزي :

چه ورداني چا ري وراني په ساعت کا
چه مي وليده په چارو کښې تلوارو

خو دلته زړدي خبرې ته ملتفت کېږی چه خينې پښتانه خو خدا ئي هم تنبلان وه داد « نه تلوار » خبره چه هم واوري نو به پښه پښې تنبلان شي او دا خبره به دخان سند وګرزوي، نوځر بل ځای وايي :

چه‌داسته‌دروهي چه آهسته دروهي    فتح هغه موهي نصرت هغه موهي
چه کاهلي کا يا ډېر تلوار کا    نامرد هغه نومي ناکس هغه نومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی نه به کار کښې دومره تلوار چه پوهان کار روان شي او نه دومره کاهلي چه بېخي کار بانه شي ، هم کار باید وشي ، هم باید به سنجش وي .

درېمه داخبره کوي ، چه مېړه هغه څوک دی چه کار آغاز کړي نو انجام ئې فرض و ګڼي بدبختا نه اوس هم داعادت نشته چه هر څوک کار به ډېر جوش او خروش شروع کړي خو څه موده وروسته ئې پرېږدي او پای ته ئې نه رسوي . بیا بل کار ته لاس اچوي . د پښتنو د کارونو ته ترقي نه موندلو او لوی علت هم دا عادت او فکر دی چه هر سړی هر کار بې فکره او بې سنجشه شروع کوي خو چه د کار د مشکلاتو سره مخامخ شي د مقاومت طاقت ئې نه لري ، نو بې نیمه لاره ئې نیمګـاره پرېږدي ـ خوشحال خان غواړي چه دا بد عادت د پښتنو له مغزه ورك کړي ، او وایې :

| | |
|---|---|
| مردان هغه دي چه همت ناك وي | د ننګ په کار کښې چست و چالاك وي |
| کار چه آغاز کا انجام ئې فرض ګڼي | په زړه هم پاك وي په خوله هم پاك وي |

حتی خوشحال خان د مطلوب په لاره کښې ویني تو یول هم جائز ګڼي په هر قیمت چه وي باید مطلوب ته خان ورسول شي ، نو وایې :

تر مطلوبه پورې شرط د رسېدو دی

که تمامه لار په وینو شي آلوده

بېلابېلې او زر پیدا کول :

لکه څنګه چه په ژوند کې د لیچو زور او د علم زور په کار دی همداشان د پول زور هم شته چه ډېر ملتونه ئې تر خپلې سلطې لاندې راوستلي دي او هم ئې راولي . بلکه په نننۍ دنیا کې څوك چه دازور نه لري هغه ته ژوندی نه وایې او هغه د ژوند اد پېسه زور دی ، په دې ننۍ عصر کې د هر مملکت ، هرې جامعې یا هر فرد سره چه د ازور شته هغه په خپلو هم عصرو او هر څوك ورته احتیاج دی ، نن ورځ امریکا څه نور سحر ، جادو نه لري

همدا د پیسو زور دی چه د ځمکې نیمه کره ئې کرو کړې ده او لاغو ادی
نو ره دنیا هم د دالرو په زور دخپل ان کړي . ان به پیسو څه کار و نه دی
چه نه کېږی ؟! څه انسانان او اولی شخصیتونه دی چه د پیسو د پاره او بې نه کوی ؟!
او څه د ملتو نو ناحقي دعوې نه دی چه په پیسو د سره نه کېږی ؟؟ په نننی جهان
کښې په پیسو هر څه کېږی که په بده لار صرف شی بدې چارې پرمخ ځی
که په ښه لاره ولګېږی ښې نتیجې ښندی. پښتانه چه د اقوت نه لری نو هر چا پانه دی
نو خوشحال خان هغه وخت لا د پښتنو دې نقص ته ملتفت و او وئیل په ئې :

پاد لیچو زور په کار دی پاد زرو
خوار هغه شه چه په دواړو دی کمزوری

په پښتنو کښې ځینې خلق وو چه د پیسو له ډېرولو به ئې پدرانه او د اتنقید
له دې کبله و چه د پښتنو ځینې پداپان دخپلو پیسو په چل نه پو هېدل او د پیسو
څخه به ئې نه د قوم د پاره او نه د ځان د پاره کومه فائده اخیستله
او پیسې به ئې تر مځکې لاندې ښخو لې ځکه نو خوشحال خان د زرو اهمیت
داسې بیانوی :

خپل پردی رانه په خوله وایی زر زر — و عالم ته تر هر څه دی بهتر زر
اوس په دا دور ماولیدل خوازه دی — تر پدر تر برادر تر پسر زر
نور و چار و ونه څه ګوري داګوره — چه صاحب د مسلمان کا کافر زر
فیروزه الماس یاقوت لعل له کانه — له دریا به نه د کانزی ګوهر زر
مځکه څه چه د آسمان ښایست په زر دی — ستوری زر دی آفتاب زر دی قمر زر

زور قوت حرمت هورې دروی چه زر وی
د پاد شاه په سر څوک کښېږدی افسر ؟ زر
ښه ځوانان ئې لیدل نه موږي له ورایه
دنیا مرد به غېږ کې ور کا دلبر زر

د ګېډې د ونوم په خوله څه لره اخلې
د مزرې له ننه هم پرې کاندې زر
هر مراد چه د سړي وي په دنیا کې
د طالب په وخت ئې ورکا د زر بس زر
نه به دې په ابرو زر و نظر وکا
له بې پروزې وخوشحال ته غرغر زر

بل ځای د زرو تاوول داسې ضروري ګڼي:

زر په بده ورځ په کار شي     هسې ښیار ځکه ساتي زر
د زر دار بلا په زر و     د نادار بلا په سر
چه سپر وي ګندار په سپر شي     چه سپر نه وي لاس شي سپر

بل ځای زر داسې ستائي:

زر دي چه هر چا ته اعجاز معلوم کا
معدوم موجود کا، موجود معدوم کا
وینځه مېرمن کا، خادم مخدوم کا
زر په سندان کښېږدې سندان هم موم کا

خوشحال خان خو د زرو صفت کوي، مګر زر دار او دولت مند ته په ښه سترګه نه ګوري ځکه چه خوشحال خان په زرو یا نمول او بدائي کښې نقص نه وینې، له زرو نه چه څه نقصان پېښېږي هغه تول د زر دار او بدای نقصان بولي. «دولت پیدا کول» او «دولت ترسرول» د خوشحال خان په نزد دوې جلا لارې دي ښايي دولت به هر څوک وموني، مګر د دولت ترسرول او په سمه لار روانول د هر چا کار نه دي، لکه چه وايي:

بې دولت نه رسېدل دی     بل دولت ترسرول دی
دنیاداران سره ګډېږي شي     دوړه توکه دعا قل دی

بخت خو آس و سړي ور کا     ګران د آس تحمل ساتل دي

دخوشحال په عقیده هرمشکل او سخت کار په زړو آسانه کېږي ، دادزړو هغه خاصیت دی چه انسانان ورته قائل شوي دي . مګر زړه دار باید پر زړو ایمان ورانه ولري او په مینه ئې کار ونښلي دی وایي :

که هر څو مشکل کارونه درته پېښ شي
فکر مه کړه چه آسان به په زړه نشي
ما چه ولیده خو زړه دی په دنیا کښې
خو سړي دي ئې په مینه کار ونښي

هغه زړه اراو بهای چه فقط پیسي تولول ئې غرض وي او پیوازې په پیسو ئې ایمان راوړي وي ، نه ئې په ځان خوري نه ئې ملت ته ور ګوري او نه ئې دملت قوم ، ګورنۍ او همسایه دفائدي دپاره صرفوي . خوشحال خان ددې زړ دار دسړ دښمن دی او داسې ورته وایي :

دد نیا د سود د پاره ګوړ او ګوره
څه خوشرم هر و تونه و ګوره
په درست عمر هغه ځای ور پسې غواړي
چه دې بر بو زي له پلو ه چېر نه نوره
په زړه کې باندې دي نوره سوی داغ شي
چه دي نوره یا پیسه روزي له کوره
دلوي غره کنډې په تا باندې پربوزي
چه د ګوره دي دوه ورزي نان کوره
د دنیا مینه به تا باندې درياب شوه
ته په دا درياب کې ډوب لاړې هر ګوره

بلکه خوشحال خان داسې دولت مندا وزړه دار غواړي چه خپل ځان ، خپلې کورنۍ ، خپل همسایه ، خپل کلي ، خپل قوم او خپل وطن ته ئې خیر ورسېږي ، او دخپلې

سرمایه او ثروت ځکه په دې لاره کښې کار راځي ، لکه څنګه چه وايي چه :

د دولتمند سړي هغه بـالي بو بـه

چه لـه هيڅ ده ئې چوداړ چاره لـه [...]

دولت مې دي په هنر په علم مت لـا

کـه هر څو شایسته هیڅ دي بیا پیدا شي

څو که دنیا ورته [...] لـه دي خوشحالـه

شاه و زلمیه [...] د [...] چنګالـه شي

نه داسې متمول او پيدا چه هغه په غیله خوري او ته ئې و بل ته ور کوي

خوشحال خان وايي :

چه څو که دنیاري په ځان ئې نه خوري

د ګورغه (۱) غوري ساوري [...] خوري

چه مال ئې یا نه شي و بل ته ور يې نه

چه [...] ئې لـه خپله [...] اسو شه [...] دی .

بل ځاى وايي :

په هغه خو [...] چه ئې نه خوري

سړى هسې په [...] سر [...]

خوشحال خان داسې ثروت او زر د سړي د ځان بلا او [...] هم بولي ،
ځکه چه اول ئې پرغم د ننه خوړلو ئې بل غم ، او مال ئې [...] غم شي ، او [...]
چه ته داسې بدماني چاشنه نه غواړي ، وايي :

چه زر دي غم شي هسې زر دا زمه شي

چه زر دې هیڅ [...] د [...] پيشکار [...] شي

په دا لا سي راشه ، په دا لا س دروما

د [...] د [...] په حساب په شمار [...] شي

---

(۱) دا مخفف د [...] یا د [...] دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکه دخوشحال خان په نظر کې هغه خوار دی چه څوك دمېلمه سره نه خوري او همېشه دبخو سره تا ست وی هم بد گڼی ، وایی :

هغه دی ك طباخ په سپی خوند لی شه دی
چه تر څنگه ئې دهغو ز تو پرسو پرو خوری

بوازی ثروت پیدا کول یا زر غونډول کمال نه دی د ثروت اوزرو صرفول

خان ته هنر لری همدا شان دمال خوړلو او سا تلو ځان ته هنر و نه شمېره

چه هر زردار او ثروت مند پرې خبر نه دی ، دادخوشحال فکر دی چه وایی :

لکه گټنه د مال هنر لری    هسې خوړ نه د مال هنر لر ی

لکه پا ز نه د مال هنر لر ی    هسې سا تنه د مال هنر لري

خوشحال خان دانسان او حیوان فرق په دې کی بولی چه انسان خپله سرمایه

او ثروت دانساني منافعو دپاره صرفولای شی او حیوان په دې نه پوهېږ ی

او ځکه وایی .

که په خره باندی دزرو صندوق بار کړې    خر به هېڅ په دا پوهنشی غر څو خوری

دد نیا مال بوازې ددې وسیله ده چه انسان د نیکو نوم پرې وگټی او یا

چا ته خیر په ور سوی او یادو طن او قوم د خدمت په لاره کې ئې صرف کړی

او له دې لارې د نیك نامه خاوند شي ، خو شحال څه ښه وایی :

دد نیا په مال د نیکو نوم حاصل کړه
ال جهان و چا ته نه پر پښږ دی ما اونه

خوشحال خان داسې مال غواړی چه ځای ئې ترزده پور نه وی ، دا سې مال

نه غواړی چه ځای ئې تر زده کښته وی ، وایی :

هسې مال رامه کړه چه ئې ځای وی ترزده کښته
هسې اموال را کړه چه ئې ځای د زده د پا سه

خوشحال خان دنیا ددې دپاره غواړی چه بل محتاج ته ئې خیر ورسېږی ،

دوی دپاره ئې نه غواړي چه دمېږي یا موږک په شان ئې خپلې سوړې ته یوسي ، دوی وائي :

چه د مال خوړل خوړل کا هغه باز دی یا شاهين دی
چه ئې سوړې له وړه وړه یا مېږی دی یا مار ه

دخوشحال خان لاس نه رسېږي که نه ده به تر له دنيا نه زړی وای :

څه کرم لاس و دست مې نشته قلندر یم
گنه ما به دنیا و یا ز له کسله

مگر سره ددې چه لاس ئې تش دی سترگې ئې مړې دی چه وائي :

که مې لاس له دریاب له دره تش دی
ولې سترگې مې دریاب غواړي دی سپړی

په دې نکته کښې د خوشحال غرض دخان ستائنه دی ، بلکه غواړي پښتنو ته داوه همت درس ور کړي او دوی دطمع او حرص دبدو خصلتو نه خلاص او گرځوي ، نه یواځې هغه څوک چه محتاج وي له دې بدو خويونو څخه منع کوي بلکه هغه څوک چه پیسې او ثروت لري تر غريب ډېر دې نصیحت ته اړ دی او بدبختانه دخپلو انسانانو چه هر څومره پیسې او ثروت ډېرېږي په هم هغه اندازه ئې طمع او حرص هم ور سره زیاتېږي ، او ځکه خوشحال وائي :

| | |
|---|---|
| هو هم هغه گڼه چه زړه ئې مړه دوی | سترگې مړې لري که ژوندون کوي |
| که وير دولت لري چه طمع خواست کا | د گدائي نو کار نه جوړ يږي |

نو ځکه خوشحال دغسې بدائي چه له گدائي سره برابره وي نه غواړي او پښتنو ته خپل ځان نمونه گوي وائي :

| | |
|---|---|
| زر زما تر لاسه نه راځي وېرېږي | که هر څو مې دلاسه ور سره کېږي |
| زما لاس ور ته تر اوره هم بتر شو | لايداور کښې ئې بود نه گنساعت نه پرېږي |
| زه او زر سره له ځايه غلمان يو | په جهان کښې غلمان سره رغېږي ؟ |

چه غلیم د مړنی په نظر کښېوزي — اوړني زړه د دوه مړ کړه وته بې کېږي

پښتانه زلمي به خیال غلیم کا تر ځان وړاندې — و نامرد وته به سل حیلې د ړ پېږي

کاڼي زر اه سره و ګوري یو رنګ دي — فرق ئې دادی چه به زر وزده رغېږي

هغه زر تر کاڼي لوڼي لا بتر دي — چه ئې ومندي په ځمکه نه خو ځېږي

چه اوبه ځای په حصار نې نوري خساشي — سفا ئې نې هم په داده چه بهېږي

دلته باید دا اشتباه و نشي، چه خوشحال خان د اسراف یا بې ځایه خرڅ طرفدار دی، ددې نظم غرض دا دی چه هغه بدایان چه پیسې تر اول ئې خپله غایه ګرزولې ده او پیسې د ښځېدو بایتو او دپاره غواړي، چه په خیال ژوند کې له خپلو پیسو څخه هیڅ راز ګټه نه اخلي او نه بل چاته څه ګټه رسوي، په دې خبره پوهېږي چه پیسې د ښځو او یا هم داسې ئې ګټې برېښو د او دپاره نه دي، انمړي باید پیسې وچلول شي چه ګټه وکړي او ګټه ئې بیا باید خاص د ځان دپاره صرف نشي د خپله هنر ملګو او هموطنانو دپاره هم په کار واچول شي:

خوشحال په دې ځای کښې غواړي چه دیوه اقتصادي معلم په حیث پښتنو [illegible] ته دا خبره وښئي چه دوی پیسې ښځې نکړي او بې چلولو ئې بې ګټې زړه دي، نو ځکه ئې په نورو اشعارو کښې وویل:

هغه زر تر کاڼي لوڼي لا بتر دي — چه ئې ومندي په ځمکه نه خو ځېږي

چه او به په ځای حصار نې نوري خساشي

سفا ئې نې هم په داده چه بهېږي

[illegible] دا چه وائي زه زرو ځښتن یم مقصد دا دی چه زر باید دومره وزده نه تړل شي چه په میندوئې سړی کافر شي او یا ئې ځای تر زړه کښته وي، بلکه زر باید دېته ژوند دپاره موبېسیالوی، داسې نه چه ژوند د پیسو د او دپاره رسیدلی شي، که دوی خوشحال خان زر د سردارئې او مشرتوب دپاره مومېږي ولي له دې چه وائي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه زړلړی یه کور کښې | بېځما له شي سرداري
دوستي ئي بله چېرته ده | بله نسته ده زرداري

بل ځای وائي :

اوس په سپینه ږیره زړغواړمه خوشحاله | که په زده لري دعوي د سرورۍ

دا چه دی وائي زه زړبه خیال لاس کښې نه ږدم هم ئې غرض دا نه دی چه بې لاري او بې ځایه باید ثروت یا پیسې مصرف شي ، بلکه خوشحال خان خپل دولت د نورو د آرامۍ دپاره غواړي او دا د هر حساس او بیدار دولتمن وجداني وظیفه ده ، دی وائي :

لا به کله مغه ګنج ور کوي بخته !
چه خوشحال به ئې په پلو په سپرو خوري

دا ځکه ما وویل چه خوشحال خان دا سراف او بې ځایه خرڅ طرفدار نه دی ، ځکه چه بې ځایه مصرفونه اکثراً یاد قیمتي دپاره وي ، او یا د بې ځایه عیش و عشرت دپاره ، مګر خوشحال له دې دواړو مخالف دی وائي :

د مې دانو د خپل شرم کاروبار دی
نور ئې هر څه له خاطره فراموش دی

د زنا او په حساب دی هر ځان وشه
چه له زیبه له زینته هم آغوش دی

شري ورېښمون په سل په د ګنه بوسي ،
کشمیري چه بغر ګنشالونه ئې په دوش دی

خوشحال خان د پیسو سره هنر او پوهه غواړي او د پیسو لګن هم پابند د پوهې او لاري وي ، که دا نه وي نو نه د چا مال ته ګوري او نه د چا ذات او حسن ته ، دی وائي :

چه شرم ننګ ئې نه وي نه هنر لري نه پوهه
په مال ئې نظر مه کړه مه په حسن مه په ذات

مګر البته خوشحال خان زر، دولت او بډائي دنیا نامه د پاره غواړی او ددې د پاره ئې په کار دی چه خلقو ته ګټه ورسوی نه ددې د پاره چه ګور ته ئې یوسي، او ورشیا هم زر څه توره همتالرئ، یا د دخان، یا ده دوطن، د ساده د همتو عالو د پاره خو خیږي، ددی وائي .

که په کور راشي زر ګونه — هسې در دمي لوړ په لوړ

خیل پوش په اوس نور ډکړ — که مې نور ډکړ هیڅ مې نور

که د دنیا تر لاسه راشي — خزانې ددر ست لا هسور

تار به تار به ئې خیږي ګرم — خان به نه ګرم د پخور

زر د نسوم د دنیا ره خپه دی — هیڅ به کار نه دی به کور

حتی خوشحال خان د همتاو بند ئې پالاره ئې دی حدته و سپړنی چه تر مرګه وروسته خان ته دومره ګالی نه غواړی چه مړ د هشوي ته پاتې شي، وائي :

چه ګالي ئې پاتې نشي مړ د هشوي ته — خدایه ورې زړه خوشحال هسې د ساده

بل ځای خپل مرګ داسې له خدایه غواړی :

مرګ د مړدان وا، په بستر مې مه وژنه — مومن مې وژنه کافر مې مه وژنه

چه په میراث مې لقاب حساب شي — هسې غو ولي توانګر مې مه وژنه

خو سره له دې ټولو بیا هم خوشحال خان د زړو او ثروت له اهمیت څخه منکر نه دی او د زړو د پاره ئې ډیر مهم ځای ګڼي، لکه چه وائي :

هیڅ کار نشي بې له زرو — چه پېرې د پېه هیڅ مه زره

ګرم څه نه دی د او ګړی — که پېرې دنیا سي لېه

چه سپین و سره پېرې ور کا — هغه کبل کا سپینه خواله

هم زر دی که ئې ګوري — چه به غره بیا بې او ده

که هر څو له تا زده بد وي — بیا به زرو و غېږي زده

خدای و رسول سره خپلیږي — په زر نسو دې چار ي څه

بهدې ترتیب سره خوشحال خان د کار او زیار وسعت او لګښت بیا یې لهر سوی

نتیجه :

---

له دې برخې څخه موږ دا نتیجې اخیستلای شو :

۱: - ښځانه باید کار و کړی څو پیسې پیدا کړی او به ایمان شی .

۲: - چه پیسې ئې پیدا کړې هغه به تر ځکایې نه لاندې کوی او نه به ئې ځای پر ځای دروی ' چلوی به ئې څو ګټه و کړی .

۳: - ګټه به ئې هم په خپله خوری ' هم به ئې قوم ته ورکوی او هم به ئې د وطن د ودانۍ لپاره مصرفوی .

۴: - پیسو او بدانئ ته به په بده سترګه نه ګوری ' مګر البته پیسې به د وسیله وی نه غایه ' پیسې او بدانئ به د ژوند دپاره غواړی ' نه ژوند د پیسو غوټي واله دپاره .

۵: - پیسې او بدانئ بې له رحمت ابستلو او بې له کار کولو څخه په بل ډول نه پیدا کېږی که پیدا شی ' بقا نه لری ' خو د کار په باب کې ښښتنو ته وایی :

که غونې پیسې وهې په لاس به درشی
چاوي داچه په درباب کې ګوهر نشته

خوشحال وايي :

# (۸)

# د ښځو حق وپېژنئ!

پښتنې جونه مې وليدې په سترګو
خوک چه ترکي د خدا ستايي خطا دي

خوشحالخان خو د خطا تر کو هم پښتنې نجونې لوړې ستايي، مګر ايا نور پښتانه هم په دې عقيده دي ؟؟

بيا لې چه پخوانۍ پښتنا نه په وو، مګر او سني پښتنو ته چه ګورو نن يوازې په دې عقيده نه دي، بلکه پښتنو نجونو او ميرمنو ته په ډېره بده سترګه او د حقارت په نظر ګوري، پښتانه ورته داسې نه په قائلېږي. که دوی خپلو عمو اعمالو او چارو ته پوره نظر و کړي، چه دوی د دې بې وزلې طبقې په حق لپې مرتکب کېږي، نو هغه وخت به په خپله تصديق و کړي چه د دنيا په انسانانو کې يوازې پښتون قوم دی چه په اوسني عصر کې د دې طبقې مشروع حق پايمال کوي او هغه حق چه قدرت، انسانيت، اسلاميت دوی ته قايل شوی دی په خوارا سنګدلۍ له دوی څخه ګرزوي.

پښتنو! راشئ سر ګريوان ته کړئ، وګورو چه موږ د خپلو ښځو سره څه وضعيت کړو؟

تعليم: په زيږېدو خوا بدي کېږو، چه نجلۍ لږ څه لويه شوه (سره د دې چه د خداى رسول راته فرمايلي چه « العلم فريضة على كل مسلم ومسلمة » او علم ئې په هر نر او ښځې فرض بللی) بيائې هم موږ د يوه بې او علم له لارې راګرزوو، دا را ته بده ښکاري چه زموږ نجونې د ګډا والی له ښځې څخه اوسته ولولي، او بې غيرتي ئې بولو، مګر په دې هيڅ غيرت نه راځي چه په نجونو غوا بيايو او خره يې څروو ! !

هغه کار چه خدای فرض کړی دی نه کوو، او هغه چه خدای نه دی فرض کړی کوو؟! نجونې موږ علمه نا پوهې اود ژوند له کاره او اصولو بې خبره لوئې شی، علم لا څه چه د خپلو کالو ګنډل او پاك ساتل ئې هم زده نه وی؟ چه پېغلې شې او د مړوښې وخت ئې راشی، نو ئې د حېوانانو په څېر خرڅوو، خدای (ج) وائې چه په مړوښه او ازدواج کښې د نر او ښځې رضا شرط ده مګر اکثره پښتانه بې له دې چه د پېغلې څخه پوښتنه هم وکړی او یا د هغې خوارې راتلونکې ژوند ته فکر وکړی پر خپل سر ئې د غوا یا خرې په شان خرڅوی؟! کاشکې په دې بې رضائی کښې هم د خپلې خور او لور د راتلونکی ژوند خیال ورسره وی؟! د هغې خیال چېرته دی، خو بوازې د خپلې ګېډې او جیب غم ورسره وی چه د خوینډو او لونو په غوښو ځانو نه ماړه کړی. دا فکر د دوی سر ګې داسې ننوتې کړی چه نور ئې نو نه اسلامیت په یاد وی او نه د انسانیت څه اندېښنه ورسره وی، چه پیسې ئې ګورته راشی، نو د خوارلس کلو نجلی له کره باسی او د شپېتو کلو بوډا په ګور ئې ننه باسی دا خدای دی چه خوشحال خان د پښتنو دا ظلم او د هغو بوډا ګانو دا قباحت او نا پوهی چه ځوانې ښځې کوی په ډېر بد نظر ګوری او دا چه ځنې نا پوه سپین ږیری خیال کوی ځوانې نجونې به د پیسو او ثروت په زور د ځان کړی غلطه نابتوی، هو ازاده بوډا ګان د زر او په زور نجنې اخیستلی شی مګر د ځان ګولای ئې نشی، د خوشحال خان په عقیده که زوړ سړی پاچا هم وی خو د ځوانې پېغلې ته ورسره لګی، دی څه په وائی:

چه په سپینه ږیره کا ځوانی نکاری
په خپل ځان باندې به کا ځنې چاری
که په خوله د زاده یار تر سر جارېږی
په زړه نه وی ځوانی هیڅ د زاهد یاری

نیك وبد به دا جهان کښې پیدا کېږي

نېك و بدې دزاده نه دي وېزاري

خوښه ځوان دځوانی ښځې به غرض وي

که پادشاه وي دزاده نه دی ازاري

اوس به خپلو زړو خوښ اوسه خوشحاله

دا ددور ځوانی مکړه نـا به کاري

همه بوډا ګان او سپین ږیري چه دپیغلو او ځوانو ښځو دغولولو دپاره ږیري په رنګ توروي او یا ئې رنګوي دخوشحال په نظر به اوی احمقان دي، تر دې کار دی ږیري خړیل او کلول ښه ګڼي لکه چه وایي :

د خضاب ځوانی دچاده دا حمق ده

تر دا ګله ږیره ښه به ښه نائی ده

لنډه دا چه خوشحال خان ددې خبرې سخت مخالف دی چه سپین ږیري سړي ځوانی وکړي، دی وایي :

هر څوك چه چن کار به سپینه ږیره — هر سپین و ږیرته ئې نیره فرتیره

د همې جنې دی نـر زده وتـلې — درته مې ووې واوره به ځیره

بل ځای وایي :

سړی چه ځوان وي د نجونو خان دی

زوړ ئې به خندګ کښې لکه سوهان وي

زاړه له ښه کا نجونې دې نه کا — چن دې هاله کا که دې سلطان وي

خوشحال خان چه داوسیتونه کوي په دې وخت کې دی به خپله هم سپین ږیری دی او خپل ځان هم له دې قبیح کار څخه داسې منع کوي :

اوس د نجونو هوس مه کوه خوشحاله !

پښتنۍ نجونه تر هېږي له دوه مو به

خوشحال خان چه زوړ شوی دی، د ځوانۍ هوسونه د ځان سره وړنه ګڼي او دا نه یوازې ځانته وایي، بلکه د هر سپین ږیري د پاره د عبرت درس دی چه وایي:

که ښې ښې ځوانه که لباسونه دي کښېږه بازونه که ښه آسونه دي
خوشحاله زوړ شوې اوس دا هوس مکړه
د ښو ځوانانو د اهوسونه دي

مګر دا خو هاله کېږي چه ځواک د خوشحال خان خبره ته غوږ کېږدي حال دا چه ځني ساده ګان ښځانه د اور او خورحر ځوا او په کار کې د خدای او د رسول قول ته غوږ نږدي خوشحال خان اوزه لا ځواک یو؟ خو بیا هم د بل د خوشحال وظیفه ده او اور بدل د ښځتنو، او هر ځواک به خپله وظیفه ادا کوي.

د ښځو په سر یو ازې داغم نه دی، بیا چه د مېړه کورته ورسي لاسل غمونه نور نوی شي، دوه کاله پس دوې ښې پیدا کړي، ځکه چه دا خو د ښځتنو خصوصاً د ښځا یانو ښځتنو یو جنوني هوس دی چه ضرور به څلور ښځې پوره کوي دا هغه ځای دی چه د ښځتنو خانان او بیا یان د قر آن په نیم آیت عمل کوي او نیم ئې د سره اوري نه وایي چه خدای څلور ښځې راته روا کړي، مګر دا نه وایي چه د ښځو تر منځ عدالت هم فرض شوی دی که ښځانه خانان او بیایان وایي چه مونږ عدالت کوو، دا نو بیا داسې خبره ده چه هیڅوک ئې باور کولای نشي. ایا دغه داسې او دوه کاله د مخې ښځې ته یو شانګ یو شان ور کوي؟ ایا په برابر نوبت د نو او ښځو کور ته ورځي؟ ایا زړه ښځه شړلي غوندې نه ګڼي؟ ایا دېر بدایان داسې نه وي چه نوې ښځه راولي زړه له کوره باسي؟ ایا دیوې ښځې د وړ دېد د بلې تر لاس نه وي؟ ایا یوه سیاه بخته بله سپید بخته نه بولي؟

دالاخره چه په ښځې داسې قیدونه زدي چه نه یوازې په اسلام کې

روانه دي بلکه کفر هم په بده سترګه ورته ګوري، ډېر معتبر پښتانه خپله
ښځه د ښځې د پلار کره هم نه پرېږدي او د دوی خیال دا وی چه ښځه له کوره
ووتله ضرور فاحشه کېږي حال دا چه د ښځې ښه والی او بد والی د کور په
وتو پورې څه اړه نه لري، ډېرې ښځې دي چه په کورو کښې بدېږي او ډېرې
پښتنې کوچیانې دي چه پر دښتو پاکلمنې دي، خوشحال خان د پاکدامنې ښځې
په باب کښې څنګه ښه ویلي دي:

که کښېږده په بازار شي په کوڅه کوڅه چاروزي
د پاکو پاکدامنو ستر جوړ دي رسا نسي

چه پاکه پاکدامنه په حیا پسه د پسن مینه
د مړ د په کور کې کښېني مړ دي کاندي کامراني

بالعکس د بدې ښځې په باب کښې وایي چه که په دېوالونو کښې هم حصار
کړه شي بیا به لاهم خپله بدي ښکاره کوي، وائي:

سپي چه سپي شي سپي خپل ځان اره پیدا کا
څه سود که بده ښځه په دېوال کړې زنداني

ښه او بد هم په نارینه او هم د ښځو کې شته نو لکه چه له یوې مخې ټولې ښځې
یا ټول نر بد ګڼل غلط دي همداراز ټول نر ښه ګڼل او ټولې ښځې بدې شمېرل
ظلم او له انسانیته لرې خبره ده، پخوانیو پښتانه داسې نه و، هغو ښځو ته په
خورا درنه سترګه کتل، د خویندو او لوڼو غوښې یعنې واوروته ئې نه خوړل
ظلمونه ئې نه باندې کول، حتی د ښځو «پلوه» په پخوانیو پښتنو کښې ډېر
قدرمن ؤ، چه د دوو قبیلو په جنګونو کوم وخت چه به د ښځې پلو منځ ته راغی،
جنګ ختمېده حتی بدکارو غلو لاهم د ښځې احترام ساته، په هغه قافله کښې
چه به ښځه وه په هغې ټولې قافلې ئې غرض نه کاوه، نېړو پښتنو ښځه د کور
څراغ بلله او د کور بدبختي او نېکبختي ئې د دې په پلو پورې تړلې ګڼله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چه پښتو متل کاوه چه «یانیك پلو بانیك چلو !» دوی به په پښتنی صفاتو متصفه پښتنه مېرمن غوښتله، چه خوشحال خان داصفتونه داسې بیانوي:

ښځه بویه هسې ښه کړه خندا رو یه مهر چنه
یا کېږه په زېست روز کار کښې په ښه بوی بالدې مینه

د صحبت په رموز پوهه، زده ئې خلاص له مکره دروهه
کم خورا که، خوش پوښا که، همېشه ناسته دننه

له نیکانو همنشینه، له بدانو په زړه خپه دېښمنه
له مور والی نې توبه کا، که ئې مودوی درو غېښنه

دمېلمه په کار حاضره، په پخوالې پسې دره
حق د چارې په ځای راوړی، په رنځور بالدی پوښتنه

یا کېږه ئې د کور صحن، نه په غولی کښې لور لحن
پوستاری تری خوشنو دی ښه دهر چاپه ستا تنه

که دا هسې څوك پیداشي، دخوشحال په لاس راشي
هیڅ تقصیر به ئې ونه کا دیاری ئې په پالنه

خوشحال خان خو داسې پښتنو مېرمنو پاری پالله، مگر اوسني ځنې پښتانه پاری لاخه چه که څه هم داسې صحیح مېرمنې ئې په کور کښې وی دسره په وزین تندی لاور ته گوری هم نه:

خودا پښتانه باید وپښ شی، دنیا ته وگوری، په اوسنۍ دنیا کښې ښځې دنرو ملگرې وی او په ډېرو کارو کې دنرو سره اوږه په اوږه ولاړې وی کارکوي دانسانانو اجتماعی ژوندانه او ښځو دواړو ته اړدی ښځه او نرلکه نور او حرارت لازم او ملزوم دی هیڅ سره جلا کېدلای نشی که ښځې دنرو سره ملگری ونه کړی نو به هیڅ کار کی کامیابېدلای نشی همدا سبب دی چه خدای تعالی جل شانه په قرآن کریم کې فرمایلی دی:

« هن لباس لکم وانتم لباس لهن » (ښځې ستاسې لباس دی او تاسې دښځو لباس یئ ) لدې آيته څخه دښځې او نريو بل ته ضرورت ډېر ښه واضح څرګندېږي اميد شته چه پښتانه به هم دې طبقې ته دقدر په سترګه وګوري ، ددوی ترقی ته به توجه وکړي ، علمي سوبه به ئې اوده کړي او په ژوند کښې به ئې دخان ملګرې وګڼي ، دلور ، خور دخرڅولو او په جبر ور کولو څخه به لاس واخلي ، او په آخر کې به دښځو هغه مشروع حق ور کړي چه اسلاميت انسانيت او مدنيت ورته قائل شوي دی او نوره به نو دا طبقه همداسې مظلومه او بې وزلې نه پرېږدي ، که نه دې هغه خدای به چه ښځو ته ئې حق ور کړی دحشر په ورځ له پښتنو څخه ددوی په وجه سخت باز خواست وکړي .

نو ای پښتنو ! دخوشحال خان خبره ومنئ چه وايي :

« دښځو حق وپېژنئ ! »

خوشحال وايي :

# (۹)

# خپله ژبه مه هېروی[٤]!

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده — پارسي هم ډېره په خوند خوږه ده

چا ئي پلو د جمال وانه خیست — پښتو لا هسې بکره پرته ده

بو ځوك چه ځان پښتون ګڼي او ياد پښتونولۍ دعوه کوي، خو د پښتو سره علاقه نه لري دا ډېر د شرم او د پېغور ځای دی او که ئې پښتو زده نه وي. داخو د مرګ او بېست خبره ده. ځکه چه په دنيا کې هر قوم په خپله ژبه پېژندل کېږي، د يوه انګرېز که انګرېزي ژبه نه وي زده نو هغه ته به ځوك انګرېز ووايي؟ همداشان که د کوم پښتون پښتو زده نه وي نو ځوك به ورته پښتون ووائي؟ بلکه پښتو واله خو د انسانيت د پر مزايا او ښېګڼې چه د يوه کامل انسان دپاره دي، د «پښتو» تر عنوان لاندې راولي، او کوم پښتون ته چه ووېل شي «ته پښتو نه لرې» «بابې پښتو سړی يې!» ګويا له ده څخه د انسانيت اول اوصاف او مزايا واخستل شول، دا د پښتونوالي قانون دی، نو د کوم چه پښتو زده نه وي، اوده دنيا ورته پښتون ويلای شي،

ځکه نو خوشحالخان پښتون قوم دپاره دا خبره ډېره ضروري بللې ده چه خپله ژبه بېځنې هم زده وي او هم به ئې روزي، دی وايي چه د پښتون خپله پښتو نه وي زده او هغه نا پوه دی چه د بل ژبه زده کړي: ده ځني پښتانه ايدل چه هغه او ترا تر لاندې راغلي او غوښته ئې ځوك کې کلمې زده کړي دي هغوی داسې تشبيه کوي، ورته وايي:

چه په خپله افغاني ژبه نادان دی — په ترکي خبرې څه وايي افغان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه وخت ځینو پښتنو پیا د عربي ژبې سره دومره مینه او علاقه څرګنده وله چه پښتونې هم دومره کړې وه حتی سمې خبرې ئې نه غوښتلې چه په پښتو ئې ادا کړی، خصوصاً خطیبانو صاحبانو او مذهبی مبلغانو چه دا دستور تر اوسه هم په ډېرو کلیو ځایو او جامع ګانو کې جاری دی ، البته عربي زمونږ ډېره ښه ژبه ده ، مګر د یوه مبلغ یا یو خطیب غایه او مقصد خو د خلقو پوهول او عامو خلقو ته لار ښودل دی ، نو عوام خلق خو په عربی نه پوهېږی کلمات اروی، مګر په مفهوم ئې خبر نه دی چه خطیب صاحب څه فرمایی ؟ خوشحال خان هم دې خبرې ته ټینګار کړی دی ، نو وایی :

نه چه ما ته عربي خبرې وايي     د عربو ژبه څه زده ده عجمي ؟

ځینو پښتنو بیا د پارسی ژبه د ځان کړې ده ، چه حتی په سلطنتی دربارو کې ئې هم لوړ مقام او د خواږې پښتو ځای نیولی و او د پارسی ژبې په خدمت دومره لګیا وه چه پښتو ځینی ښې یا ته شوې وه ، خوشحال خان په عین حال کې چه د پارسی ژبې سره مخالفت نه کوی او د واړه ژبې د ډېرې ښې ستائی ، د پښتو د کم التفاتی څخه چه خپلې ژبې ته ئې لری شکایت کوی وایی :

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده     پارسی هم ډېره په خوند خوږه ده

چه ئې پلوه جمال وا نه خیست     پښتو لا هسې پسکره پر ته ده

دا ځکه چه خوشحال خان پوهېده چه نوری ژبې ځانته خدمتګاران لری نو لازمه ده چه پښتون او مېړې د خپلې ژبې خدمت وکړی او ژوندی ئې کړی بایه اوس نو پښتو ته موقع ور کړه شی چه دا هم د دنیا د نورو ژوندیو ژبو مرتبې او مقام ته ورسول شی ، خوشحال خان هم دا نکته درک کړې ده چه وایی :

پارسی شعر می هم زده سلیقه لرم د دوا رو

پښتو شعر می خپلی شو هر ځوك خپل ګڼی ښاغلی

پښتو ژبه مشکله ده د دې بحر موندنه نشي

هم ما لره یو څو بحره په ډېر منت ود راغلي

دانا به پرې پوهېږي د نا پوهو کار پرې نشته

دادی چه د بیان په تار خوشحال خټک پیېلي

کذاب دی که دا شعر لکه ده پښتو بیان کړ

که هسې وېل اوس شي یا پخوا دی چا وېلي

بل ځای په خپلو پښتو اشعارو داسې فخر کوي:

په پارسي ژبه که نور تر ما بهتر دی

په پښتو ژبه مې مه غواړه مثال

یا دا چه:

د پښتو ژبې ئې ډېره خوبي ور کړه

چه خوشحال کا په پښتو شعر آغاز

یا دا:

د خوشحال خټک په ژبه بر کت شه

چه وېل کا به پښتو لسه هره بیانه

مګر په عین زمان کې د نې یروا پښتو څخه ډېر ګله من دی چه دوی

خپلې ژبې ته توجه نه کوي او په خپله پښتو نه پوهېږي دی وائي:

که زما ژبه پښتو ده          په پښتو وایم خبري

یو پښتون را نه ښکار نه پېږي          چه پرې پوه شي اثر دې لري


په خوږ زوالي کي اې فرقدي — به تر ګوډو دي شکري
ګمبېغمه اسري مچېبه — د نېکۍ اسري بسمېري
له يوه دربابه خپږي — هر غنچې مې غلري
تفاوت ئې تر منځ د پردي — په قيمت دي سره لري

په دې دول د پښتو خوږ ژالي پاي ته رسوي اوله دي ټولو څخه د خوشحال خان غرض همدا يوه جمله ده چه پښتونوته وايي :

« خپله ژبه مه هېروي »

• • • ◆ ◆ • • •

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشحال خان قبر چه په کابل کښې د پښتو ټولنې، له خوا د افغانستان
د ښکلو ډبرو څخه جوړ شوېدی چه دوه کاله دمخه هلته د خوشحال خان
پر هديره ښودل شوېدی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د «بېنوا» نور چاپ شوي آثار:

۱ــ میرویس نیکه: د هوتکو د شهنشاهۍ د مؤسس د ژوند حالات او واقعات،

۲ــ پښتنې مېرمنې: د افغانستان د نومیالیو مېرمنو تذکره.

۳ــ ادبي فنون: دا لاندې علوم په پښتو بیان شوي او تطبیق شوي دي:
بدیع، بیان، معاني، د لیکنې اصول، خطابه، قافیه، عروض.

۴ــ چند آهنگ ملي: په فارسي ژبه د پښتو څو آهنګونه سره د نوټونو ـ چه
هر آهنګ په نوي عصري اصولو سم ور سره نوټ هم لري،

۵ــ د غمو وزې: دا یوه منظومه رساله ده چه د اعلیحضرت احمد شاه بابا
د تاج پوشۍ منظره تصویر شوې ده.

۶ــ د دار مستتر پښتو ځېړنې: (د حبیبي په مرسته)

۷ــ م کیتان جلي ترجمه: دا کتاب د هند د مشهور فیلسوف ټاګور ادبي
کتاب دی چه له اردو ژبې څخه ترجمه شوی او په انیس کی
چاپ شوی دی.

۸ــ د پښتو کلي څلرم توك: دا د پښتو بر لنس د سلسلې څلرم کتاب دی.

۹ــ د پیر محمد کاکړ د دیوان تدوین، تصحیح او مقابله.

۱۰ــ د رحمن بابا د دیوان تدوین، تصحیح او مقابله.

۱۱ــ نظری به پښتونستان: یوه وړه پښتو رساله ده چه په دېر اند دول ئې
پښتونستان معرفي کړی دی.

۱۲ــ د اقبال د مسافر ترجمه: د علامه اقبال د مسافر کتاب په پښتو نظم ترجمه
شوی او په انیس کې چاپ شوی دی،

۱۳ــ پښتونستان ـ د پښتونستان د معرفۍ په باب کی مفصل کتاب دی چه
اوس تر چاپ لاندې دی.

که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي پیدا ځوان

«خوشحال خټک»

د پښتو ټولنې له خپرو تر شمېره

(۹۸)

[illegible]

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**